
اسلامي امارت

مونږ ته څه راکړي؟

دسیاسي، تاریخي او فکري مقالو ټولګه



مرتب:
حافظ نور احمد سعید

اسلامي امارت

مــوږ ته څه راکړي ؟

د سیاسي، تاریخي او فکري مقالو ټولګه

مرتب:

حافظ نور احمد سعید

دکتاب ځانګړتیاوې:

نوم: اسلامي امارت موږ ته څه راکړي؟

لیکوال: بیلابیل څېړونکي او قلموال


مرتب: حافظ نور احمد سعید

چاپ وار: لومړی

تیراژ: ۳۰۰۰

دخپرونو لړ: ۲۱

خپروونکی: د ا،ا،ا فرهنګي کمیسیون دتألیف او ترجمې اداره




بسم الله الرحمن الرحيم

لړليک

بســـــم الله الرحمن الرحيم

اسلامي امارت موږ ته څه راکړي؟

د خوښۍ ځای دی چې (اسلامي امارت موږ ته څه راکـړي؟) پـه نـوم ارزښـتمن اثر ټولنې ته وړاندې کوو.

په دې کتاب کې دګران هیواد د ډېرو څه کم درو لسیزو سیاسي، نظـامي او ټـولنیز موضوعات را غونډشوي او پـه ځـانګړې توګـه داسـلامي امـارت دتاسـیس دعلتونـو، ضرورتونو او لاسته راوړنو په اړه جالبې او ګټورې مقالې پکې ترتیب شوې دي.

د کتاب منځپانګه تر ډېره داسلامي امارت هغو لاسته راوړنو تـه ځـانګړې شـوې چې دښمن هم اعتراف ورباندې کوي.

اسلامي امارت افغانستان او افغان ولـس تـه پـه مـادي او معنـوي لحـاظ ډېـر څـه ورکړي، زموږ له انفرادي او اجتماعي حقونو یې دفاع کړې، زمـوږ د عـزت، سر او مـال ساتنه یې کړې او په ټوله کې یې زموږ ملي او دیني ګټې، ارزښتونه او حقونـه سـاتلي او په دې برخه کې یې هر اړخیزې هڅې کړې دي.

د تألیف او ژباړې اداره ددې کتاب له ټولو قدرمنو لیکوالو څخه ځانګړې مننه کوي چې خپلې ارزښتنمې لیکنې یې پر وخت اداري ته راولیږلې او له الله تعالی څخه لاښه خدمت او موفقیت ورته غواړو.

(اسلامي امارت موږ ته څه راکړي) یوویشتم کتاب دی چې دتألیف او ترجمې اداري له لوري دچاپ په ګېڼه پسولل کیږي. دتالیف او ترجمې اداره د خپلو امکاناتو په چوکاټ کې د نورو جهادي، تاریخي، سیاسي او ادبي کتابونو دچاپ پلان هم لري.

ان شاء الله العزیز

دافغانستان اسلامي امارت

د فرهنګي چارو کمیسیون

دتألیف او ترجمې اداره

۱۴۴۰، رمضان المبارک\۱۳۹۸، ثور\مئ، ۲۰۱۹

دا کتاب یوه اړتیا او نوښت

اسلامي امارت موږ ته څه راکړي، په خپل ډول کې نوی او ارزښـتمن کتـاب دی. په دې اثر کې داسلامي امارت د تأسیس د لاملونو، اړتیاوو او لاسته راوړنو او همـداراز د اسلامي امارت د استحکام په اړه ارزښتمنې لیکنې او شننې راټولې شوې دي.

څومره چې اړتیا ده، هومره داسلامي امارت په اړه څه نه دي لیکـل شـوي او کـوم څه چې بیا لیکل شوي تر ډېره هغو کسانو او ادارو لیکلـې چـې داسـلامي امـارت سره په فزیکي او فکري جګړه کې ښکېل پاته شوي دي.

دښمن په خورا لوړ قیمت داسلامي امارت دبدنامۍ لپاره مختلفې ادارې، رسنۍ او اشخاص ګومارلي. ددښمن له خوا استخدام شوي افـراد او ادارې شـپه او ورځ هڅـه کـوي زمـوږ مبـارزه پردیـو تـه منسـوب کـړي او دمجاهـدینو او ولـس تـرمنځ دنفـاق او اختلاف تخمونه وکري. دښمن ډېر کوښـښ کـړی او لا هـم لـه مختلفـو لارو لګیـا دی چې افغانستان او افغان ولس ته داسلامي امارت لاسته راوړنې پټې اوکمرنګه کړي.

خو ددې کتاب (اسلامي امارت موږ ته څه راکړي) ځانګړتیـا داده چـې داسـلامي امـارت دوینـدویانو (ښـاغلیو ذبـیح اللـه مجاهـد صـاحب او قـاري یوسـف احمـدي صاحب) په ګـډون د داسي لیکوالـو او څېړونکـو لیکنـې پکـې را یوځـای شـوې چـې دفساد او اشغال ضد مبارزو په مهال اسلامي امارت کې پاتـه شـوي، پیښـې او حـالات یې په خپلو سترګو لیدلي او مسایل یې په منصفانه ډول تحلیل او وړاندې کړي دي.

اسلامي امارت په داسي حالت او وضـعيت کـې حـاکم شـو چـې ټـول دولتـي او ملکي تاسيسات ويجـاړ او لـوټ شـوي وو. اسـلامي امـارت هيـواد لـه تجزيـې څخـه وژغوره، ارضي تماميت يې وساته، امنيت يې تامين کـړ، مرکـزي - اسـلامي حکومـت يې جوړ کړ، په کم وخت او کمو امکاناتو يې دمخابراتو، مطبوعـاتو، معـارف، صـحت او ملکي خدماتو په برخه کې زيات کارونه ترسره کړل.

دبېلګې په توګه دافغانستان له لارې دټـاپي پـروژې تطبيـق يـادولاى شـو، دټـاپي پروژې په اړه اسلامي امـارت لـه بيلابيلـو جهتونـو سره پرلـه پسـې ناسـتې او مـذاکرات وکـړل او بـالاخره پـه دې وتوانيـد چـې پـه همدغـه پـروژه کـې دشريکـو اړخونـو سره دافغانستان له لارې دهمدې پروژې دتطبيق بنسټيز توافقات لاسليک کړي.

اسلامي امارت دمخابراتو په برخه کې ډيرې اسانتياوې رامنځته کړې، داخـل کـې يې له يو ولايت څخه لـه بـل ولايـت سره او دبهرنيـو هيوادونـو سره دتليفـون او پوسـتې خانې په واسطه هيوادوال وصل کړل. د پام وړ داچـې اسـلامي امـارت هماغـه مهـال لـه افغان بيسيم شرکت سره يو تړون لاسليک کړ، چې پـه اسـاس يـې پـه لـومړي قـدم کـې دهيواد په ۱۴ ولايتونو کې ټليفـوني اسـانتياوې برابريـدې او هيـوادوال لـه بهـر سره هـم دمبايل فون له لارې وصل کيدل.

اسلامي امارت په کلنۍ بوديجه کې تر دفاع وزارت وروسته تر ټولو زيـات سـهم معارف وزارت ته ورکاوه. اسلامي امارت کنډو کپر سړکونه ځني ترميم او ځنـي يـې لـه سره په اساسي ډول ورغول. د کجکي، ماهيپر او درونټې بندونو او برېښـنا کوټونـو کـې يې دبرق توربينونه فعال کړل اود برېښنا دتوليدظرفيت او امکانات يې زيات کړل.

داسلامي امارت له لوري چې دمخابراتو، صحت، ملکي خـدماتو، مطبوعـاتو او دهوايي چلند او توريزم په برخه کې څومره کارونه شوي په دې کتاب کې يـې پـه اړه لـه ضمني يادونې پرته کومه ځانګړې ليکنه نشته.

په کتاب کې دمقالو وړانديوالی او وروسـته والـی دحوادثـو د پيښـېدو پـه تناسـب شوی، هغه مقالې چې دفساد پر ضد داسلامي امارت دمبارزې او لاسـته راوړنـو پـه اړه ليکل شوې، دکتاب په سر کـې را وړل شـوې او تـر دې وروسـته بيـا داسـلامي امـارت داشغال ضد مقاومت په هکله ليکل شوي مضامين را غونډ شوي دي.

اسلامي امارت موږ ته څه راکړي (کتاب) سياسي، تـاريخي، اجتماعـي او فکـري مسايل په ساده او خـوږه ژبـه وړانـدې کـړي، لوسـت يـې نـه يـوازې داسـلامي امـارت دتاسـيس اړتيـا، علتونـه او لاسـته راوړنـې پـه ګوتـه کـوي، بلکـې پـه فکـري لحـاظ موداسلامي امارت د رامنځته کيدو او پايښت په ارزښت او ګټو هم پوهوي.

الله تعالی دې دغه کتاب لار ورکو ته بـل مشـال وګرځـوي او مـوږ تـه دې توفيـق راکړي چې داسلامي امارت په ارزښت پوه شو او دمظلومانو او شهيدانو دهمـدې کـلا (امارت) د پايښت او قوت لپاره هر اړخيزې هلې ځلې وکړو. امين يارب العالمين!

په درنښت

نور احمد سعيد

د ګران هيواد د خپلواکۍ او د اسلامي نظام دقيام په هيله

۱۴۴۰، مبارکه روژه۱۲مه\۱۳۹۸، ثور ۲۷مه

د افغانستان اسلامي امارت ولې او څرنګه رامنځته شو؟

قاري سعيد زرمتی
ليکوال او مؤرخ

د افغانستان اسلامي امارت زموږ په معاصر تاريخ کې هغه پيژنـدل شـوی دينـي، ولسي، سـياسي اوجهـادي خوځښـت دی چـې لـه تيـرو دوه نيمـو لسـيزو راهيسـې د اسلامي نظام د حاکميت، دهيواد دخپلواکۍ او د فساد، فتنو، بـې عـدالتۍ، ګـډوډۍ او نورو اخلاقي او ټولنيزو بدمرغيو د محو کولو په مقصد مبارزه کوي.

د افغانستان اسلامي امارت چې نړيواله ميډيا يې (د طالبانو تحريک) بـولي، اوس د هيواد او سيمې په کچه يو اغيزناک او متداوم سياسي جريان ګڼل کيـږي، چـې پـه دې ليکنه کې ددې سياسي خوځښت د وجودي فلسفې او دا چې څرنګه تأسـيس شـو؟ پـه اړه لنډ توضيحات وړاندې کوو.

اسلامي امارت ولې؟

د يوه سياسي يا اجتماعي خوځښت د پنځيدو، ودې او بريا لپاره دوه عنصره مهـم او ضروري ګڼل کيږي.

۱ ــ قانوني، نظرياتي او اخلاقـي مبنـا، چـې دا بيـا ټولـو هغـو دينـي، کلتـوري او تاريخي دلائلو او مستنداتو ته شامليږي چـې پـر بنسـټ يـې د يـوه خوځښـت لـومړنۍ

ښېته ايښودل کيږي. خوځښت ته قانوني او اخلاقي مشروعيت وربښي او شتون يې پرې توجيه کيږي.

۲ ــ د ټولنيزو شرايطو تقاضا، معلومه خبره ده چې لوی خوځښتونه د سمارق (پوڅکۍ) په شان ناڅاپي او بې مقدمې نه راپورته کيږي. بلکې ټولنيز شرايط يې راپورته کيدو ته زمينه برابروي. څرنگه چې د ژوندانه د مسير حوادث د ځنځير د کړيو په شان د علت او معلول په رابطه سره پيوسته وي. نو د يوه سياسي خوځښت راپورته کيدل هم له وړاندې ټولنيز اسباب او مقدمات لري. راځئ دلته د همدې دوو مقدماتي عناصرو يا اسبابو په رڼا کې د اسلامي امارت قيام او حاکميت وارزوو تر څو د عنوان شوې پوښتنې ځواب په لاس راشي.

شرعي يا قانوني بنسټ

اسلامي امارت يعني د اسلام حکومت يا حاکميت په داسې ډول چې د واک چلولو معيار اسلام وي او د تقنين، قضاء او معارف په شمول د ژوند ټول عمده اړخونه د اسلامي هداياتو په رڼا کې رهبري شي، يوه معروفه شرعي فريضه ده. د قران کريم د آيتونو، نبوي احاديثو او د صحابه کرامو د اجماع په استناد ټول علماء کرام او د اهل السنة و الجماعة مذاهب په دې اتفاق لري چې د اسلامي حاکم يا امير ټاکل پر مسلمانانو فرض کفايي ده. د اسلامي سياست لوی علماء کرام لکه امام غزالي، علامه ابن خلدون، علامه ماوردي، علامه شهرستاني، امام نووي، علامه ابن حجر هيتمي، علامه شاولی الله رحمهم الله او گڼ نور علماء په دې ټکي متفق دي چې مسلمانان بايد شرعي امير يا حاکم ولري، تر څو اسلامي ټولنه رهبري کړي.

پر دې بنسټ د نړۍ د نورو مسلمانانو په شان په افغان مؤمن اولس هم دا لازمه او فرض وه چې د اسلامي نظام د جوړښت لپاره هڅه وکړي. د کمونيزم پر خلاف زموږ د مؤمن اولس جهاد که له يوې خوا د کمونيستي الحاد د محوې په مقصد ترسره

شو، یو بل ستر هـدف یـې د اسـلامي نظـام جـوړول او اسـلام د حاکمیـت منصـب تـه رسول و. له شرعي دلائلو علاوه د انساني عقل تقاضا هـم داده چـې پـه یـوه ټولنـه بایـد هغه مفکوره حاکمیت ولري کومې ته چې اولس اعتقاد لري. زمـوږ ملـت مسـلمان دی نو ځکه یې باید حاکمیت هـم اسـلامي وي. پـه همـدې کـې د ټـولنې د دنیـا او اخـرت خیـر، فـلاح او سـعادت نغښـتی دی. د اسـلامي حاکمیـت همـدا ارمـان د یـوه فکـر او تیورۍ په حیث له ډیـر پخـوا زمـوږ د مـؤمن اولـس او پـه خـاص ډول د علـماء کرامـو، مجاهدینو، مصلحینو او داعیانو په زړه کې پاتـه او تـر دې وختـه رارسـیدلی و. تـر څـو چې د اسلامي امارت مؤسس امیر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهد رحمـه اللـه همـدې نظریې ته د عمل جامه ورواغوسته او پـه دینـي کتـابونو او باایمانـه سـینو کـې خونـدي فکر او ارمان یې عملا تطبیق کړ.

د عامه وضعیت تقاضا

دنیا عالم اسباب دی او الهي تقدیر د ژوند پیښې د علت او معلول پـه مـزي تـړلي دي. په دې اساس چې په ټولنه کې کوم تغیر راځي، سیاسي یـا اجتماعـي خوځښـت او انقلاب پیښیږي نو له وړاندې شرائط ورته مهیا شوي وي. اسـلامي امـارت هـم لـه دې قاعدې مستثنی نه دی. که موږ د طالبانوداسلامي تحریک د لومړني پـاڅون څرنګـوالی څیړو نو لومړی باید له تحریک وړاندې حالت او هغـه زمـاني بسـتر مطالعـه کـړو چـې دغه اصلاحي حرکت په کې را منځته شو.

که مختصر ووایو کیسه داسې وه، چې زموږ مـؤمن اولـس د کمونیسـتي الحـاد او شوروي اتحاد د یرغل په وړانـدې څـوارلس کالـه مسـلح جهـاد وکـړ، یـو نـیم میلیـون شهیدان، همدومره ټپیان او معلولین، اوه میلیونه مهاجر او د هیـواد د کلیوالـو سـیمو او ښـارګوټو بشـپړ نړیـدل او تبـاهي د هغـو زیـانونو لـه جملـې وو چـې زمـوږ ملـت تـه ورسیدل. د دې جهاد ستر ارمان د یوه اسلامي نظام حاکمیت، په هیـواد کـې د سـولې،

اخوت، عدالت او يـوه سـالم او صـالح حاکميـت رامنځتـه کـول وو. مګـر د جهـاد پـه وروستيو کـې ځينـوتش پـه نامـه مجاهـدينو، فرصـته طلبـه او د قـدرت هـوس لرونکـو اشخاصو د اولس جهادي ارمان له خاورو سره برابر کړ. لـه کمونيسـتانو سره ايتلافونـو او د نورو مجاهدينو په وړاندې جګړو ته يې مخه کړه. دې حالـت د قـدرت د تصـاحب مسابقه ګرمه کړه او د ذات البيني نزاع، جګړو، فساد، ظلم، لوټمارۍ او قسماقسـم فتنـو دروازه يې خلاصه کړه.

ددې نامطلوب او ناوړه حالت له رامنځته کيدو څخه نه يوازې د هيواد پاتـه مـادي هستي لوټ او تالا شوه، بلکې په لويو ښارونو خصوصـا کابـل کـې د هيـواد تـاريخي، فرهنګي او معنوي پانګې هـم لـه ګـواښ سره مخـامخ شـوې، د خلکـو ژونـد، مـال او عزت ته خطرناک ګواښونه متوجه شول. په لسګونو زره خلک ووژل شول، يو ځـل بيـا د مهاجرت لړۍ پيل شـوه، هيـواد د تجزيـې لـه خطـر سره لاس او ګريـوان شـو. پـه هـر ولايت او سيمه کې مستقلې او موازي واکمنۍ جوړې شوې، د قومي، ژبنـي، سـمتي، فرقوي او تنظيمي تعصباتو په بنسټ خپل منځـي جګـړو زور واخيسـت چـې هيـواد او هيوادوال يې د مطلق سقوط او تباهۍ له ګواښ سره مخامخ کړل.

د ملوک الطوائفۍ او ګډوډۍ په داسې حالاتو کې طبعا يـوه اصـلاحي حرکـت تـه اړتيا محسوسيږي. خلک يو داسې غږ تـه پـه تمـه وي چـې د حـاکمې بـې نظمـۍ ټغـر ورټول کړي. ظالمان د خپل عمل په سزا ورسوي، د مظلوم اولـس اوښـکې ورپـاکې او د آرام ژوند شرايط ورته مهيا کړي. د اسلامي امارت مؤسـس اميرالمـؤمنين مـلا محمـد عمر مجاهد هغه څوک و چـې د حـاکمې ګـډوډۍ پـه تـورتم کـې يـې د يـوه اصـلاحي خوځښت غږ پورته کړ. عـام اولـس او د ټـولنې اغيزنـاک اقشـار پـه خـاص ډول علـماء کرام، طالبان، جهادي قومندانان او مصلحين چې د ملت او هيـواد غـم ورسره و، د مـلا صاحب غږ ته لبيک ووايه. ټول ورسره ودريدل او د حاکم فساد او ملـوک الطـوايفۍ پـه

وړاندې مبارزه پیل شوه. دغه مبارزه چې د افغانستان له جنـوب کنـدهار ولایـت څخـه پیل شوه، ډیر ژر یې شهرت وموند او د هیواد د اکثره ولایاتو خلکو یې خپلو سـیمو تـه د پراختیا غوښتنه وکړه، د تحریک له مشرانو سره یې رابطـې وکـړې، هـر ډول همکـارۍ ته یې آمادګي وښوده تر دې چې د اولس په بشپړ ملاتړ دملا محمـدعمر مجاهـد رحمـه الله په مشري اسلامي خوځښت د هیواد ټولو سیمو ته ورسید او د ملـوک الطـوایفۍ او هرج و مرج تغر یې ټول کړ.

اسلامي امارت څرنګه رامنځته شو؟

اسلامي امارت د بل هر سیاسي یا جهادي خوځښت په شـان پـه تیـرو ۲۵ کلونـو کې خپل بشپړتیایي یا تکاملي مراحل طی کـړي دي. چـې دغـه بهیـر پـه دریـو مراحلـو تقسیمولی شو.

لومړی: د تأسیس مرحله

د فساد او هرج و مرج په وړاندې لـومړنی خوځښـت د ۱۳۷۳ لمریـز کـال د اسـد په میاشت کې د کندهار ولایـت د میونـد ولسـوالۍ د سـنګ حصـار لـه سـیمې څخـه د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد په مشرۍ پیل شو. د نوموړي په مشرۍ لسـګونه طالبـانو چې یوازې پنځه تنه یې مسلح وو. د میوند ولسوالۍ د مرکز کشـک نخـود پـه خـوا روان شول. هلته یې د یوه پخواني ښـوونځي پـه ودانـۍ کـې مرکـز جـوړ کـړ او د کنـدهار ــــ هرات په لاره د پوستو، پـاټکونو او مضـــرو ټوپکیـانو د شـړلو کـار یـې پیـل کـړ. د دوه میاشتو په جریان کې یې له دعوت او زور څخه په اسـتفاده لـه میونـد، ډنـډ او شـاوخوا سیمو څخه ټوپکیان وشړل او لویه لار یـې د خلکـو پـر مـخ پرانیسـته. د همـدې کـال د میزان په ۱۷ نیټه یې د کندهار د سرحدي ولسوالۍ بولـدک پـر خـوا تشـکیلات وکـړل او د بولدک له تصفیې وروسته یې د کندهار ولایت مرکزي ښار هم پـه بشـپړ ډول تـر خپـل واک لاندې راووست.

د کندهار په تصفیه کولو سره په دې ښار کې د څو کلنو تنظیمـي جګړو، فسـاد، ګډوډۍ او بې امنیتـۍ سلسـله پـای تـه ورسـیده اولـس د آرام سـاه واخیسـته. دا خـبر د هیواد په لراوبر کې خپور شو او له ګاونډیو سیمو کنـدهار تـه د علـماء کرامـو، جهـادي قومنـدانانو او مخـورو پـلاوي راغلـل. د هغـوی پـه غوښـتنه د طالبـانو او مخلصـو مجاهدینو دغه بهیر د روزګان، هلمند او زابل خواته حرکـت وکـړ. او د څـو میاشـتو پـه ترڅ کې تر کابل، لـویې پکتیـا او فـراه پـورې د هیـواد ډیـرې نـورې سـیمې لـه مفسـدو ټوپکیانو تصفیه او د اسلامي واکمنۍ په رڼا منورې شوې.

د ۱۳۷۳ لمریز کـال پـه وروسـتۍ نیمایـي او ۱۳۷۴ لمریـز کـال پـه جریـان کـې اسلامي تحریک د هسته ګیرۍ او پراختیا په حال کـې و. د ۱۳۷۵ کـال لـه رابریـدو سره د افغانستان تر نیمایي زیاته جغرافیه د اسـلامي تحریـک تـر واک لانـدې راغلـې وه. پـه همدې کال دهیواد پلازمینه کابل او د هیـواد شرقـي او ځینـي مرکـزي سـیمې هـم فتحـه شوې او په دې ډول د هیواد مطلق اکثریت سیمې تر یوه نظام او فرمـان لانـدې متحـدې شوې.

دوهم: د واکمنۍ مرحله

د ۱۳۷۵ لمریز کال په لومړیـو کـې پـه کنـدهار کـې د علـماء کرامـو یـوې لـویې اجـتماع اسـلامي امـارت د افغانسـتان رسـمي او قـانوني حکومـت وګاڼـه او د دې خوځښت مؤسس ملا محمد عمر مجاهد ته یې د امیر المؤمنین لقـب ورکـړ. د همـدې کال په میزان میاشت کې چې د هیواد پلازمینـه او ډیـرې نـورې سـیمې فتحـه شـوې نـو اسلامي امارت د نړیوالـو قوانینـو او مقرراتـو لـه مخـې هـم لـه خوځښـت څخـه د یـوه حکومـت یـا دولـت مرحلـې تـه پورتـه شـو. پـه دې ډول پـه هیـواد د اسـلامي امـارت سرتاسري واکمني پیل شوه.

د واکمنۍ په دوره کې د افغانستان اسلامي امارت وروسته له ډېرو کلونو یو ځل بیا د دیني حاکمیت، شریعت او اسلامي عدالت هیر شوي مفاهیم راژوندي او عملا تطبیق کړل. له وعدې سره سم یې اسلامي نظام رامنځته کړ. د جهاد او هجرت د مرحلې ارمانونه یې پوره کړل. د حکومتدارۍ ټول بنسټونه، قوانین او اجراآت یې اسلامي کړل. قضاء، معارف، فرهنګ او په نورو ټولو برخو کې یې د اسلام له لارښوونې سره سم لازم اصلاحات راوستل. د غلو، ټوپکیانو او جنایت کارانو کمپله یې ورټوله او یو مثالي سوله ییز نظام یې رامنځته کړ. په عمراني او رفاهي برخه کې یې د پام وړ خدمات وکړل او په سمتونو ویشل شوي افغانستان ته یې یو ځل بیا متحد تشخص وروباښه.

په معاصر تاریخ کې د اسلامي امارت د واکمنۍ دوره یوه استثنائي دوره ګڼل کیږي. هغه دوره چې هیواد مو په بشپړ ډول خپلواک و، د هیڅ کفري یا کوم بل اجنبي زبرځواک سره تړلی یا زیر اثر نه و. په هیواد کې مثالي امن حاکم و. د افغانستان ۹۵ فیصده اراضي او میشت خلک تر یوه فرمان او بیرغ لاندې په داسې ډول متحد شوي وو چې د بیلابیلو تعصباتو هیڅ اثر نه و پاته. د هیواد قیادت د ملت د تر ټولو صالح، مخلص او وفادار قشر په لاس کې و. نوی نسل او ځوانان مو د اسلامي عقیدې، دیني فکر او افغاني فرهنګ په رڼا کې تربیه کیدل، اسلامي شریعت په کامله معنی نافذ او د الله تعالی ځمکه وروسته له ډېرو کلونو یو ځل بیا په الهي قانون منوره شوې وه. دې حالت که له یوې خوا اسلامي امت ته خپل تیر مجد او عظمت وریاداوه او د خپل اصلي تشخص په راغبرګیدو یې سترګې خوږیدې. بل اړخ ته یې د نړۍ اسلام دښمنه طاقتونو ته سخت ټکان ورکړ. هغوی پوه شول چې دغه واکمني خو کټ مټ د لومړنیو پیړیو د باعزمه اسلامي رهبرانو او فاتحینو میراث او تګلاره ده، هغه چې دوی ته یې په هر ډګر کې تاریخي درسونه ورکړي وو. په همدې اساس د نړۍ کفار د امریکا په

مشرۍ را ټول شول. خپلمنځي اختلافات یې یوې خوا ته کړل او د (الکفـر ملـة واحـده) له قاعدې سره سم یې په ګډه د دې اسلامي رژیم د ړنګولو یا وژلو هڅې پیل کړې.

د نړۍ کفارو د خپلو غلامانو او ګوډاګیانو په ملتیا په لومړیو کې تبلیغـاتي جنګ پیل کړ او هڅـه یـې دا وه چـې اسـلامي امـارت نـړۍ تـه پـه بـد شـکل معـرفي کـړي. د اورپکو، یاغیانو، سخت دریځو او ترهګرو اصطلاحات یې رامنځتـه او پـه پراخـه کچـه تبلیغ کړل. ورپسې یې اقتصادي تعزیراتو ته مخه کړه او د اسلامي امـارت لـه مخـالفینو سره یې پوځي او تدارکاتي کومکونه پیل کړل. خو چـې کلـه دې یـوې حربـې هـم کـار ورنکړ او په وړاندې یې اسلامي امارت مقاوم پاتـه شـو. نـو یـې مخـامخ پـوځي یرغـل شروع کړ.

دریم: د اشغال پر ضد د جهاد مرحله

په دې ډول د امریکا په مشرۍ نړیوال طاغوت د ناټو اتحاد او دنړۍ پـه لراوبـر کـې د ګڼو نـورو اسـلام ضـد حکومتونـو پـه ملتیـا او د منطقـوي غـدارانو پـه همکـارۍ پـه افغانستان پوځي برید پیل کړ. د ۱۳۸۰ لمریز کـال د میـزان پـه ۱۵ مـه پـر افغانسـتان د امریکا په یرغل سره د تاریخ یو ډیره عجیبه او نامتوازنه جګړه پیـل شـوه. یـوې خواتـه د اسلامي امارت تر مشرۍ لاندې محدود افغـان اولـس چـې ۲۵ کلنـو جګـړو ځپلـی او شووري یرغل یې ټول مـادي امکانـات تبـاه کـړي وو. بـل اړخ تـه د امریکـا او نـاټو پـه شمول د نړۍ تر ټولو پرمختللي کفري ځواکونه چې پوځیان یې په وروستي مـاډل درنـو او سپکو وسلو، تجهیزاتو او جنګي ابزارو سمبال وو. خو شاید الله تعـالی بـه یـو ځـل بیا انسانانو ته د خپل قـدرت ننبـې او د اسـلام د رښـتینو زامنـو د عـزم او ایـمان ګـراف ورښود چې دغسې یوه نامتوازنه جګړه رامنځته شوه.

د امریکا پر خلاف د اسلامي امارت د تېر اتلس کلن جهاد پـه جریـان کـې چـې د افغانستان په خاوره کومه معرکه تېره شوه، هغـه د انسـاني عقـل او بشـرـي محاسـبې پـه

قالب کې د ځاييدو نـه ده. د اسـلامي امـارت مجاهـدينو پـه تـش لاس د نـړۍ تـر ټولـو فرعوني زبرځـواک سره جهـاد پيـل کـړ. پيـل يـې لـه چټکـو چريکـي بريـدونو، مخفـي عملياتو، توغندويي حملو او کنټروليدونکو انفجارونو څخه وکړ. وروسته يـې پـه لـوړ مهارت او حوصله سره جهادي عمليـاتو تـه انکشـاف ورکـړ. د دښـمن پـه مراکـزو يـې تهاجمي عمليات پيل کړل. په استشهادي حملو يې د دښـمن د قومنـدې مراکـز، لـويې قرارګاوې او مهم اشخاص په نښه کړل. او په دې ډول يـې امريکـايي او د نـاټو پوځيـان په يوه فرسايشي اوږده جګړه کې ښکيل کړل.

هغه مغرور دښمن چې يو وخت يې د ځمکې پر مخ د اسلامي امارت د هيڅ فـرد شتون نه شواى زغملى او مجاهدين يې په مرګ محکوم بلل. د اتلسو کلونو پـه جريـان کې تر دې وځپل شول چې عقـل يـې سر تـه راغـى، ميـداني حقـائق يـې درک کـړل او اوس نه يوازې د يوه سيال جهت په حيث د اسلامي امارت شـتون منـي بلکـې د جنـګ پر ځاى يې د تفاهم او منطق لاره خپله کړې ده.

د يوويشتمې پيړۍ له پيـل سره پـه افغانسـتان د امريکـا او نـاټو حملـه د اسـلام پـه تاريخ کې له صليبي او استعماري جګړو وروسته پـه مسـلمه امـت د اروپايـانو د دريـم ستر يرغل پيل و. چې وروسته په عـراق، ليبيـا، سـوريه او نـورو سـيمو کـې هـم ورتـه يرغلونه ترسره شول. خو الله تعالى اسلامي امارت ته توفيق ورکړ چې لـه مسـلمه امـت او په خاص ډول له اسلامي افغانستان څخه د دفاع امتياز پـه خپـل نـوم کـړي. اسـلامي امارت په يوه سخته مرحله کې تر اټکل لوړ ثبـات او مقاومـت وکـړ چـې بـالاخره يـې د الله تعالى په نصرت او د مؤمن اولس د ملاتړ په برکت پـه اسـلامي خـاوره دغـه راغلـى توپان په شا وتمباوه او اوس هغـه ورځ رانـږدې ښـکاري چـې اللـه تعـالى زمـوږ ګـران هيواد د کفر او نفاق له خبثه پاک او د اسلامي نظام په وړانګو روښانه کړي.

د پای خبره

که په یادو دریو مراحلو کې په لنډ ډول د اسلامي امارت لاسته راوړنې بیانوو نـو پـه دې ډول یې خلاصه کولای شو.

ــ د افغانستان اسلامي امارت هغه اسلامي حرکت دی چې د افغانسـتان دمجاهـد ملت له منځه د روس ضد جهاد د ارمانونو د سرته رسولو، د هـرج و مـرج، بـې امنیتـۍ او کورنیو جګړو د خـاتمې، د افغانسـتان د وحـدت، ارضي تمامیـت او مـلي یـووالي د تضمین او د یوه متحد، اسلامي سوله ییز نظام د تأسیس په هـدف راپورتـه شـوی او بیـا یې په یادو ټولو برخو کې خپل تاریخي کردار ترسره کړ.

ــ اسلامي امارت په افغانستان کې له پخـوا څخـه د پیـل شـوي اسـلامي نهضـت ستر ارمان (اسلامي نظام) ته کلک تعهد لري او ځـان د کمـونیزم پـر خـلاف د مبـارزو، دغه راز د شوروي او بیا امریکا پر خلاف زمـوږ د ملـت د قربـانیو او جهـادي ارمانونـه وارث ګڼي او ترسره کیدو ته یې تعهد لـري. اسـلامي امـارت بـاور لـري چـې اسـلامي نظام نه یوازې زموږ د مؤمن او مجاهد اولس د تاریخي مبارزو سـتر ارمـان دی، بلکـې زموږ د ټولو ستونزو حل او د دنیوي او اخروي سعادت ضامن هم دی.

ــ اسلامي امارت نه یوازې د مؤمن اولس اسـلامي ارمانونـه او تشـخص سـاتلی، بلکې د هیواد له ملي ارزښتونو او تاریخي افتخاراتو یې هم دفاع کړې. اسلامي امـارت همدا اوس د عصر له سـترو اشـغالګرانو سره پـه ویـاړمن جهـاد بوخـت دی او د خپـل هیواد د ازادۍ د ترلاسه کولو هڅه کوي. دغه مبـارزه زمـوږ دنیکونـو او اسـلافو د هغـو افتخاراتو ساتنه او تداوم دی چې په نولسمه او شلمه پیړۍ کې یـې د کفـري اشـغالګرو په خلاف په میړانه جهاد کړی او د هیواد او اولس عزت یي ساتلی و.

ــ اسلامي امارت چې ځیني خلـک یـې پـه غلـط فهمـۍ سره د طالبـانو تحریـک بـولي، یـوازې د دینـي طالبـانو یـا کـوم خـاص قشر، قـوم، سـمت او فکـري مسـلک خوځښت نه دی. بلکې دا هغه حرکت دی چـې د ټـول افغانسـتان او ټـول افغـان اولـس

بشپړه نمایندګي کوي. اسلامي امارت د هیواد په ټولو ۳۴ ولایاتو کې ژور ولسي- نفـوذ او پراخې سیمې په واک کې لـري، د هیـواد ټـول قومونـه لکـه پښـتانه، تاجـک، ازبـک، ترکمن، هزاره، پشه یي، نورستاني، بلوچ، عرب، ګوجر وغیـره لـه اسـلامي امـارت سره پیوستون لري. همدا راز د پخواني جهاد د ټولو تنظیمونو او فکـري مکـاتبو منسـوبین د اسلامي امارت په صفوفو کې د بشپړ اخوت او صمیمیت پـه فضـا کـې د خپـل دیـن او هیواد خدمت کوي.

ــ اسلامي امـارت هغـه یـوازینی خوځښـت دی چـې د قـومي، لسـاني او سـمتي عصبیت له ناروغۍ پاک دی. یـوازې د اسـلامي اخـوت او مـلي وحـدت د روحیـې پـه اساس خپل کردار مخته وړي، هیواد یې له تجزیې او ملوک الطوایفۍ ژغـورلی، اولـس ته یې د یووالي روحیه ورکـړې او پـه خپلـو تـر واک لانـدې سـیمو کـې یـې د ګونـدي، تعصبي، مذهبي او فرقوي منازعاتو مخه نیولې ده.

ــ اسلامي امارت د هیواد د ملي ګټو، عامـه شـمتنیو او د بیـت المـال د ممتلکـاتو دفاع او حفاظت خپله وظیفه بولي. د اسلامي امارت تر واک لاندې سـیمو کـې نـه خـو دولتي ځمکې غصب شوې او نه هم عامه شتمنۍ د زورواکو او حـاکمو کورنیـو لخـوا لوټ او اختلاس شوي دي.

ــ اسلامي امارت چې همدا اوس د خپـل دیـن، اولـس او هیـواد د دفـاع لپـاره پـه مقـدس جهـاد بوخـت دی، لـه سـختوجنګي شرایطـو سره سره د اولـس د خـدمت، انکشافي فعالیتونو او د ملکي تلفاتو د مخنیوي په برخه کې هـم خپـل مسؤلیت نـه دی هیر کړی.

الله تعالی دې اسلامي امارت ته نور هم بریا او پراختیا ورکـړي تـر څـو د مظلـوم ملـت زخمونه ټکور او هیوادوالـو تـه د دینـي او دنیـوي نیکمرغـۍ او هوسـایۍ زمینـه برابـره کړي. امین

داسلامي امارت دتأسيس اړتيا

استاد عبدالرحيم ثاقب

ليکوال، دسياسي او جهادي چارو څېړونکی

په افغانستان کې د ملامحمد عمر (مجاهد) په لاس د طالبـانو د اسـلامي تحريـک د تأسيسـولو پـه اړه هـم خپلـه د طالبـانو او هـم د نـورو ليکوالـو لخـوا ډيـرې ليکنـې او کتابونه ليکل شوي. خو په دې اړه تر اوسه څه نه دي ليکـل شـوي چـې ولي د طالبـانو مؤسس د تحريک له تأسيس نه وروسته د طالبانو اسلامي تحريـک پـه اسـلامي امـارت بدل کړ.

ملامحمد عمر (مجاهد) دا کار د افغانسـتان د ۱۵۰۰ دينـي عالمـانو پـه مشـوره د هغوي په يوه ستره علمي غونډه کـې تـر سره کـړ. د ملامحمـد عمـر (مجاهـد) لخـوا د طالبانو اسلامي تحريک په اسلامي امارت بدلولو څـو عوامـل لـرل چـې ځينـې يـې پـه لاندې ډول تشريح کيږي.

۱ـ د طالبـانو د اسـلامي تحريـک د تأسـيس پـه مهـال افغانسـتان ټـول د تنظيمـي جګړو په اورکې سوځيده، هغه اور چې د جهاد ټول اسلامي ارمانونـه د همـدې اور پـه لمبو کې وسوځيدل. د طالبانو اسـلامي تحريـک چـې د همـدي تنظيمـي اختلافـاتو او جګړو د مخنيوي لپاره را منځته شو خپله هم داسې تشکيل و چې له سـياسي او پـوځي لحاظه يوه تنظيم ته ورته و.

ملامحمد عمر (مجاهد) د طالبانو همدا تنظيمـي تشـکيل پـه يـوه جـامع اسـلامي امارت بدل کړ ترڅو د افغانستان ټول هغه مجاهدين چې د شوروي اشغال پـه مهـال پـه مختلفو تنظيمونو کې په جهادي فعاليتونو بوخت وو د اسلامي امارت تر بيـرغ لانـدې سره راټول او د جهاد د نيمګړيو آرمانونو د پوره کولو لپاره کار وکړي.

۲ـ دا چې د جهاد اساسي هـدف پـه څمکـه بانـدې د اللـه د کلمـي لـوړوالى او د شرعي احکامو تطبيق دى، په فقهي لحـاظ ډيـر داسـې شرعـي احکـام شـته دي چـې د هغو تنفيذ د شرعي مسلط امير او امارت شتون ته اړتيالري؛ مـلا محمـد عمـر (مجاهـد) د همدې غرض لپـاره اسـلامي امـارت تأسـيس کـړ ترڅـو د هغـه تـر حاکميـت لانـدې وکړاى شي د اسلامي شريعت هغه احکام عمـلي کـړي چـې هغـه د ټـولنې د امنيـت او سالميت لامل کيږي. چې له همدې احکامو څخه پر قطـاع الطرقوبانـدې شرعـي حـد، د غلا حد او د بيګناه انسان د وژلو په مقابل کې د قاتـل قصاصـول د بيلګـې پـه توګـه د يادولو وړ دي.

د طالبانو د اسلامي تحريک د تأسيس په مهال تر ټولو اساسي اړتيا د خلګـو لپـاره د امنيت ټينګښت و، او د امنيت ټنګښت اساسا داسې اقداماتو تـه ضرورت درلـود چـې په طبيعي لحاظ يې خلګ له عملي کيدو سره د امـن او سـکون احسـاس وکـړي. همـدا وجـه ده چـې د امـن ټينګښـت د اسـلامي امـارت لـه مشخصـاتو څخـه هغـه اسـاسي مشخصه وه چې دوست او دښمن ورباندې اعتراف لري او هغه مهال پـر څـو محـدودو انسانانو باندې د دغو شرعي احکامو پلي کيدل د ټول ولس د آرامـۍ او سـوکالۍ لامـل شو چې همدا د الله تعـالى د دې قـول مصـداق دى چـې فرمـايي: وَلَكُـمْ فِي الْقِصَـاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (۱۷۹)

۳- دا چې په افغانستان کې د شوروي اشغالګرو په خلاف د افغان ولـس جهـاد د دې لپاره شوى و چې له افغانستان څخه به د شوروي اشغالګرو تر شړلو او کمونيستي

نظام تر سقوط وروسته دلته یو اسلامي نظام حاکم کیږي او د هیـواد ټـولې چـارې بـه د همدې شرعي نظام او شرعي ارشاداتو په رڼاکې حل او فصل کیږي.

داسي یو نظام د تنظیمي محـدود چوکـات پـه تشـکیل کـې ناشـونی و، نـو ځکـه ملامحمد عمر (مجاهد) په ټول هیواد کې د یوه جامع اسـلامي نظـام د تأسـیس لپـاره د طالبانو اسلامي تحریک (تنظیم) په اسلامي امارت بدل کړ او هغه یې په کامله توگـه لـه ټولو تنظیمي او سیاسي قیوداتو څخه ازاد کړ.

هماغه و چې د دغـه نیک اقـدام لـه املـه د جهـادي تنظیمونـو اکثریـت مخلـص مجاهدین له هرډول تنظیمي او سیاسي تمایلاتو پرته له اسـلامي امـارت سره یوځـای او د جهاد د نیمگړیو ارمانونو د تحقق لپاره یې د دغه نظـام تـر حاکمیـت لانـدې فعالیـت پیل کړ.

چې د بیلگې په توگه یې پـه نړیوالـه او داخلـې کچـه مشـهور جهـادي شخصـیت مولوي جلال الدین (حقاني)، د شوروي اشغال په مهال د جهادي تنظیمونو لـه جملـې څخه مقتدر جهادي رهبر مولوي محمد یونس خالص، همدا راز د جهادي رهبرانـو پـه جمله کې معروف او پیژندل شوی شخصیت الحـاج مولـوي محمـد نبـي (محمـدي) د مشهور جهادي شخصیت شهید مولوي نصرالله منصور ټوله جهادي کـورنۍ، د هیـواد په سطحه مشـهور جهـادي شخصـیت الحـاج مـلا محمـد ربـاني، مشـهور جهـادي او علمي شخصـیت مولـوي جلیـل اللـه مولـوي زاده، د زابـل ولایـت د مشـهور جهـادي قومنـدان شـهید مـلا مـدد ټولـه مجاهـده کـورنۍ، د کابـل د جبهـې د حرکـت انقـلاب اسلامي د تنظیم د مشـهور جهـادي قومنـدان شـهید مولـوي شـفیع اللـه ورور مولـوي صـدیق اللـه صـاحب، پـه زابـل کـې د اتحـاد اسـلامي مشـهور جهـادي قومنـدان مـلا عبدالسلام راکیتي، د جنوبي زون مشهور جهادي قومندان مولوي ارسـلا رحـماني، پـه شمال زون کې دحرکـت انقـلاب اسـلامي د تنظـیم مربـوط مشـهور جهـادي قومنـدان

مولـوي عبـدالجبار او ... د يـادولو وړ جهـادي شخصـيتونه دي چـې ټولـو د اسـلامي امارت تر تأسيس وروسته له اميـر المـؤمنين ملامحمـد عمـر (مجاهـد) سره د اسـلامي امير په توگه بيعت وکړ.

که څه هم چې پورتني ياد شوی کسان د جهاد په مهال هـر يـو پـه خپلـه سـاحه او سيمه کې تر ملامحمـد عمـر (مجاهـد) هـم مشـهور مجاهـدين وو او هـم يـې پـوځي، سياسي او اجتماعي نفوذ زيات و، خو دا چې د جهادي نيمگړيو ارمانونو د پوره کولـو صلاحيت او وړتيايي په امير المؤمنين ملامحمـد عمـر (مجاهـد) کـې وليـده نـو هـر يـو ترخپل ټول سياسي، پوځي او ټولنيز رسـوخ تيـر شـول او د همـدې لـوي ارمـان د پـوره کولو لپاره يې ملا محمد عمر (مجاهد) د شرعي امير په توگـه غـوره او د اسـلامي نظـام په پلي کيدو يې ورسره بيعت وکړ.

اسلامي امارت انارشي په مثالي امن تبديله کړه

قاري محمد يوسف احمدي

د اسلامي امارت ويندوی

قال الله تبارک وتعالی (وقاتلوهم حتـی لاتکـون فتنـة ويکـون الـدين کلـه للـه) او تاسو له هغوی (مشرکينو، کافرانو) سره وجنګيږئ تر دې پوري چې فتنـه پـاتې نشي۔ او دين ټول د الله لپاره شي.

داپورتنی الهي امر او قرآني خطاب وټولو مؤمنانوته راجع دی، چې بايد دباطل پـه خلاف په جهاد او مقاومت لاس پـوري کـړي او داسـتره فريضـه اداکـړي، نـو د همـدې فريضې د اداکولو په پار افغان اولس په روانه پيړۍ کي تـر بـل هرچـا پـيش قدمـه شـو او دې الهي امر ته يې د زړه له تله لبيک ووايه.

لکه څرنګه چې ټولوته معلومه ده چې د کمونستانو او پخـواني شـوروي د يرغـل پر خلاف افغان غيرتي اولس بې دريغه مقاومت وکړ او د يـونيم ميليـون پـاکو شـهيدانو په ورکولو يې د وارسا اورميږ ورمات او خپله ازادي يې ترې واخيسته، خولـه بـده مرغـه چې د همدې مقدس جهاد او دکمونيستي بلاک له شرموونکې ماتې اوشکست نـه بعـد دمختلفو تنظيمونودخپل منځي اختلافاتو له امله دافغانستان حالات د ملوک الطـوائفي لوري ته ولاړل. سمتونه، ولاياتونه، سيمې، ښارونه او حتی دښارونو واټونـه او کـوڅې دوحشي صفتو زورواکانو او جنګسالارانو تـر مـنځ وويشـل شـول، ګـام پرګـام دعـامو

خلکو او ځوريدلي اولس د ځورونې او د غـلاوو او شـوکو په موخـه ځنځيرونـه جـوړ شـول، تـردې پـوري چـې د ډيـر وحشـت لـه کبلـه دغـو پسـت فطرتـانو پرځنځيـر ولاړ اوباشان دسپيو په نوم ونومول چې د لويې لارې مسافر به يې داړل او ځـورول. د هيـواد پـه يـوه ځـای کـي هـم د زورواکـانو لـه شر څخـه څـوک پـه امـن نـه وو پـاتې؛ دې ټوپکسالارانو هغه څه وکړل چې ژبه يې له ويلو او قلم يې له ليکلو عاجزه دي.

په همدې وخت کې چې پر عام اولس دجنگسـالارانو لـه لـوري ظلـم او اسـتبداد اوج تـه رسـيدلی و، د ۱۴۱۵هـق کـال دمحـرم پـه مياشـت کـې دعاليقـدراميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله له لوري په کندهار کې د روان ناوړه حالـت، ټوپکيـانو او انارشيزم په خلاف يوزړور اقدام پيل شـو، دا اقـدام ډيـر ژر پـه مـلي قيـام بـدل شـو، دهيواد له گوټ گوټ څخه دمدارسو او مسـاجدو څخـه گـڼ طالبـان او مخلـص عـوام ور سره ملگـري شـول او همـدا ولسي- خوځښـت (دافغانسـتان د طالبـانو پـه اسـلامي تحريک) ونومول شو.

اسلامي تحريک چې د ظلم، فساد او بې عدالتۍ په خـلاف يـې قيـام کـړی و، اول په کندهار او ورپسې يې په ټولو ولاياتو کي پاټکونـه، ځنځيرونـه، د شرفسـاد ځـالې يـو په بل پسي ورټولې او د ظالم لاس يې د مظلوم له گريوان څخه لنډکړ، چـې پـه دې سره د هرچا ځان، مال او عزت خوندي شول او په ډيـر لنـډ وخـت کـې يـې يـو داسي مثـالي امن قائم کړ چي ټول افغان اولس يې هرکلی وکـړ او پـه ځـان اومـال يـې ترشـا ودريـد. دبيلگې په توگه دکندهار ښار يادولای شوچې ظلم، بې لارې او وحشت پکـې دې حـد ته رسيدلی وو چې هيچا نشو کولای دټوپکمارانو څخه دخپل ځان، مـال او اولاد دفـاع وکړای شي، هلکان او ښځې دټوپک په زور لـه موټرونـو څخـه کښـته کـول، دبـې گنـاه خلکو شهيدانول، غلا او چورچپاول دټوپکيانو عمده خصلت و. دښار په هرځـای کـي به وحشي ټوپکيان مسلح ولاړ ول او دطبيعت سـازۍ لپـاره بـه يـې يـو اوبـل لـوري تـه

دراکټونواو ثقیلانو پیرونه کول چې په کورونو کې بـه لګیـدل او هـره ورځ بـه وربانـدې خلک، ښځې اوماشومان شهیدانیدل او حتی ځیني ناپیژانده لارویان بـه یـې ددې لپـاره هم ویشتل چې وګوري دمرګ په حالت کې انسـان څـه ډول لـټ پرلـټ اوړي!! اوداسي نور جرائم

خو دامارت په مهال مو ولیدل چې پـه ټـول کنـدهار کـې یـو کـس لـه بـل تـن سره لفظي شخړې ته هم زړه نشو ښه کولای، هرچا هر وخـت کـولای شـوای چـې هرځـای ته په ارامۍ، ډاډ او اطمنـان سره سـفر وکـړي، نـه پـه ښـار کـې دننه چاتـه کـوم ګـواښ موجود و، نه هم له ښار څخه دباندې پرلارو او کلیوالو سیموکې.

څومره ښه یې ویلي چې (النـاس علـی دیـن ملـوکهم) ابـن کثیـر رح پـه البدایـة والنهایة نومي کتاب کې پـه دې اړه لیکـي چـې ولیـد دعـمارت جوړولـو شـوقي و، نـو خلکو به هم یوله بله دغه پوښتنه کوله او سره ویل به یـې (مـاذا بنیـت مـاذا عمـرت؟) او دده ورور سلیمان بیا دودونو شوقي و، نو دده دواک په مهال به بیاخلکو سره ویـل چـې (کم تزوجت ماذا عندك من السراری)، خو چې کله واک عمربن عبدالعزیز تـه وسـپارل شو نو دا وخت دقرآن کریم تلاوت، اوراد، او نوافـل زیـات شـول نـو خلکوبـه یولـه بـل سره دا ویل (کم وردك کم تقرأ کل یوم ماذا صلیت البارحة)

نو همداوجه وه چـې سـتر غـازي ملامحمـدعمر مجاهـد دامـارت پـه مهـال امـن راووست، شرعي حدودیې برپایه کړل او داسـلام احکـام یـې جـاري کـړل، نوبنـاءً ټـول خلک دامن، صلاح او دیانت په فکر کې شول او عمري اخلاق یې خپل کړل.

اسلامي امارت په لومړي قدم کـې ځوریـدلو او مظلومـو هیوادوالـو تـه ډادمـن او مثالي امنیت ډالۍ کړ داسي امنیت چې له هرات نه تر کابلـه بـه پـه بوجیـوکې ملیاردونـه افغانۍ د بس موټرونو په سرکې ترل شوې وې او په ټوله لاره کې چا د دې جرئـت نشـو کولای چې د غلاهڅه یې وکړي.

دافغانستان اسلامي امارت وخپل ولس ته هغه حقونه په بشپړ ډول ورکـړل چـې د اسلام غوښتنه وه، لکه د ژوندحق، د انساني کرامت حق، د حريت حق، دتعلـيم حـق، د تملک حق، او د عمل کولو حق.

داسلامي امارت په مهال له عادي خلکو رانيولې بيا تر لويو تجارانو ټولـو کـولای شول چې دشپې او ورځې له ختيځ څخه تر لويـديځ پـوري پـه خـورا ډاډ سره دتجـارت او کاروبار لپاره تګ راتګ وکړي.

کله چې داسلامي امـارت د فتوحـاتو بهيـر ګړنـدی شـو، نـو پـه سـوونو د اولـس اوملت اخيارو او علمآء کرامو د اسلام خادم ملامحمد عمر مجاهـد د اميرالمـؤمنين پـه لقب ونوماوه او د دوهم ځل لپاره يې ورسره دبيعت تجديـد وکـړ او د اسـلامي تحريـک نوم په اسلامي امارت واوښت، ځکه چي دشرعي امير پـه تـاکلو سره د حـدودو جـاري کيدل، دسرحداتوساتل، زکات اوصـدقات جمـع کيـدل، دغلـو او قطـاع الطريقـو مخـه نيول، دجمعې اواخترونو اجتماع قائمول، دخلکوترمنځ دجګړوختمول او ددوی تـرمنځ فيصله کول او داسي نور مصالح پکې نغښتي وو.

اسلامي امـارت دمثـالي امنيـت تـر تـامين وروسـته شرعـي حـدود جـاري کـړل، سرحدات يې خوندي کړل، ګران هيواد (افغانستان) يـې لـه احـتمالي تجزيـې وژغـوره، مدارس او مکاتب يې فعال کړل، دبيارغونې کارونه يې ترسره کـړل، دقومونـو او قبـائلو تـرمنځ يـې دکلونـو کلونـو دښـمنۍ او خپـل منځـي شـخړې ورحـل او فصـل کـړې، ګوندبازۍ او عصبيت تـه يـې دپـای ټکـی کيښـود، پـه هـر ولايـت کـي يـې دمحـاکمو دفعالولو ترڅنګ دعلماو شوراګانې جوړې کړې. دولتي دوائـر او تأسيسـات يـې فعـال او پر پښو ودرول، په هرولايت کي يې دامـر بـالمعروف او نهـی عـن المنکـر رياسـتونه فعال کړل، دشکاياتو داوريدلو څانګې يې تأسيس کړې، بې وزلو کورنيو ته يـې دخپـل توان په اندازه دمرستې کولو لاس اوږدکـړ؛ دطبيعـي پيښـو لـه متضرـرينوسره يـې حتـی

الوسع کومکونه وکړل اودصـلیبي اشـغال پـه مهـال یـې دیرغلگـرو او اجیـرو ټوپکیـانو دمقابلې ترڅنگ د وحشي داعشیانو خلاف جگړه هم وکړه چې اولـس یـې د دوی ټولـو له شره خلاص کړ.

او بالآخره اسلامي امـارت د ډیـرو قربـانیو پـه ورکولـو سره دامریکـایي یرغـل پـه خلاف مبارزه دکامیابۍ پړاوته لنـډه کـړه او ۱۸ کالـه یـې پـه ډیـره میړانـه، متانـت او سر ښندنې سره له خپلو ارزښتونو، خاورې، نوامیسو او منافعو دفاع وکـړه او پـای مغـروره امریکا د عسکرو وتلو او زارۍ کولو ته مجبور کړه.

اسلامي امارت خپل مجاهد اوغیرتي اولس ته پر مثـالي امنیـت سربیـره ډیـر نـور مادي او معنوي څه هم ورکړل چې تاریخ به یې هیڅکله هیـر نکـړي او پـه زرینوکرښـو به یې ولیکې.

اسلامي امارت، هیواد له تجزیې
او ملوک الطوائفي څخه وژغوره

مولوي احمدالله وثیق

لیکوال، شاعر او ژورنالیست

پـر افغانسـتان د شـوروي ځواکونـو لـه لـس کلـن اشـغال او تیـري وروسـته د افغانستان د مومن او مجاهد ملت د سپیڅلي جهاد او مقاومت په برکـت سرې لښـکرې له بشپړې مـاتې سره مـخ شـوې، د سـور پـوځ لـه وتلـو درې کالـه وروسـته پـه ۱۹۹۲ میلادي کال کې د کمونیستانو د ګوډاګي رژیم ډاکټر نجیب الله د واکمنۍ تغـر تـول او د مجاهـدینو اسـلامي انقلاب کامیـاب او د نظـام واګـې د تنظیمونـو د مشرـانو لاسـته ولویدې. د دې پر ځای چې د اسـلامي انقـلاب لـه بریـا سره بـه د اشـغال ځـپلي ولـس زخمونه تکور شي، برعکس افغانان د بدمرغیو او مشکلاتو ژورو ګردابونو ته ولویدل.

یو شمیر تنظیمي مشرانو چې په نیتونـو کـې یـې اخـلاص موجـود نـه وو، د اللـه تعالی رضا او مرسته یې هیره کړه، د مادیاتو مینې ته یې مخـه شـوه، د نـورو پـه دنیـوي مرستو یې اتکا وکړه او د همدې مادي ګټو او خواهشاتو د ترلاسـه کولـو لپـاره پـه خپـل منځي جګړو بوخت شول، د لکونـو شـهیدانو، کونـډو، یتیمانـو او در پـه دره افغانـانو ارمانونه یې له خاورو سره خوارې کړل. د اقتدار او واکمنۍ په شوق کې یـې د مظلومـو افغانانو له یوه ستر ارمان سره تاریخي جفا او خیانت وکړ.

په نوییمه لسیزه کې د تنظیمونو د مشرانو خپل منځـې اختلافونـه او خصـومتونه دې حد ته ورسیدل، چې د هیواد په لر او بر کې قتلونو، مرګونو او وینـې بهولـو تـه لاره هواره شوه، یوازې د هیواد په پلاز مینه کابل کې د متخاصمو ډلو تر منځ پـه جګـړو کـې تر ٦٠ زره زیات افغانان ووژل شول، په زرګونو نور معیـوب شـول او د کابـل ښـار پـه کنډواله او ویرانه بدل شو.

د قدرت پر سر د جګړو له امله د مرکزي حکومت تشه رامنځ تـه شـوه، ارګ مشرـ یوازې د کابل له څو څلور لارو پرته نور په یوه سیمه تسلط نه درلود، له ټول افغانسـتان سره یې اړیکه قطع وه، په هر ولایت څه چې پـه هـر ښـارګوټي کـې د شخصي-واکمنیو جزیرې جوړې وې.

د هیواد ملي شتمنۍ، ذخـایر او معـادن او پـه مجمـوع کـې د عوایـدو ټـولې هغـه مالي سرچینې چې هیواد او ولس په پښـو دروي د زور واکـانو پـه قبضـه او منګولـو کـې وې.

په کلیو او ښـارونو کـې ټوپکسـالاري حاکمـه وه هـر ټوپکسـالار د خپـل کـور او وطاق مخ ته مستقل پاټک او ځنځیـر درلـود، لـه لارویـانو او مسـافرو یـې ګـام پـر ګـام ټیکس او ملا ماتونکې مالي جججې اخیستې.

د هرج او مرج پـه دې پرفتنـه دوره کـې د امنیـت نـه شـتون یـوه لویـه ګواښـونکې ستونزه وه چې دهیوادوالو ژوند یې نا ارامـه کـړی وو، پـه اوږدو لارو او ښـارونو کـې د خلګو ځان، مال او حتـی نـاموس خونـدي نـه وو. د وحشـت او ډار فضـاء خپـروه وه، ولس نه د شپې او نه د ورځې خپل ځان خوندي باله. په سـپینه رڼـا ورځ چـور او تـالان ګډ وو، هغه مسافرین چې کم عمره هلکان او یا زنانه به ورسره ملګـري وو پـه پـاټکونو به زړه نا زړه او وراخطا ورتلـل، د دې ویـره موجـوده وه چـې د ځنځیـر زور واکـې بـه هلک او یا زنانه په زور ترې وګرزوي.

په ټـول هیـواد کـې عمـلا ملـوک الطـوائفي حاکمـه وه، د ډلـو ټپلـو وړې وړې واکمنۍ موجودې وې او هرې ډلې د خپل واک د ساحې د پراخیدو لپاره لـه هـیڅ قسـم حربې او ناروا نه مخ نه گرزاوه.

د واک او اقتـدار پـه نشـه د مستو لیونیـانو همـدې تلوسـې او سرگردانـه ورځـې، بهرنیـو اسـلام او افغـان دښـمنه جاسـوسي کړیـو تـه زمینـه مسـاعده کـړې وه، چـې واحدافغانستان په شمال او جنوب، شرق او غرب و ویشي، د ژبـې او سـمت توپیرونـو ته لمن ووهي، له همدې لارې خپلو ناروا موخو تـه ځـان ورسـوي، ددښـمن د همـدې تخریبي کوششونو په نتیجه کې یو موټی افغانستان او یو واحد ملت لـه ټوټـه کیـدو او د تجزیې له ستر خطر سره مخ وو.

هغه مهال په هیواد کې د وحشت، ظلـم او د شر او فسـاد دبوږنـونکي وضـعیت د لیدلو او اوریدلو توان هیچا نه درلـود، د افغانسـتان مظلـوم او وحشـت ځـپلي ولـس او شریفو خلگو د دې ناخوالو د مخنیوي هیڅ وس نه درلود او هر چا بـه یـوازې لـه خپـل ځان سره په پټه د بې وسۍ اوښـکې تویـولې، د مـایوسي او نهیلـۍ پـه دې عـالم کـې د ملت سترگې د نجات یوې داسـې پرښـتې تـه پـه لاره وې چـې لـه روانـو وحشـتونو او ظلمونو څخه یې وساتي او د هیواد د ورونو قومونو د افغانیت یو موټی وجـود لـه ټوټـه کیدو څخه وژغوري.

د پورته یاده شویو ناخوالو، بې امنیـو، ملـوک الطـوائفۍ او د واحـد ملـت د ټوټـه کیدو د مخنیوي او د شر او فساد د محوه کیدو لپاره بـه ډیـرو جهتونـو فکـر کـړی وي، خو دې کار یو محض توکل، متین عزم او قوي ارادې ته ضرورت درلود چـې د هرچـا د وس کار نه وو، همدې سـتر بـوج او درونـد مسـولیت تـه د حجـرې طالـب مـلا محمـد عمر مجاهد غاړه کښیښوده، د خپل مسلمان او مجاهـد ملـت د دفـاع او ژغـورنې لپـاره یې د طالبانو یو خودجوش او مستقل اصلاحي - جهـادي تحریـک جـوړ او د کندهارلـه

میوند نه یې خپل خوځښت پیل کړ، لومړی یې له نژدې اړوندو ساحو نـه پراتـه پاټکونـه او د فسادمرکزونه ختم کړل او د الله تعالی په نصرت یـې یـو پـه بـل پسـې سـیمې فـتح کولې او د فساد ټغر یې ټولاوه. وروسته د طالبـانو د همـدې سـپیڅلي تحریـک نـوم پـه اسلامي امارت بدل شو او په لږه موده کې یې د هیواد په ۹۵ سلنه خـاوره سـلطه ټینګـه کړه، اسلامي نظام یې حاکم، مثالي عدالت او امنیت یې تامین کړ. د هیـواد پـه لـر او بـر کې په غلو، قطـاع الطریـق او نـورو مفسـدینو بانـدي د اسـلامي امـارت د محـاکمو لـه لوري شرعي احکام، حدود او سزاګانې جاري‌او تطبیق شوې، چې په نتیجـه کـې یـې د جنایي جرمونو، اخلاقي فساد، غلاوو او نورو فحاشیو د حادثو او مواردو تعـداد خـورا زیات کم شو. په ټول هیـواد کـې یـو داسي ډول امـن او اطمنـان را مـنځ تـه شـو چـې د خلګو تر منځ تر اوسه پوري د یوه ضرب مثل په توګه باقي‌پاتـه دی (د طالبـانو د وخـت امنیت!!)

د اسلامي‌امارت پـه راتـګ سره د هیـواد پـه مختلفـو برخـو کـې د قـدرت جزیـرې ختمې شوې، یوه واحده اداره او یو نظم رامنځ ته شـو، د هیـواد پـه ۹۵ فیصـده خـاوره کې چې د اسلامي امـارت واکمنـي وه، هلتـه د امیرالمـومنین مـلا محمـد عمـر مجاهـد رحمه الله قیادت او واحده قومنده رائجه وه، له کندهار نه یـې پـه یـوه فرمـان پـه تخـار، بلخ، هرات، مشرقي او جنوبي ولایتو کې مسـولین لـه د نـدو لیـري کـولای او پـر ځـای یې نور په عین وخـت کـې ټـاکلی شـوای، هیچـاد شرعـي امیـر د پریکـړو مخالفـت نـه کاوه.

د اسـلامي‌امارت پـه راتـګ سره مرکـزي اداره مسـتحکمه شـوه ټـولې دولتـي او حکومتي چارې له یوه مرکز نـه اداره کیـدلې، د هیـواد پـه ټولـو ولایتـو کـې د موجـودو مالي سرچینو عواید په مـنظم او خونـدي توګـه را جمـع او مرکـزي اداري تـه لـه انتقـال وروسته اړوندو ادارو تـه سـپارل کیـدل. د هـرات، سـپین بولـدک، تـورخم همـدا راز د

شمالي ولایتو د ټولو سرحدي بندرونو عواید د پخوا په څیر د افرادو او ډلګیو جیبونو ته نه، بلکې ټول مرکزي حکومت ته په سالمه توګه رسیدل او په قانوني شکل مصرفیدل.

د طالبانو اسلامي تحریک چې په خپل خوځښت پیل وکړ تر هرڅه مخکې یې د ډلو ټپلو او زور واکانو د ختمولو کار ته پوره توجه وکړه، په ښارونو او اطرافو کې یې ټولې هغه وسلې را جمعه کړې چې خلګو په غیر قانوني توګه له ځانو سره ساتلې وې. دې اقدام د ټولو خودسرو ډلو او غیر قانوني وسلوالو واک او اختیار محدود کړ، پاچا ګردي او ملوک الطوائفي ختمه شوه او ټولو خلګو عادي ژوند اختیار کړ.

د افغانستان د احتمالي ټوټه کیدو یو ستر لامل د بهرینو کړیو له لوري د محلي او سمتي ټوپکیانو نظامي او مالي حمایه وه، اسلامي امارت د ډلو ټپلو، محلي زور واکانو او ملیشو په ختمولو سره په هیواد کې د بهرنیو افغان دښمنه جاسوسي جهتونو د لاسوهنې مخه هم ونیوه او افغانستان یې د تجزیې له ستر خطر څخه وساته.

اسلامي امارت که څه هم د خپل حکومت پر مهال له ګڼو بهرنیو فشارونو او محدودیتونو سره مخ وو، خو بیا یې هم هڅه کوله چې خپل دریدیدلي، ځپل شوي او له خپل منځي جګړو څخه ستړي شوي اولس ته د ارام او پر سکونه ژوند کولو ډیر څه برابر کړي، بالمقابل اولس هم چې دټوپکیانو د وحشت، ظلم او اختناق دورې د ژوند کولو هر څه ترې وړي وو، د طالبانو له لوري په حاکم اسلامي نظام او مینځ ته راغلي مثالي امن زیات خوشحاله او ددې ستر احسان منندوي وو.

باید وویل شي، یو څه چې مسلم حقیقت دی، دوست او دښمن او د هرې طبقې خلګ او په ځانګړې توګه د افغانستان مومن ولس پرې اعتراف کوي، هغه دا چې په هیواد کې د ملوک الطوائفي او د واحد افغانستان د تجزیې مخه نیول، د خپل منځي تنظیمي جنګونو ختمول او د مثالي عدالت او امنیت تامنیول د اسلامي امارت له

سترو کارنـامو او مهمـو لاسته راوړنـو څخـه ګڼل کیـږي او دا سـترې کارنـامې بـه د افغانستان د تاریخ زرین باب جوړوي ان شاء الله تعالی.

اسلامي امارت چې همیشه د خپل ولس د ساتنې په لاره کې پـه خپلـو وعـدو وفـا کړې او اولس يې هر وخت له سختو ازمایښتونو او مشـکلاتو خـلاص کـړی، نـن هـم د اشـغالګرې امریکـا او متحـدینو د اشـغال پـه وړانـدې يـې سـینه سـپر کـړې او د سر پـه قرباني ورکولو سره يې د اتلس کلنې جهادې مبارزې په مټ مغرور دښـمن (امریکـا) د ماتې په درشل درولی او له افغانستانه د بیرته وتلو په لارو چارو غور کوي.

د اشغال له خاتمې وروسته اسلامي امارت د پخوا په څير يو ځـل بیـا مصـمم دی چې له بـې ځایـه مصـلحتونو او سـهمونو پاکـه یـوه واحـده او قـوي اداره رامـنځ تـه او مستحکم اسلامي نظام حاکم کړي، داسی يو نظـام چـې تـر واحـد قیـادت لانـدي ټـول قومونه او قشرونه خپل ځان پکې ووینـي او دافغـان ولـس دارمـانونو او امیـدونو ممثـل وي. ان شاء الله تعالی

اسلامي امارت اسلامي نظام حاکم کړ

مفتي عبدالکريم
ليکوال او داسلامي فقهې متخصص

موږ دهجرت ټاټوبي پاکستان کې وو؛ دشرم نه ډک شکست سره دافغانستان نه دروسانو دوتلو شپې ورځې وې؛ دکوچنيتوب دعمر نه نوي راوتلي وو اوزمانه مو دشعور وه؛ دنړۍ او هېواد دپېښنو نه دځان خبرولو شوق مو درلودلو خو دا داسې وخت و چې په مدارسو کې د راديو لرلو او خبرونو اورېدلو موقع برابره نه وه، نو موږ به چې د پنجشنبې په روځ دمدرسې نه کور ته راغلو نو دجمعې او هفتې په شپو به مو په کور کې خبرونه په ډېر شوق او اهتمام سره اورېدل. دکومې جمعې شپه وه او د بي بي سي يا امريکا غږ راديو نه دحکمتيار صيب مرکه خپرېده چې موږ په ډېر غور اورېدله.

دراديو خبريال له حکمتيار صيب نه وپوښتل چې که مو افغانستان ونيو څه ډول نظام به پکې نافذوئ؟

حکمتيار صيب ځواب ورکړ اسلامي نظام.

ژورناليسټ پوښتنه ځني وکړه چې څه ډول اسلامي نظام په نړۍ کې يې مثال وړاندې کولای شئ؟

حکمتيار صيب وويل زموږ اسلامي نظام به مثالي وي.

دحکمتیار صیب دا خبره ډېره په زړه پورې وه؛ دافغانستان غیرتي ولس چې خپل محبوب ټاټوبی پرېښود دهجرت او جهاد په لار کې یې خورا ډېر ستر کړاونه وګالل او دیو نیم ملیون نه زیات شهیدان یې ورکړل، نو هدف یې داشغالګرو روسانو نه دخپل هېواد ازادي او دلته دیو واقعي اسلامي نظام قیام و.

افغان مسلمان ولس حقیقي ازادي او واقعي اسلامي نظام غوښتلو؛ نه تش په نامه آزادي اونه هم تش په نامه اسلامي نظام.

که تش په نامه ازادي او تش په نامه اسلامي نظام افغانانو غوښتلای نو باید افغانانو نه هجرت کړی وای او نه هم جهاد ځکه دکمونستانو له کودتا نیولې دډاکټر نجیب تر واکمنۍ پورې یوه اداره هم داسې نه وه چې ځان یې ازاد نه ګڼلو او یا پکې کلي کفري اساسي قانون او نظام اعلان شوی و.

دروسانو له لورې دافغانستان داشغال نه پس هم نه دریاست جمهوري په چوکۍ کوم روسی کیناست؛ نه ددفاع وزیر کوم روسی و او نه هم کوم بل وزارت لپاره روسی وزیر نومول شوی و.

لنډه دا چې افغانانو تش په نامه ازادي یا تش په نامه اسلامي نظام نه غوښتلو نو دحکمتیار صیب دا خبره سمه وه چې موږ په افغانستان کې مثالي اسلامي نظام غواړو ځکه چې په ټولې اسلامي نړۍ کې یو هېواد هم داسې نه و چې واقعي اسلامي نظام پکې حاکم و؛ نو زموږ لپاره یو هېواد هم مثالي نوشو جوړېدای.

خو متأسفانه چې دکوم مثالي اسلامي نظام خبره حکمتیار صیب یا نورو جهادي مشرانو کوله هغه یواځې یو شعار وګرځېد؛ اسلامي نظام خو لرې خبره وه؛ دآزادۍ نه پس داسې بدامني؛ ګډوډي؛ انارشیزم او طوائف الملوکي رامنځته شوه چې دنړۍ په تاریخ کې به یې شاید ساری ډېر کم تېر شوي وي.

دافغانانو دسترو قربانیوو په برکت دلته شوروي اتحاد تـاریخي شکسـت وخـوړ؛ له افغانستان نه وتښتېدل؛ دروسانو دوتلو نه کابو ۳ کاله پس دډاکټـر نجیـب پـه مشرۍ کې دروسانو دګوډاګي کمونستانو اداره هم ړنګه او هېـواد مـود روسـانو او د روسـانو دلاسپوڅو نه ازاد شو، خو د حکمتیار او احمدشاه مسعواو نورو ترمنځ دچوکۍ پـرسر رامنځته شویو جنګونو دافغانانو ټـول ارمانونـه دخـاورو سره خـاورې کـړل او دداسـې بدحالت سره یې مخامخ کـړل چـې پـه افغانسـتان بـه پـه عمرکـې داسـې بـد حالـت نـه ورامنځته شوی؛ داسې بـد حالـت چـې خلـک یـې دنجیـب پـه حکومـت پسـې ارمـان کولوته اړکړل.

په اسلامي نظام کې ترټولو مهـم د رعیـت دځـان، مـال او عـزت سـاتنه وي، خـو پدې نظام کې نه دچا ځان پـه امـن کـې و؛ نـه مـال او نـه هـم عـزت؛ دمرکـز لـرې پرتـو ولایتونو ته په لارو به سونه پاټکونه وو؛ هرپاټک کې به چې پـه پاټـک کـې ولاړو قطـاع الطریق دتلونکو راتلونکو خلکو سره څه کول څوک به د پوښتنې نه و.

قضا، اردو، پولیس، دولتي چوکاټ او اداري نظام ړنګ شول؛ دصـحت او تعلـیم بخشونه تباه وو. افغانۍ بې حده زیاته بې ارزښته شوه؛ فقر او لوږه عامه شـوه؛ دعـامو خلکو اقتصادي حالت بې حده زیات خـراب شـو؛ دهېـواد دصـادراتو او وارداتـو کچـه ډېره راکمه شوه؛ او خبره دې حده ته راورسېده چې دتیلـو اووړو پـه څېـر اشـیاء بـه لـه ګاونډیو هېوادونو نه په قاچـاقي توګـه راوړل کېـدل. نـو لـه یـوې خـوا دخلکـو اقتصـاد صفر و او له بلې خوا داجناسو نرخونه داسې لوړوو چـې دعـامو افغانـانو درانیولـو لـه توان نه وتلي وو.

خو لنډه دا چې په هېواد کې یـواځې تکلیفونـه، کړاوونـه، مشـکلات او نـا خـوالې وې؛ دا هېوادهیڅچا لپاره داوسېدلو نه و خو هیڅوک نه پوهېده چې څـه وکـړي او چرتـه

ولاړ شي؟ یوه ستره ناهیلي وه؛ ښه حالت ته دهېواد دراوتلو هیڅ امید نه و او هرچا په لسگونو ټوټو دهېواد دتجزیې خطر محسوسولو.

ددې هراړخیز بې حده بدحالت پرضد دملامحمد عمر مجاهد مشرۍ کې څو د دیني مدرسو طالبانو او با احساسه مجاهدینو دکندهار په یوې محدودې ساحې کې قیام وکړ چې الله تعالی دهغه ساحې دوحشي- ظالمانو په مقابل کې بری ورکړ او ساحې کې یې امن راوست، نو دنېړدې سیمو مسلمانان یې ترشا ودرېدل بیا په ډېرې تېزۍ خلکو استقبال کړل او ورسره ملگري شول دسیمې نه خبره ټول ولایت ته او دولایت نه بیا خبره ټول هېواد ته خپره شوه؛ په یوې محدودې سیمې کې رامنځته شوی دا قیام په منظم تحریک بدل شو او داسلامي امارت په نوم دلته اسلامي نظام قائم شو. نو طالبانو دخپلو سرونو په ډېرو سترو قربانیو هم ولس ته دیادو سترو بدبختیو نه نجات ورکړ او هم یې د اسلامي نظام په قائمولو دروسانو او کمونستانو پرضد دلوي جهاد هغه لوي ارمان او هدف ته تحقق ورکړ چې ماده پرستو، قدرت طلبو او دچوکیو دمینانو دخپلمنځي اختلافاتو او جنگونو له امله په کلي ډول تر پښو لاندې شوی وو.

دافغانانو ځان، مال او عزت داسې خوندي شو چې په ټولې نړۍ کې پرې داسلامي امارت مخالفین هم نه یواځې دا چې اعتراف کوي بلکې مثالي یې گڼي.

اسلامي امارت قضاومحاکموته هغه مقام ورکړ چې په اسلامي نظام کې یې لري او په ټولو ادارو کې دشریعت داحکامو مطابق پریکړې کېدلې. په اسلامي نظام کې چې شوری ډېره ضروري وي خو دپرېکړو حق دشریعت داصولو سره سم دامیر سره وي دلته همداسې وه. پرېکړې به امیرالمؤمنین کولې او دهېواد په هرگوټ کې به بې له چون وچرا نه نافذېدلې.

دوزيرانو؛ واليانو او نورو چارواکو عزل او نصب هـم همداسـې و؛ دامـارت ټولـه دوره کې داسې نه دي راغلي چې کوم وزير ياوالي له خپلې دندې گوښـه شـوی اوهغـه حکم نه وي منلی؛ په اسلامي امارت کې داميرالمؤمنين دحکـم نـه منلـو او نـه نافذېـدا تصور ببخي نه شو کېدای. په شرعـي نظـام کـې دمسـلمانانو اميـر غيـر مسـئول واجـب الاحترام نه وي او نه يې خبره داسې دکاڼي کرښه وي چې به ترې پـه هـيڅ صـورت کـې رجوع نه کوي.

موږ اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله تعالی معصـوم نـه گڼـو او نـه يې دخطا او غلطۍ نه بري بولو. خو خوبې يې دا وه چې که چا خپلې خطا تـه متـوجې کړيدی منلې يې ده او چې چا معقولې مشورې ورکړيدي نو خپلـې پرېکـړې يـې بـدلې کړيدي.

په اسلامي نظام کې يوه مهمه خبره دا ده چـې بيـت المـال سره بـه احتيـاط کېـږي خو بيت المال به کنجوس نه وي او نه به دمالونو جمـع کولـو او خزانـو ډکولـو پـه فکـر وي، بلکې بيت المـال تـه چـې څـومره مـال راځـي داسـلامي واکمنـۍ دسرحـداتو پـه سـاتنې؛ عسـکري تيـاريو؛ عـام المنفغـه کـارونو او د رعيـت داړتيـاوو پـه پـوره کولـو، دقاضيانو، واليانو، مفتيانو، استاذانو؛ ائمه و او نورو موظفينـو داړتيـاوو پـه پـوره کولـو کې به مصرفېږي.

ديتيمانو، کونډو؛ معذورينو؛ بې ځوکه او دکارکسب نه عاجزو خلکـو کفالـت بـه ترې کېږي او د يتيمانو ودونه به هم له بيت المـال نـه کېـږي او داسـې نـور.... اسـلامي امارت دخپل توان سره سم په دې يادو امورو کې دبيت المـال مصرف تـه ژمـن و؛ زه دا نه وايم چې داسلامي امـارت دوخـت بيـت المـال بـه دخلفـاء راشـدينو دوخـت دبيـت المال په څېر و او سل په سلو کې به په هماغه ځايونو کې مصرف شـوی وي پـه کومـو کې يې چې مصرف پکار و؛ پدې کـې بـه داسـلامي امـارت دمشرانو کمـزوري هـم وه

خوکه رښتیا وویل شي نو بیت المال دومره پیسې هم نه درلودلې چې دا ټولې اړتیاوې ترې پوره شوې وای.

داسلامي امارت سره نړۍ دیپلوماتیکې او سوداګریزې اړیکې پرې کړې وې؛ جنګ پرې مسلط و او بیت المال ته دمال راتلو لارې محدودې وې چې هغه یو څو ګمرکات وو او بس.

نو ځکه اسلامي امارت په خپلو محدودو وسایلو دخپلو سرحداتو ساتنې، د دښمن پرضد جنګ او دنظام، اداري او دولتي چوکاټ جوړولو ته ډېره توجه ورکړې وه؛ ددفاع، قضا، لوړو زده کړو، ښوونې روزنې او صحت عامې ادارې یې فعالې او پرې زیات مصارف یې وکړل او پدې ادارو کې کارکونکو ته یې دمعاشاتو زیاتولو هڅې هم وکړې ځکه چې ددې ادارو فعالولو ته د ولس اړتیا ترټولو زیاته وه.

اسلامي امارت په خپل کمزوري اقتصاد دبیا رغاونې او رفاه عامه کارونه هم روان ساتلي وو؛ زیاتره لویو ښارونو کې دننه وران سرکونه یې جوړ کړل او دسقوط نه وړاندې یې دکابل جلال آباد او د کابل کندهار د سرکونو دجوړولو کار پیل کړ چې دا دواړه ډېرې سترې پروژې وې.

په کمې بودیجې ځکه اسلامي امارت ډېر کارونه کولای شول چې دبیت المال یا ملي پانګې سره به ډېر احتیاط کېدلو او دلوټمار نه خوندي و، نو والیانو او وزیرانو ته به هم ایله همدومره پیسې ورکول کېدې چې په مشکله پرې دمیاشتې ګوزاره کېدله؛ داسلامي امارت یو وزیر یا والي هم څوک داسې نه شي ښودلی چې په کابل کې یې کور اخستی وي بلکې ماته داسې وزیران معلوم دي چې داشغالګرو دحملې په ورځوکې دکابل نه دراوتلو پرمهال دنانوایانومقروض وو؛ زامنو یې بیا ډېر وروسته په بهرنیو هېوادونو کې مزدوري وکړه او دنانوایانودا قرضونه یې ورکړل. زه منم چې دبیت

المال سره به بې احتياطي هم شوې وي خـو پـه لويـه کچـه بيت المـال سره احتيـاط تـه ژمنتيا موجوده.

په اسلامي نظام کې دامـر بـالمعروف اونهـی عـن المنکـر شـتون ډېـر اړيـن دی؛ اسلامي امارت دې وجيبې ته ښه ژمـن و؛ ددې لپـاره يـې وزارت اوپـه هـر ولايـت کـې څانگې لرلې؛ داڅانگې ښې فعالې وې اوامارت يې لا فعالولوته ښه توجه کوله.

هو! موږ منوچې دلته خطاگانې شويدي؛ داسلامي دعوت چې کوم اسـاليب دي پوره نه وو مراعت شوي؛ په ځينو ځايونوکې د ولس سره زشت سـلوک شـوی، بلکـې داسې څه هم شوي چې پکې دخلکو سپکاوی شـوی اوهمـدې شي داسـلامي امـارت رنگـه هـم بـده کـړی وه، نوځکـه ورتـه داسـلامي امـارت مشرـان متوجـه شـوي وو؛ اصلاحات يې هم شروع کړل خو پسې ژر بيا اشغال رامنځته شو.

په اسلامي نظام کې اداري فساد بيخي دزغم وړ نـه دی دا ټـول خلـک منـي چـې داسلامي امارت ټولې ادارې د اداري فساد او رشوت نه پاکې وې.

هو! په ځينو ځايونو کـې دقاضـيانو او ولسـوالانو نـه درشـوت اخسـتلو شـکايت کېدلو چې اسلامي امارت يې دازالې لپاره ډېرې هڅې کولې؛ قاضيانو ته يـې معاشـات څو چنده زيات کړل او ولسوالان به يې ډېربدلول او دکره ثبوت پـه صـورت کـې بـه يـې لازمه سزا ورکوله او په کورونو به يې کينول.

داسلامي امارت ددې مشرـانو پـه اړه مـوږ دادعـوه نـه لروچـې دوی دخيرالقـرون دستورورجالوسره برابرخلک وو، يا يې نظـام بيخـي هماغسـی ولکـه دخلفـاء راشـدينو، خوله دې هم بايد سترگې پټې نـه شي چـې دوی دشرعـي نظـام دقيـام پـه مقصـد ډېـرې قربانۍ ورکړيدي؛ په اصولي لحاظ داسلامي امارت نظام کامل شرعـي نظـام و؛ داسـې شرعي چې نه يواځې په اوسنۍ نړۍ کـې، بلکـې کـه څـوپېړۍ وړانـدې هـم ولاړشـو،

داسې شرعی نظام به ونه مومو؛ ددې نظام مشران شرعي اصولوته کاملاً ژمـن وو، او پـه دې لارکې يې دټولې نړۍ پروا نه لرله چې دا ددوی دالوالعزمۍ ډېرلوی دليل و.

ددې قافلې کومو ملګروچې له نړۍ نه سترګې پټې کړيـدي، اللـه تعـالی دې يـې قربانۍ قبولې اوفردوس جنت کې عوضونه ورکړي اوچې کوم ژوندي دي، اللـه تعـالی دې يې حافظ، ناصراومعاون شي اوپه راتلونکې کـې دې دټېرنـه هـم دښـه نظـام دنفـاذ توفيق ورکړي.

آمين يارب العالمين.

اسلامي امارت د هيواد ځمکنۍ بشپړتيا څرنګه وساتله!؟

م عتيق الله عزيزي

ليکوال او دسياسي چارو شنونکی

له نن نه شا او خوا ۲۵ کاله وړاندې د مرحوم ملا محمد عمر مجاهد (رحمـه اللـه تعالی) په مشرۍ د طالبانو اسلامي خوځښت په داسې حالاتو او شرايطـو کـې د هېـواد او ولس نجات ته راودانګل او د خپلـو سـپېڅليو قربـانيو پـه مـټ يـې د شر او فسـاد پـه مقابل کې مبارزه پيل کـړه؛ چـې د هېـواد سـمې، غرونـه، دښـتې، ښـارونه او سـيمې د غاصبينو او شرمښانو ګوتو او پنجو ته لوېدلي وې.

جګـړه مارو ډلو اويوشمير تنظيمونو هېواد د واحد مرکزيت پر ځای په ګـڼ شـمېر واکمنيو بدل کړی وو، ملي بنسټونه نـړول شـوي وو، د هېـواد پلازمېنـه (کابـل) ښـار د جګـړه مـارو تنظيمونـو د خپلمنځـي شـخړو اوخونړيـو جنګونوپـه وحشـتناک ميـدان اوړيدلی و، د هېواد په هـره سـيمه، ولسـوالۍ او ولايتونـو بانـدې بېلابېلـو تنظيمونـو او مسلحو ګروپونو پنجې خښې کړې وې. هغوي په ډېرې بـې دردۍ سره د هېـواد د مـلي شتمنيو په چور چپاول او د خلکو په لوټولو او ځورولـو بانـدې بوخـت ول. د پـاټکونو راج قايم وو، په هره وړه او لويه لاره وسلوالو تنظيمونو ځنځيرونـه اچـولي وو، پـه زور او وحشت به يې له خلکو پيسې او مالونه اخيسـتل، د مظلومـو او بـې اسرې هېوادوالـو

عزت او عفت خوندي نه وو، د فحشاوو اومنکراتـو بازارونـه تـاوده وو؛ او نـور داسـې جنایتونه او ناورینونه چې قلم اوتاریخ یې په یادولو باندې شرمیږي.

ددغو ځورونکو ناخوالو اوناورینو یو څو بېلګې:

د کابل په ارګ او مهمو دولتي ودانیو اومراکزو د جمیعت او شـورای نظـار قبضـه وه، رباني ځان ولسمشر، احمد شاه مسعود یې د دفاع وزیر او د نظار شـورا نـور غـړي یې په مهمو او لوړو دولتي پوستونو مسلط او پراته وو. دوي ځانته بیرغ، مـلي سرود، د پیسو نوټ او په خارج کې یې خپل دیپلوماتان او سفیران درلودل

دافغانستان، ملي زیرمي، له مرکزي بانک څخـه دمـلي پشـتواني طـلاوي، مـدرنې وسلې، تاریخي اسناد او قیمتي زخائیر له کابل ښارڅخه پنجشـیر او بهـر تـه انتقـالول، تردې چې داریانا دوه الوتکې یې په ایران وپلورلې.

ګلبدین حکمتیار د کابل په چهار آسیاب ولسوالۍ کې صدارت اعـلان کـړی وو، خپـل ځـانګړی سرود، تلـویزون، راډیـو او د افغـانیو چـاپولو ماشـین یـې لاره او د یـوه مستقل دولت پیښې اونخریې کولې په هغه سربېره یې کلکه تلوسـه درلـوده؛ چـې کابـل ښار ته لاس ور اوږد کړي، حاکمې نقطې ونیسي، په همدې نیت به یې وخـت ناوخـت خونړیو جګړو ته لاس اچاوه، له ډلو ټپلوسره به یې ایتلافونه کول او هـم بـه یـې د کابـل په ښار له چهار اسیاب او ریشـخورو څخـه سـلګونه ړانـده راکټونـه او توغنـدي یـودم ورمرش او وتوغول؛ دا غم او احساس به ورسره نـه وو؛ چـې د کابـل ځـومره بـې ګنـاه ښاریان یې د راکټونو او توغندیو خوراک ګرځي.

په هغو سربېره یې د جنګي مصارفو پوره کولو او جمعه کولو لپاره د (زرداد، قلـم او چمن) په نوم مشهور دارماران د هېـواد پـه لویـو لارو بانـدې درولي وو؛ لـه فـرد فـرد لاروي څخه به یې په زیات وحشت باجونه او پیسې اخیستلې.

همدا رنګه جنرال دوستم او ګلم جم ملېشو د کابل پـه بالاحصـار او تپـه مرنجـان باندې مورچې نیولې وې؛ ځانونه یې د کابل اصلي واکمنـان او حقـداران بلـل، د چـور او چپاول او بدکاریو بازار یې ښه ګرم ساتلی وو.

دوستمي ملېشو د شمال په مزار، جوزجان او فاریاب کې خپلـه مسـتقله واکمنـي اعلان کړې وه، په بې خرته ډول یې دوستمۍ افغانۍ چاپولې، ځانتـه یـې سرود او بیـرغ درلود او په ډېرو هیواد کې یې ځانګړې استاځي درلودل.

دا رنګه هزاره ګانو د کابل په غربي برخه کې د بابا مزاري په نوم مسـتقل سـلطنت جوړ کړی وو، شپه ورځ یې د چنګیزیانو یادونه تازه کول، د خلکو د تعـذیبولو لپـاره بـه یې د شکنجو بېلابېل ډولونه په کار اچول؛ لکه رقصِ مرده، د ژبو پرېکول، حیـا دې وي د ښځو سینې پرې کول، په جوش کړو او داغ شویو تېلو کـې ژونـدي انسـانان ورغوپـه کول، دژوندیو انسانانو په سرونو میخونه ټک وهل او داسې نـور کرغېـړن او وحشـتناک تعذیبونه چې قلم یې له لیکلو څخه عاجز دی.

سـیاف پـه پغـمان کـې اړولي وو، د هزارګـانو سره لاس او ګرېـوان وو، خـونړۍ جګړې به یې ورسره کولې، د مسعود او رباني واکمنۍ ته به یـې د مشرـوعیت او جـواز ټکي لټول او په بدل کې به یې له ربـاني او مسـعود څخـه (لـه هغـه دوه کـانټېنره افغـانیو څخه چې په دربیو میاشتو کې به له روسـیې څخـه افغانسـتان تـه راتللـې) نـیم کـانټېنر پیسې پغمان ته وړلې.

په پاتې ولایتونـو کـې بیـا د همـدغو لویـو غلـو او داړه مـارانو د قـدرت مختلفـې جزیـرې اوقومنـدانان ول؛ دولتـي چـوکۍ یـې چـور کـړې وې، د افغانسـتان زیرمـې، معدنیات، کانونه، تـاریخي اثـار او دولتـي عوایـد یـې د ټوپـک پـه شـپیلۍ اخیسـتل او جیبونو ته به یې اچول. په هغو علاوه یې لـه چورلکـو نیـولې تـر ټـانګونو، توپونـو او د

مهمو صنعتي کارخانو او فابریکو ماشینونه او سامان الات د کباړ په نامه پاکستان ته وړل او په پنجاب به یې خرڅول.

همدا راز د شریرو ټوپکیانو او قومندانانو له لاسه د کابل ښار په گډون په ډیرو ولایتونو کې د باعفته او مومنو هېوادوالو حیا او عزت خوندي نه وو؛ د کوم وسلوال او قومندان به چې د چا لور او خور خوښه شوه نو هغه به یې د خپل قدرت اوتوپک په زور ځانته کوله او هېچا به یې په مقابل کې چون او چرا نشوه کولای.

خلاصه دا چې افغانستان د غلو، داړه مارانو، پاټکمارو، جنگ سالارانو او تور زړو ډلو ټپلو لاس ته لوېدلی وو؛ د هیواد فضا، پولې، حریم او ملي حاکمیت بې سرنوشته او بې صاحبه وو، هر هېواد به په رسا لاس مداخله کوله او په ډیرې اسانۍ سره به یې پکې خپلې شیطاني برنامې پلي کولې.

هیڅ خارجي اتباع او دیپلومات ځان په دې مکلف نه باله چې افغانستان ته په پاسپورت او یا کومه رسمي اجازت نامه باندې راشي، هر قومندان او زورواکي پخپلو سیمو کې ځانته قانون او مقررات جوړ کړي وو.

د امریکا په گډون گڼ شمېر هیوادونو هڅې کولې؛ چې افغانان په ژبني، قومي، سمتي، نژادي او مذهبي جگړو کې ښکېل کړي او یو بل تر دې حده ووژني؛ چې د تل لپاره بیا دوي په یوه محور او یو مرکزیت راټول نشي، د ملي وحدت منارونه یې ونړیږي، ارضي تمامیت یې نه جبرانیدونکي صدمې وویني او بالآخره افغانستان په څو برخو او ټوټو تجزیه او ووېشل شي.

د طالبانو اسلامي تحریک په د غسې ځورونکي او دردونکي حالت کې په دې هوډ او تعهد سره میدان ته راودانگل چې " هیواد به د دغو غلو او داړه مارانو له جبر او ستم څخه ژغوري، د الله تعالی په ځمکه به د الله تعالی نظام راولي او د گران هیواد ارضي تمامیت چې له کومو خطراتو سره لاس او گرېوان وو هغه به خوندي کوي.

افغانانو او هغو سابقه مجاهدینو چې په زړونو کې یې ایماني او جهادي غرور او جذبه موجوده وه؛ هغوي چې کله د طالبانو د وینا او عمل یووالی او صدق ولید او په دې پوه شول چې د طالبانو شاته له الهي مرستې او ولسي ملاتړپرته بل هېڅ څه او هېڅوک نشته، نو په سر او مال سره یې د هغوي هرکلی وکړ، ورسره یوځای شول، وسلې او امکانات یې ورته راوړل او د وحشي- ټوپکسالارانو او یوشمیر خونخوارو تنظیمونو پر خلاف ورسره اوږه پر اوږه ودرېدل.

هغو مغرورو، وحشي- او مفسدو جګړه مارانو چې له چور چپاول، ټوپکسالارۍ، لوټمارۍ، شراب خورۍ، لواطت او له نورو بدو او غیر انساني کړنو څخه یې بل کردار نه درلود؛ کله چې یې د ولس او طالبانو یون او پولادي کلک عزم او قوي اراده ولیدله؛ نو زیاترو یې د تېښتې لارې ونیولې او کومو چې د مزاحمت او مقاومت اراده لرله هغوي د اسلام او هېواد د ریښتینو سپاهیانو (طالبانو) په لاسونوتصفیه او د زورواکۍ ځالې یې له منځه یووړل شوې.

پر ځای یې امن، ثبات، عفت، عدالت او سپېڅلې اسلامي واکمني راغله او د هېواد لر او بر تر یوه بیرغ او یوې قوماندې لاندې راغی او په لومړي ځل د یوه ریښتیني اسلامي نظام پلوشې د هېواد په پلازمېنه او ټول هیواد باندې خپرې، ملي استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا خوندي، پولي محفوظي اودافغانستان دلوړو مصالحو او دیني ارزښتونودساتنې او پالنې واحده مرجع پیداشوه.

دهېواد له ارضي تمامیت سره د اسلامي امارت د وفا او مینې راز:

که څوک له تعصب او کرکې څخه کار وانخلي؛ نو په دې به پوه شي چې اسلامي امارت د خپلې تیرې دورې پر مهال نه دا چې د افغانستان له لوېشت لوېشت ځمکې څخه کلکه دفاع وکړه او په ټوله معنا یې ارضي تمامیت خوندي کړی و،

ورسره يې د افغانستان گاونډيان هم په ارام کړي وو او د متقابل احترام په مبنا يې ورسره ښه او نېک چلند درلود.

اسلامي امارت خپلو ټولو گاونډيو هېوادونو لکه ايران، پاکستان، تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، چين او نورو هېوادونو ته په عمل کې ثابته کړې وه؛ چې د افغانستان له خاورې څخه هيچا ته گواښ او خطر نشي- پېښېدلی او هغو مهاجرينو ته؛ چې د روسانو پر خلاف د جهاد له مهاله په افغانستان کې مېشت او ځای پرځای شوي وو؛ هغوي ته يې ويلي وو چې تاسي يوازې د اسلامي ورورولۍ له مخې دلته اوسېدلای شئ؛ ددې کار هيڅکله اجازه نلرئ؛ چې د افغانستان له خاورې او حريم څخه پخپلو او يا نورو ملکونو کې لاسوهنې وکړئ او مشکلات جوړ کړئ.

د اسلامي امارت د تيرې- پوره واکمنۍ پر مهال هيچا نه ثابته او نه يې اوس ثابتولای شي؛ چې له افغانستان څخه دې د نورو هېوادونو په امورو کې گوتې وهل شوې وي، تر دې پورې چې کله د ۲۰۰۱ ميلادي کال د سپتمبر په ۱۱مه نېټه په امريکا کې کومه پېښه وشوه او پړه يې د يوې توطيې له مخې په اسامه بن لادن واړول شوه؛ اسلامي امارت په مسئولانه توگه امريکا ته وويل: که چيرې هغوي په نوموړې پېښه کې داسي کره شواهد لري چې اسامه بن لادن پکې دخيل او پړ وبلل شي؛ نو مونږ تيار يو چې پخپلو محاکمو او يا د درېيو نورو اسلامي هيوادونو په محکمو کې دغه موضوع څېړلو او ارزولو ته وړاندې کړو.

دا ډېره مهمه خبره ده؛ چې اسلامي امارت په هغه دور کې له سياسي او اقتصادي ضعف او کلابنديو سره سره د افغانستان ارضي تماميت په تمامه مانا خوندي وساته!! علت يې دا وو؛ چې اسلامي امارت دين او هېواد ته سخت ژمن وو، سودا او معامله ورته نه بښونکی جرم ښکارېده، حتی په دغه موضوع ورته بحث هم جفا برېښېده.

په ۱۹۹۸ میلادي کال د اگست میاشتې په اتمه نېټه پـه مـزار شریـف کـې د ایـران څو تنه پوځي اواستخباراتي اتباع په داسې حـال کـې ووژل شـول؛ چـې طالبـان د بلـخ مرکز مزار شریف ته ننوتل. د اسلامي امارت د مسؤلو مقاماتو په انـد چـون هغـه شـیبې کاملا جنگي وې؛ نو کشرانو طالبانو ته د ډیپلومات اوغیـر دېپلومـات درک نـه لگیـده او مهمه خبره دا چې له هر اړخه او له هر دولتي تعمیر څخـه پـه مسلسـل ډول ډزې کیـدلې نویو امکان داو؛ چې د جنگي او غیر نورمال حالت له وجې دې ایراني اتبـاع هـم هـدف گرځیدلي وي او ممکن جنگي طالبانو دا فکـر کـړی وي چـې دغـه کسـان د محقـق او خلیلي خلک دي.

او ددې خبري امکان هم نشي رد کېدلی چې دا کار دې د شمالي ټلوالې افـرادو د یوه سازش له مخې کړی وي؛ ترڅو ایران د طالبانو پر خلاف یـوې لـویې جگـړې تـه را وپاروي.

بهرحال اسلامي امارت پـه هغـه مهـال نومـوړې پیښـه پـه کلکـه توگـه وغندلـه او ایراني دولت ته یې اطمینان ورکړ چې چمتو دي؛ د پیښـې پـه بـاب بـې پـرې تحقیقـات وکړي، عاملین یې پیدا او د عدالت منگلو ته یې وسپاري.

خو ایراني چارواکي سختو احساساتو اخیسـتي وو داسـلامي امـارت غـږ تـه یـې هېڅ غوږ کېنښود، خبره تردې ځایـه ورسـېده؛ چـې ایـران د افغانسـتان غـربي پولـو تـه نیږدې لسگونه زره عسکر او لویې وسلې ځای پرځای کړې او گـوابڼ یـې وکـړ کـه پـه اصطلاح دهغوئ ددیپلوماتانو قاتلین ورته ونـه سـپارل شي نـو پـه افغانسـتان بـه حملـه وکړي.

په مقابل کې د اسلامي امارت زعیم مرحوم ملا محمـد عمـر مجاهـد ایرانیـانو تـه وویل: چې د احساساتو پرځای له هوش او تـدبیر څخـه کـار واخلـئ، جنگ او زور د

حل لاره نه ده، دواړه ګاونډي هېوادونه يو، بايد ټول مسـايل د خـبرو لـه لارې حـل کـړو او د ايران او افغانستان له جګړې څخه مقابل لوري (اسـلام د ښـمنه قووتونـو) تـه ګټـې رسيږي.

لـوی مـلا صـاحب رح چـې کلـه د ايـراني واکمنـو غـورځې پرځـې او د يرغـل ګواښونه وليدل چې نه په کراريږي؛ نو د خپل هېواد پولوسـاتلو او دفـاع تـه يـې زرګونـه افراد له درنو وسلو سره ولېږل، ايران ته يې په ډاګه وويل: چې افغانـان د جګـړې هـوس نه لري بلکې ستړي او ستومانه دي؛ خو که د يرغل او تجاوز معمـولي حرکـت مـو هـم وکړ؛ نو تر وروستۍ سلګۍ به درسره وجنګيږو او تر اصفهان پورې بـه مـو د اللـه پـاک په نصرت وځغلوو.

ايرانيانو چې د مرحوم ملاصـاحب او اسـلامي امـارت جـديت او لـه خپـل هېـواد اوارضيي تماميت سره د ځان ځاروني ترکچې مينـه وليدلـه چـې هـيڅ تسـامح او چشـم پوشۍ ته نه دي تيار؛ نو د ايران لوی مشر (خامنه ای) مداخله وکـړه او پـه ډېـر حکمـت يې خپل پوځونه او وسلې د افغانستان له سرحداتو څخه وروسته او پرشا کړې.

همدا ډول د اسلامي امارت د واکمنۍ پـر مهـال طالـب مشرـانو تـه داسـې اطـلاع ورسېده چې د هيواد د ختيځي سيمې ننګرهار په پوله د ګوشتې ولسوالۍ پـه مربوطـاتو کې د پاکستان له لوري په صفري نقطه کې څه خـلاف ورزی شـوې او پاکسـتانيان څـو قدمه وړاندې راغلي دي؛ نـو د امـارت لـه لـوري د سرحـدونو او قبـايلو چـارو د وزيـر مرحوم مولوي جلال الدين حقاني رحمه الله په مشرۍ لوړ پـوړی پـلاوی وټاکـل شـو، هغوي نوموړې سيمې ته ولاړل، لـه مېشـتو قبـايلو مشرـانو سره يـې لـه نيـږدې وليـدل، حقايق يې ځانته معلوم کړل او دا خبره يې درک کړه چې پاکستانيان پـه رښـتيا هـم څـو قدمه وړاندې راغلي دي؛ حقاني صاحب رحمه الله په هماغـه ځـای کـې د پاکسـتان لـه سرحدي مسئولينو سره وليدل او د هغوي تجاوز (پېش قدمي) يې ورپه ګوته کړه.

د پاکستان سرحدي مسـئولینو د څـو ورځـو مهلـت غوښـتنه وکـړه، مګـر مولـوي جلال الدین حقاني رحمه الله ورته وویل: چې " ترهغې مونږ مطمئـین شـوي نـه یـو او پخپلو سترګو مو ستاسو شاتګ نه وي لیدلی مونږ بیرته نه ستنیږو او په دې لـوړو ژورو کې درته اړوو .

بیا د پاکستاني چارواکو له لوري حـال راغـی چـې مـونږ سـتاسي اندېښـنه لیـرې کوو خو که دغه موضوع لږ رسمي بڼـې تـه واړوئ او د مطبوعـاتو پـه مـخ تـاسي د یـاد تجاوز ذکر وکړئ او هم یې د حل یادونه وکړئ؛ نو دا به د اینـده لپـاره هـم ګټـور عمـل وي،

دامارت پلاوي ورته وویل: چې تاسي کله تجاوز ته متې بډوهلې، هلتـه مـو ولـې مطبوعات نه خـبرول چـې اوس مطبوعـات خـبروئ!؟ هماغـه وو چـې کلـه نومـوړې ستونزه حل شوه او پاکستانیانو خپلې مورچې شاته کړې نو د اسـلامي امـارت وفـد لـه سیمې څخه راستون شو. خو متأسـفانه پـه نومـوړي سـیمه کـې د اسـلامي امـارت لـه دورې وروسته د غلام حامد کرزي او غلام اشرف غني په دورو کې پاکستانیانو لـه لـس کلومتره زیاته صفري نقطه هضم کړې او پېش قدمي یې کړې ده.

همدا راز د امارت د دورې پر مهال ډیورنډ لاین ته نږدې د تورخم په ساحه کـې د پاکستانیانو یو مړی وموندل شـو. د پاکسـتان حکومـت غوښـتل چـې د یـادې پېښـې د څېړنې لپاره په ډیورنډ کرښه تورخم لوري ته ور واوړي، د ولایت مسئولینو له لوري لـه مشر ملا صاحب نه هدایات وغوښتل شول، لوی مـلا صـاحب رح ورتـه اجـازه ورکـړه چې را وا دې وړي، خو پـه سـاده لبـاس کـې؛ پـوځي او حکـومتي دریشي- کـې بـه نـه راځي. که څه هم دا خبره په دوي ډیره درنه تمامه شوه خو بیا هـم پـه سـاده جـامو کـې راغلل او خپل تحقیقات یې تر سره کړل.

بیا څه موده وروسته چې کله څه طالبـان پـه ډیورنـډ کرښـه اخـوا تـه واوښـتل نـو پاکستاني پوځیانو غوښـتل چـې پټکـي تـرې لـرې کـړي، ځکـه چـې وای تاسـو زمـوږ دولتي/رسمي یونیفارم راباندې لرې کړی وو، موږ مجبور یو ستاسو یونیفـارم (پټکـي) لرې کړو، خو طالبانو سخت مقاومت ورسره وکړ، او هغـوي یـې دېتـه پرېنښـودل چـې پټکي ترې لیرې کړي.

دغه ډول پیښې له پاکستان سره دغـلام خـان، بـبرک تـانې، کـونړ، بولـدک اونـورو سرحدي پولوکې څو واوره مخي تـه راغـلي چـې اسـلامي امـارت پـه خـورا جـدیت او حکمت دفع او خاموشه کړي.

دافغانستان له لوړو ملي ارزښتونو، سترو مصـالحو او د افغانـانو لـه نـبض سره د اسلامي امارت د وفادارۍ به تردې بل ښکاره ثبوت څه وي؟ چې د پاکسـتان د عـوامي نیشنل گوند مشرـ اسـفندیار ولي یـې پـه ډېـرو مرکـو او وینـاوو کـې یادونـه کـوي او د نوموړي هیواد د کورنیو چـارو د پخـواني وزیـر نصـیرالله بـابر د خـولې هغـه حکایـت رانقلوي چې په کندهار کـې یـې لـه مـلا محمـد عمـر مجاهـد سره د لیـدلو پـر مهـال د افغانستان او پاکستان حساسه موضوع (ډیورنډ لایـن) یادونـه کـړې وه (اسـفندیار وایـې نصیرالله بابر راته وویل: زه په کندهار کې له ملا محمد عمر مجاهد سره پـه دسـترخوان ناست وم، ډوډۍ مو خوړله؛ دا خبره مې ورته وکړه چې امیـر صـاحب! کـه دا د ډیورنـډ کرښه مو ومنله نو دا ټوله مسله/مشکل حل کیـږي، بـابر ویـل مـلا صـاحب راتـه وویـل کېږده دا مړۍ (گوله) دې، پاڅه او ځه خاینه!!)

که څه هم د پښتنو په درانه کلتور کې دا ډېره لویه او درنـه خـبره ده چـې مېلمـه لـه خپلې حجرې او دسترخوان څخه وشړي خو دا د امـارت اسـلامي د زعـیم مـلا محمـد عمر مجاهد رحمه الله له گران هېـواد او مـومن ولـس سره د مینـې هغـه پوشـیده راز وو

چې له بل وطن څخه راغلی مېلمه یې لـه خپـل دسـترخوان څخـه پاڅـاوه او لـه هېـواد څخه یې ورته د وتلو امر وکړ.

خلاصه داچې داسلامي امارت دهیواد له ارضي تمامیت څخه په ټینګه دفـاع کـړې او د واکمنۍ په مهال یې دهیـواد یـوه لویشـت خـاوره هـم کـوم ګاونـډي نـه ده غصـب کړې.

امـــارت اسـلامی ونابـودی مخــدرات

مولوي سيد مطيع الله خلوتي

نویسنده واگاه امور سیاسی وجهادی کشور

بیایید پرده از حقایق برداریم، دور از تعصبات حق بگوئیم واعتراف کنیم که درحقیقت امارت اسلامی نعمت عظیم خداوندی وکاروان خوبان این امت درکشور بود که هنوز بسیاری از مردم آن را درک نکرده اند، آزمون های دشوار و فراز و نشیب های این دو دهه، بیشتر صدق و صفای رهروان این کاروان را ثابت ساخت وتاریخ نیز شهکاری ها وابتکارات امارت را به خاطره ها سپرده و از آن یک به یک یاد خواهد کرد.

هنوز دیر نشده ومردم خوب به یاد دارند که چهره های مزدور با استفاده از نام جهاد با خون شهدای کشور که در برابر تجاوز شوروی ها شهید شده بودند، بازی کردند و نه تنها آرمان شهدا را به مسخره گرفتند، بلکه عوض اقامه نظام خالص شرعی درکشور، به جان هم افتیدند وجنگ های ذات البینی را آغاز کردند و کشور را با خطر تجزیه وملک الطوایفی محکوم ومردم را هواره و به پریشانی های زیادی روبرو کردند.

جرایم، چپاول، ظلم واستبداد، وحشت و بربریت، میخ کوبی بر سینه ها و رقص مرده حتی هتک حقوق انسانی و جنایات گوناگونی درکشور بی داد می زد، زن و مرد ملت، از نجات نجات گفته و وامعتصما فریاد می کشیدند.

و جای بسی تأسف است که اکنون این جانیان مزدور که شهر کابل را به مخروبه تبدیل کرده بودند به مثل گرگ های لنگ درسفره اشغالگران امریکایی گردهم جمع شده اند و سخن از دست آورد ها و تمدن می زنند!؟

همین بود که کاروان طالبان زیر قیادت امیر فقید امارت اسلامی امیرالمومنین ملا محمد عمرمجاهد رحمه الله از بین مردم بروز کرد وهمه ای ملت از این کاروان، به صدق جان ومال استقبال نمودند ونظام امارت اسلامی در بیشتر از نود و پنج فیصد خاک کشور حاکم گردید امارتی که مجد وعظمت اسلام را به امت الهام کرد ومسلمانان را به یاد خلفای اسلام که اصلا به باد نسیان رفته بود، انداخت.

اگرشهکاری های دوران امارت اسلامی را بنویسیم یک کتاب ضخیم از احتوای آن ناتوان خواهد بود چه رسد که در این فشرده، از آن یادی نمائیم.

اما دراینجا، می خواهیم صرف یکی از شهکاری های امارت اسلامی را فشرده ذکر نمائیم که امارت اسلامی آن را با وجود ظروف ناگوار جنگی وتعذیرات ظالمانه جهانی، انجام داده بود، آن ابتکاری که جهانیان را مبهوت ساخت، آن منع پدیده تباه کن (کشت، قاچاق و پرسس مواد مخدر) بود، چیزی که جهانیان و بشریت را تهدید می کرد، در آن زمان، مخدرات سراسر کشور را آغوشته ساخته بود و محو آن کاری سهل وآسانی نبود.

افغانستان در ردیف دوم کشورهای قرار داشت که کشت، قاچاق و پروسس مواد مخدر درآن ترویج یافته بود ومردم و جهانیان کاملا از جلو گیری آن عاجز بودند، من خوب بیاد دارم [چون درآن زمان مسئول ریاست چهار سیاسی وزارت خارجه امارت اسلامی بودم واین ریاست تعقیب امور کشورهای اروپا وامریکا را بدوش داشت] که جهانیان به ویژه اتحادیه اروپا از ازدیاد مواد مخدر در افغانستان شکوه می نمودند و چنان به فغان رسیده بودند که آن اتحادیه برای محو این پدیده مبلغ ۵۰۰

میلیون دالر امریکایی تخصیص کرده اعلان کرده بود تا به وسیله موسسات ملـل متحـد از راه های مختلف به مردم کمک شود تا مردم از کشت ایـن بوتـه مهلـک دسـت بـردار شوند، حتی همین اکنون کشور های بسیاری اند که غرض محو مواد مخـدر ملیـارد هـا دالر مصرف می نمایند اما نمـی تواننـد ایـن بوتـه تبـاه کـن را از کشـور هـای شـان قلـع وقمع نمایند.

لکن امارت اسلامی بدون دریافت یک افغانی پیسه از کدام کشـور خـارجی و یـا نهاد بین المللی، و بـا وجـود مشـکلات و فقـر، طـی یـک فرمـان امیرالمـومنین جلـوی کشت کوکنار و خشخاش را گرفته و احدی در افغانستان بعـد از آن فرمـان، نـه جرئـت کشت مخدرات را داشت و نه می تواست مواد مخدر را معامله کند.

دلیل اش این بود چونکه امارت اسلامی از بین ملت و مردم اش تشکیل شده بـود وخدمات اش قلب و ذهن مردم را فریفته خود ساخته بود، مردم و ملت همـه از جـان و دل فرمان می بردند و از فرامین امیر المومنین فقید، مخلصانه اطاعت می نمودند.

تکرار می گـویم بـا وجـود فقـر وتنگدسـتی کـه دامـن گیـر ملـت ومـردم مـا بـود ومشکلات زیاد اقتصادی وجـود داشـت وحاصـلات خشـخاش منبـع خـوب عایـداتی برای مردم نیز به شمار می رفت اما امارت اسـلامی درسـال ۲۰۰۱ مـیلادی بـا صـدور یک فرمان که در آن کشت، قاچاق وپروسیس مـواد مخـدر ممنـوع قـرار داده شـد، ایـن بوته مهلک درتمام کشور برچیده و ریشه کـن گردیـد ومـردم از کشـت آن کـاملا دسـت بردار شدند واز همه بیشتر مایه افتخار اینست که مردم بدون اینکه شـکنجه شـوند، لـت وکوب و یا تعذیب شوند و یا بخاطر از بین بـردن کشـت آنـان، خسـاره مـالی برداشـت نمایند، مردم با رضا ورغبت واظهار اطاعت از فرمان امیر گرانقدر شان، از کشـت مـواد مخدر کاملا دست کشیدند واین بوته تباه کن درآن زمان از کشور عزیز ما افغانسـتان بـه

کلی قلع وقمع گردید واین ابتکـار وافتخـار هـم نصـیب امـارت اسـلامی شـد وفرمـان متذکره نیز در جریده رسمی امارت اسلامی نشر شد وکاپی آن ذیلا آورده شده است.

هنوز فراموش نکرده ایم هنگام که این فرمان از رادیو صدای شریعت نشرـ گردیـد واستقبال مردم از این فرمان نیز پـر رنـگ وچشـمگیر بـود، مغرضـان ودشـمنان امـارت اسلامی از این شهکاری ودست آورد امارت، نگران شدند و دست به تبلیغات زدند کـه گویا واقعیت امر خـلاف آن اسـت کـه رادیـوی شریعـت طالبـان میگویـد یعنـی کشـت خشخاش کاملا مسدود نشده این تبلیغات طالبان است، همین بود که یـک هئیـت ملـل متحد رسما وارد کشور شد وتحقیقات را از نزدیک آغاز کرد تا بفهمنـد کـه درحقیقـت کشت مواد مخدر در کشور باصدور یک فرمان خالی مسدود شده یا خیر؟

همن بود که هئیت ملل متحد با صدور یک راپورمفصل درسـال ۲۰۰۱ مـیلادی، به صراحت نوشت که هیئت ملل متحد در افغانستان بیشتر از ۲۰۰۰ قریـه را کـه خـود آنان خواسته بودند، سروی کردند ویک بوتـه خشـخاش را درایـن دو هـزار قریـه سروی شده نیافتنـد وعمـلا دیدنـد کـه امـارت اسـلامی بـدون اعـمال کـدام فشـار و مصـارف توانست مواد مخدر را درسراسر کشور ریشـه کـن نمایـد وبـی بـی سـی خلاصـه راپـور متذکره را طی یک چارت ارایه نمـود و کـاپی چـارت یـاد شـده درپایـان نیـز نقـل شـده است.

این نمونه ای از شهکاری هـای امـارت اسـلامی در کشـور بـود کـه در راسـتای محو مواد مخدر انجام داده بود، امروز امریکـای اشـغالگر بـا متحـدین نـاتو و شرکـای بین المللی اش، کشت مخدرات را در کشور نه تنها بـر حالـت صـفر کـه قـرار داشـت، حفظ نکردند، بلکه کشت، پروسیس و قاچاق آن را درکشور از صفر به بـالاترین درجـه گسترش دادند و حالا افغانستان دراین مورد، ردیف اول را درجهان کسب کرده است.


افغانستان بعد از اشغال اش توسط امریکایی ها وناتو، با تباهی مـادی ومعنـوی روبرو گردید، اگرکشور ما از یک طرف از اثر بمبـاران بـی رحمانـه وقتـل هـای عـام توسـط امریکـایی هـا بـه ویرانـه ومخروبـه مبـدل گردیـد ومـردم را بـی امنـی، غـارت و اختطاف ها، نبودن زمینه تعلیم ومکاتب، یورش های شب هنگـام، موجودیـت زنـدان های شخصی وزورمندان تهدید می کند از سوی دیگر این کشور بـه مرکـز بـزرگ مـواد مخدر نیز تبدیل شده و حیات میلیون ها افغان را بـه مخـاطره انداختـه اسـت وبیشـتر از ۳ میلیون از هموطنان ما به این بیماری مهلـک معتـاد گشـته انـد، بلـی همـین اسـت از دست آورد های مهم هژده سال اشغال درکشورعزیز ما افغانستان!؟

اکنون عموم مردم و ملت از اعمال ننگین امریکایی ها واداره دست نشـانده شـان چنان به ستوه آمده اند که هر ریش بلند وعمامه بر سر را به گمان طالـب و نـاجی خـود می دانند و تشنه وار انتظار برگشت دوباره شان را می کشند، دیر نشـده ومـردم آن زمـان (حاکمیت امارت اسلامی) هنوز زنده هستند وکارنامه ها و خـدمات مخلصـانه امـارت اسلامی هنوز بر سر زبـان هـا موجـود وهمـه آن را بیـاد دارنـد و از سـوی دیگـر ملـت مظلوم ما نیز تلخی وحشت و مظالم اشـغالگران و مـزدوران شـان را بـه خـوبی تجربـه کردند.

امروز ملت مظلوم و رنجیده کشور از همه بانـد هـا، گـروه ونهـاد هـا، نـا اومیـد شده اند، یگانه چشم امید به برگشت دوباره طالبان دوخته اند وعاشـقانه قـدوم شـان را بر دیده های خود می کشند درحالی کـه نویـد فـتح نیـز فضـای کشـور را کـاملا گـوارا ساخته امید است به زودی ان شاء اللـه نظـام شرعـی آزاد ومسـتقل امـارت اسـلامی بـه کشور باز گردد و آرمان شهدا، معیوبین، مهاجرین و مجاهدین همه برآورده شود.

و ما ذلک علی الله بعزیز

فرمان امیر المومنین "رحمه الله" درمورد منع کشت خشخاش که در جریـده نشرـ شد وهمچنان چارتی که راپور ملل متحد را خلاصه نشان داده است:



رسمي جریده

دمخدره موادوپر ضد د امارتي عالي هیئت (کمیسون) داساسنامې دانفاذ په هکله دافغانستان اسلامي امارت دمقام فرمان

گڼه :(۹)

نیټه:۲۲-۳-۱۴۲۱ه ق

دافغانستان اسلامي امارت درئیس الوزراء د تا ئید پراساس دمخدره موادو پر ضد دامارتي عالي هیئت(کمیسون) اساسنامه په (٦) فصلونو او (۲۸) مادو کي تو شیح کوم .

دغه اساسنامه د توشیح له نیټي نه نا فذ ه اوپه رسمي جریده کي دي خپره شي.

والسلام

داسلام خادم

امیرالمؤمنین ملامحمد عمر(مجاهد)

فرمان مقام امارت اسلامي افغانستان درموردانفاذ اساسنامهٔ هیئت (کمیسون) عالی امارتی مبارزه علیه مواد مخدر

شماره:(۹)

تاریخ:۲۲-۳-۱۴۲۱ه ق

به اساس تائید رئیس الـوزراء امـارت اسلامي افغانستان اساسنامه هیئت (کمیسون) عالی امارتی مبارزه علیه مواد مخدر را بداخل (٦) فصل و(۲۸) ماده توشیح میدارم.

این اساسنامه از تاریخ توشیح نافذ ودرجریدهٔ رسمي نشرگردد.

والسلام

خادم اسلام

امیر المؤ منین ملا محمد عمر(مجاهد)

دمخدِره موادو پر ضد دامارتي عالي هیئت (کمیسون) اساسنامه

اسلامي امارت مرکزي واکمني رامنځته کړه

ډاکټر عبدالحنان همت

لیکوال، شاعر او دطب ډاکټر

د افغانستان په تاریخ کې د ملوک الطـوائفي دورې مخکـې هـم راغلـې وې، خـو دټوپکیانو دوره او هلته موجوده ملوک الطوائفي بیخي بېسارې وه.

پـه ۱۹۹۲ ز، کـال چـې مجاهـدین پـه شـیندلي ډول کابـل تـه ننوتـل نـو ملـوک الطوائفي او سیمیزو حکومتونو نور هم زور واخست، او دهیـواد دتجزیـه کیـدلو خطـر نور هم زیات شو، که څـه هـم هلتـه هـم مجاهـدینو دصـبغت اللـه مجـددي پـه مشرۍ یـو سمبولیک حکومت جوړ کړ، خو دغه حکومت تر پایه هم له ارګه ونه ووت.

دا چې مجاهدین د جهاد د دورې له شروع څخه سره پاشـلي وه او لـه ډیـرو هڅـو سره سره د جهاد تر پایه پـر یـوه ګونـد سره متحـد نـه شـول، نـو کابـل تـه هـم پـه همغـه متشتیت حالت کې داخل شول، هغه وخت هـر ګونـد د خپلـې مفتوحـه سـیمي مطلـق واکدار و، نور هیواد خو پرېږده، یوازې د هیواد پایتخت د څو واکمنیـو شـاهد و، دکابـل ښار محدودې ناحیې پر څو واکداریو عملا تجزیه شوې وې او دغـه وړې پـاچهۍ ډیـر ژر د یوه او بل په وړاندې سره ښکر په ښـکر شـوې، دوی پـه خپـل میـنځ کـې تـر ټولـو ډیرې بدې خونړۍ جګړې وکړې، چې په تـرڅ کـې یـې د کابـل ښـار د نړولـو ترڅنـګ زموږ ٦٠ زره کابلیان هم په شهادت ورسیدل، د تنظیمونه دغه ملوک الطوائفي او جـلا

واکدارۍ یوازې تر کابله محدودې نه وې، بلکې د هیـواد گـوټ گـوټ د سـلگونو وړو پاچهیو شاهد و.

هر ولایت او هرې ولسوالۍ ځان ته حکمران او هغـه بیـا لـه خپـل ذهـن سره سـم ځان ته قانون درلود، هر قومنـدان ځـان تـه پاچـا و، هـر قومنـدان بـه د خپلـو عوائـدو د جمعه کولو په پار د ولس ځورولو اوشکولو لپاره پر عامو لارو پاټک درلود.

په ټول هیواد کې خپل سري او ظلم دومره اوج تـه ورسـېد چـې هیچـا هـم ځـان د خپل مال مالک نشو بللی، په سـلگونو داسي پېښـې رامینـځ تـه شـوې چـې خـود سرو ټوپک سالارانو له خلگـو د مـالونو او پیسـو تـر څنـگ مړوښـې ښـځې، پېغلـې او کـم عمرهلکان په زور بوتلل.

د وخت حاکم دومره بې اختیاره و چې رباني د یوه مظلـوم هیـوادوال پـر عریضـه چې ښځه یې یوه زور واکـي قومنـدان پـه زور ځینـي گرځـولي وه، شـاته ولیکـل چـې "قومندان صاحب زنش واپس بدهید" نور د چا وس او اختیـار نـه و چـې دا ډول ظـالم ته هم تر صاحب پورته څه ووایې.

افغانستان په مطلق ډول له نړیوالې ټولنې څخه منـزوي شـوی و، یـوازې گاونـډي هیوادونه و چې د خپلو گټو په خاطر یې څه رابطې درلودې، خـو هغـه هـم لـه شرمـه او ذلالته ډکې.

د بهرنیو چارو د وزارت د تشریفاتو یوه مامور کیسه کوله وایې رباني پاکسـتان یـو رسمي سفر درلود، کله چې هـوایې میـدان تـه ورغلـی پـه سـفر کـې د مسـعود خـاص کسان نه و ځای شوي، د مسعود کسانو رباني ومیـدان تـه پـرې نـه ښـود او سـفر بیرتـه لغوه شو، په داسې حال کې چې مسعود درباني خپل قومندان و.

د وخت حاکم صبغت الله مجددي د جمعیت یو قومندان د یوه ښـکاره ظلـم لـه امله بندي کـړ، د قومنـدان خواخـوږي را ټـول شـول پـر ارگ یـې بریښـنا او اوبـه بنـدې کړې، بالاخره مجددي مجبـور شـو چـې قومنـدان دکـومې محکمـې لـه پریکـړې پرتـه خوشي کـړي. د کابـل پـه ښـار کـې د ارگ شـاوخوا د حـزب وحـدت، جنـبش، حـزب اسلامي، جمعیت اسلامي، اتحاد اسلامي، حرکت اسلامي او څو نورو تنظمونـو جـلا جلا حکمرانۍ او جلا جلا قوانین موجود وو.

ټوپکسالارانو په خپل مینځ کې او پر ولس دومره ظلمونه وکړل چې تـاریخ یـې لـه یادولو هم عاجز دی، دوی د خپل رقیب د ښه سوځولو لپاره هر وخت په ظلمونـو کـې نوي نوښتونه کول، مثلا له یوه بندي به یې سر پرې کـړ او بیـا بـه یـې دسـتي پـه ایشـول شویو تیلو کې واچاوه، کله چې به هغه بې سره تنه غورځیده، نو دې تـه بـه دوی رقـص مرده ویل، د حزب وحدت کسانو له لسگونو پښتنو ښـځو تي (سـینې) پـري کـړل او پـه څو پارسله کې یې سیاف ته دتحفې په ډول ور ولیـږل، دا ډول د خلگـو پـه سرونـو کـې میخونـه ټـک وهـل هـم د بنـدیانو لپـاره یـو ډول شـکنجه وه، دوی بـه حاملـه ښـځې د لینگیدلو تر وخت له ځان سره وساتلې، تر څو د دغه خاص حالت تماشـه هـم وکـړي، په کابل کې چې به یې هـر کورتـه زړه وغوښـتل، ننوتـل بـه او هـر ډول وحشـت بـه یـې کاوه، خو چا یې ځواب نه درلـود. د ارگ پـه نامـه واکـدار هـم پـه مرکـز کـې او هـم پـه ولایتونـو کـې لـه هـر ډول نفـوذ او حاکمیـت نـه بـې برخـې و، د هیـواد ټـول ولایتونـه خپلواک و، تر پایه هم د مرکز امر او دمس، لینو ټاکنې پکې ونه منل شوې.

د شمال ولایتونه د گاونډیو هیوادونو په لمسون دې ته تیـار وو چـې هیـواد تجزیـه او خپل ځان ته د خراسان په نامه یـو مسـتقل هیـواد اعـلان کـړي. دوی بـه پـه ښـکاره د شمال د سرحدي ولایتونو پر دروازو لیکلي وه: «به سرزمین خراسان خوش امدید. »

حالات ورځ تر بلې خرابیدل، ولس تـر ټولـو خطرنـاک او نـا امنـه حـالات تجربـه کول، هیڅوک نه پوهیدل چـې اخـر بـه څـه کیـږي. ټوپـک سـالاران ورځ پـه ورځ قـوي کیدل چې څومره به څوک ډیر نا اهله او ظالم و پـه همغـه کچـه بـه یـې د قـدرت سـاحه پراخیدله. له بې دفاع ولس څخه هر څه هېر و، یوازي د خپـل سرامـن او د عـزت سـاتلو ته حیران و.

په دغسي نامساعده حالاتو کـې اللـه ج د دې خـاورې د یـوه مخلـص او دردمنـد بچي (ملا محمـد عمـر مجاهـد رحمـه اللـه) پـه زړه کـې د خپلـې سـیمې د یـوه ظـالم قومندان په وړاندې د مقاومت فکر پیدا کړ، دا وخت ملا محمد عمـر مجاهـد د کنـدهار ولایت د میوند ولسوالۍ د سنگسار په سیمه کې پـه یـوه محـلي مدرسـه کـې د جهـاد د وخت له څو محدودو ملگرو سره د دیني علومو پـه زدکـړه بوخـت دی چـې د هیـواد او سیمې حالات یـې یـوه داسي مقاومـت تـه مجبـوروي چـې گټـل او بـدلون یـې بیخـي ناممکن ښکاري، خو هغه پر ظاهري وسـائلو او بیخـي نامسـاعدو حـالاتو حسـاب نـه کوي، هغه او د هغه څو محدود ملگري یوازي له خپـل رب سره وعـده کـوي چـې څـو مو توان وي موجوده حالاتو ته به مثبت بدلون ورکوو.

ملامحمـد عمـر مجاهـد د هغـو مجاهـدینو لـه جملـې څخـه و چـې طالبـانو، مجاهدینو او د سیمي خلگو په دیانت، تقوی، دلاورۍ او قاطعیت سره پیژنـدلی و، کـه څه هم په سیمه کې نور داسي کسانو شـتون درلـود چـې تـر مـلا محمـد عمـر مجاهـد رحمه الله یې علمي او جهادي شهرت زیات و، خو هغه رښـتینولي او دیانـت چـې پـه لوی ملا صاحب رحمه الله کې و، په نورو کې په هماغه کچه نه ترسترگو کیده.

د۱۹۹۴ زکال د اکتوبر په لـومړۍ اونۍ کـې مـلا محمـد عمـر مجاهـد د کنـدهار ولا یت د ژړۍ ولسـوالۍ د حـوض مـدت سـیمې پـه سـپین جومـات کـې د خپلـو ۳۵ ملگرو په درلودلو سره د شته فساد په وړاندې دمقامت او خپل شتون اعلان وکړ.

داچې له یوې خوا د کندهار په مجاهدینو کې طالبانو او مـلا محمـد عمـر مجاهـد نېک شهرت درلود او له بل پلوه خلگ له فسـاده سـتړي او مایوسـه وو، نـو پـه ډېـر کـم وخت کې د سیمې دینداره خلگ په جوپو جوپو له دې بې وسـه او محـدود ډلگـي سره یوځای شول، په دې وخت کې د سـیمې دینـداره او پـر کـور ناسـتو مجاهـدینو خپلـې ټولې وسلې، نقلیه وسائط او پیسې د دوی په اختیار کې ورکړل.

په لنډ وخت د هیواد لـه مختلفـو سـیمو طالبـان او زاړه دینـدار مجاهـدین پـر مـلا محمـد عمـر مجاهـد را ټـول شـول او دکنـدهار لـه تصـفیه کولـو وروسـته دا تحریـک د خلگو په غوښتنه او مرسته په نورو ولایتونو کې هم د فساد په وړانـدي مقاومـت شروع کـړ او دوه کالـه وروسـته یـې د هیـواد د زیـاتو ولایتونـو پـه شـمول کابـل هـم تـر خپـل تصروف لاندي راووست. له هغه وروسته پـه لنـډ وخـت کـې طالبـانو د هیـواد شـمالي ولایتونـه هـم یـو پـه بـل پسـې فتحـه کـړل، دا وخـت لـه بدخشـان او پنجشـیر پرتـه ټـول افغانستان د طالبانو ترتسلط لاندي راغلی.

طالبان که څه هم له سیاست او له نړیـوالې ټـولنې سره پـه تعامـل کـې نابلـده وو، خو د خپل ولس له غوښتنو او د هغوی له نبض سره تر بل هرچا ښه بلد وو. په ډېـر لنـډ وخت کې یې د ولایتونو او مرکز ټولې وړې او غټـې پـاچهۍ ونړولـې او پـه ټـول هیـواد کې یې دیو مثالي امن تر څنگ د خلگو لـه خوښـې سره برابـر یـو واحـد نظـام میـنځ تـه راووړ، د ټوپک سالارۍ او کمونستي وحشت له املـه چـې کـوم اداري نظـام لـه منځـه تللی و، بیرتـه یـې د ټولـو اداري واحـدونو پـه فعالـه کولـو سره د هیـواد شرق او غـرب، شمال او جنوب تر یوې قومانـدې لانـدې پـر یـوه شـفاف او پیـاوړي نظـام سره را ټـول کړل.

د طالبانو څو عجيب امتيازي صفتونه:

لومړی ټوپک سالاران ټول غله وو او په دې برخه کې يې هر هغه څه غلاکړل چې لاسه ته ورغلل، آن الوتکې او ټانکونه يې هم پرزه او بيا د کباړ په بيه خرڅ کړل، خو طالبانو ته د بيت المال يوې افغانۍ هم بيخي زيات ارزښت درلود، د بيت المال ټوله وسله، مهمات او وسائط يې جمعه او په خپلو ډيپوگانو کې ليسټ بند او محفوظ کړل.

په ټوپک سالارانو کې د مشر اطاعت، د يوې ادارې شتون او د مرکزيت تصور هم ناشونی و، هرڅوک پر خپل سر د خپل ځان واکدار و چې څه يې زړه غوښتل هغه يې کولی شو او بيا يې د پوښتنې او تعقيب څوک هم نه و، خو بالعکس طالبان بيا د يوه امير ترقوماندې لاندې ټول سره متحد وو، طالبان که د هر قوم، هرې ژبې او هر سمت وو، ټولو ته د خپل امير ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله امر منل يو عبادت ښکاريده، ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله پر خپل پوځ او رعيت دومره حاکم و چې په يوه فرمان سره يې ټول چارواکي منفک کولی او هر څه يې لغوه کولی شوای. هغه د خپل اقتدار په وخت کې خپل تر ټولو لوړ پوړي پوځي چارواکي خالي سلا او کورته وليږل، هيڅوک هم پيدا نشو چې د شکايت کولو جرآت وکړي، زما په ياد دي چې هغه يوځل په يوه فرمان سره تر ٦٠ ډير مختلف چارواکي چې په هغو کې وزيران، واليان، پوځي قومندانان، قاضيان او نور شامل وو، ټول يا منفک او يا يو د بل پر ځای مقرر کړل، خو دچا دشکايت اواز پورته نشو.

طالبانو په ټول افغانستان کې د يوه پياوړي مسلط نظام په را وستلو سره ملوک الطوائفي او د هيواد تجزيې ته د تل لپاره د پای ټکي په ښودلو سره يوځل بيا د ولس هيلې وغوړولې. ټول هغه اداري واحدونه چې مکمل له مينځه تللي و، د طالبانو په

واکمنۍ کې بیرته له سره فعال شول. دغه مثبت بدلون خلګو او نړیوالې ټولنې ډیر ښه استقبال کړ.

زه (ددې کرښو لیکوال) یو وخت د کندهار ولایت د طلوع افغان ورځپاڼې په دفتر کې ناست وم، دبي بي سي راډیو ویاند علي ارغندابی راننووت، سخت متاثر او خوشاله مالومیدی، ما یې دامارت په اړه د تاثر غوښتنه وکړه، نوموړي عجیبه خاطره بیان کړه: « نوموړي وویل دوه کاله مخکې دغه ځای ته د زړو خاطرو د تازه کولو په نیت راغلم، چې ګورم دلته د ټوپکیانو یو ګروپ مېشت و، چرس یې څکول او دطلوع افغان ورځپاڼې په دغه دفتر کې یې سپي تړلي وو!!. ارغندابي ویل هغه وخت مې سخت وژړل، نور له کندهاره بیرته لندن ته په مات زړه ولاړم. خو اوس چې دطلوع افغان ورځپاڼې په دفتر کې د سپیو پر ځای کمپیوټرونه، قلمونه او کتابونه وینم او ورځپاڼه هم فعاله ده، نو زما لپاره تر ټولو غټه د ویاړه خبره همداشوه او دا افتخار یوازې طالب ته منسوب دی.

دا یوازې د طلوع افغان دفتر نه و چې دومره تغیر کې راغلی و، بلکې په ټول هیواد کې ډیر مثبت او هیله بخښونکی بدلون راغلی.

نو ځکه موږ په پوره یقین سره ویلی شو چې طالبانو د نورو غټو خدمتونو تر څنګ په افغانستان کې د یوه قوي او مسلط نظام د بنسټ په رامنځته کولو سره د ملوک الطوائفي او تجزیې مخه ونیوله.

طالبانو نور هم مثمر او تاریخي خدمتونه وکړل، خو د ملوک الطوائفي او تجزیې مخه نیول یو له هغو تاریخي کارنامو څخه دي چې هیڅکله به یې تاریخ او افغان ولس له یاده ونه وباسي

وماذلک علی الله بعزیز

امارت اسلامی و جهان اسلام

موفق افغان

نویسنده وپژوهشگر

امارت اسلامی با تمام کشورهای جهان بخصوص سرزمین های اسـلامی روابـط نیک و مبتنی بر احترام متقابل می خواهد و بارهـا ایـن خـواهش خـود را از طریـق نشرـ اعلامیه ها و نشست هـا بـا نمایندگان کشـورها و سرزمـین هـای مختلـف ابـراز داشـته است.

اگرچه فعالیت ها و مبارزات امارت اسلامی عمـلا منحصرـ بـه افغانسـتان بـوده است اما از نگاه فکر و عقیـده امـارت اسـلامی افغانسـتان خـودرا جـزء جهـان اسـلام دانسته و همیشـه مسـئولیت خـود مـی دانـد تـا در همـه حـالات بخصـوص در حـالات مشقت و دشواری در پهلوی برادران و خواهران مسلمان خود قرار داشته باشد.

امارت اسلامی معتقد است که مسلمانان در هر جا، هـر سرزمـین و در هـر نقطـۀ جهان بدون در نظر داشت سرحدات موجـود، رنـگ و نسـل بـرادر مـا هسـتند چنانچـه خداوند متعال می فرماید: «إِنَّمَا الْمُؤْمِنُونَ إِخْوَةٌ» (یعنی مومنان با همدیگر بـرادر انـد.) دوری مسلمانان از همدیگر از نگاه مسافت هـای ظـاهری و جـدایی ملـت مسـلمان بـا مرزهای ساخت کفار نمی تواند این رابطه و علاقه اخوت و بـرادری میـان مسـلمانان را متضرر سازد و آنان را از هم بپاشاند.

امارت اسلامی به صفت یک حرکت اسلامی چنانچه در حدیث رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ذکر شده است خود را در همه خوشی و غم مسلمانان در تمامی گوشه و کنار جهان شریک می داند و هرگز از مسئولیت خود در قبال ملت مسلمان بخصوص مستضعفان، مظلوم ها، مهاجرین و رنجدیدگان چشم پوشی نمی کند.

امارت اسلامی افغانستان همیشه چنانچه رسول الله صلی الله علیه وسلم می فرماید: «مثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى» (یعنی مثال مومنان در دوستی و مهربانی باهمی و عطوفت باهم مانند جسد واحدی است که چون عضوی از آن بیمار شود، سایر اعضاء با وی با تب کردن و بیدارخوابی همراهی می کنند.) درد و رنج ملت اسلامی را احساس کرده است و از آن رنج برده و در حد توان خود در پی راه حل مشکلات از طرق ممکن، تلاش ورزیده است.

امارت اسلامی افغانستان چون جزء لا ینفک این ملت است و به یقین می داند که چشم و امید مسلمانان جهان به آنها دوخته است و دعاهای مسلمانان در جریان این سالیان متمادی جهاد علیه اشغالگران با مجاهدین امارت اسلامی بوده است. امارت اسلامی سعی و تلاش می نماید تا این آرزوها و امیدهای مسلمانان را بر آورده ساخته و در راه دفاع از عزت، ناموس و عفت آنان در مقابل دشمنان اسلام آواز بلند کند و هر نوع خاموشی در این امور را بدور از اوامر شرع و مروت و مردانگی مسلمان می داند. امارت اسلامی با وجود اینکه در جریان دو دهۀ اخیر در دشوار ترین حالات قرار داشته است اما باز هم هرگز برادران و خواهران مسلمان خود در فلسطین، کشمیر، میانمار، سوریه، یمن، عراق، لیبیا و سایر سرزمین های اسلامی را فراموش نکرده است.

جهان شاهد بوده است که امارت اسلامی همیشه در دفاع از اسلام، مسـلمانان و مقدسات اسلامی آواز خود را به گوش تمام جهانیان رسانیده است و بـا نشر اعلامیه ها موقف صریح و واضح خود را در قبال این مسائل بیان داشته است.

علاوه بر این امارت اسلامی افغانستان همیشه ملل متحد، سازمان های دیگر بـین المللـی، کنفـرانس اسـلامی و جهـت هـای متجـاوز بـر حقـوق مسـلمانان را متوجـه مسئولیت های شان دانسته و از آنان تقاضا کرده است تا در حل و فصـل مشـکلاتی کـه مسلمانان جهان با آن روبرو اند نقش خودرا ایفا کنند. چنانچـه بارهـا امـارت اسـلامی طی نشر اعلامیـه هـا از کشـورهای نیرومنـد اسـلامی کـه توانـایی دفـاع از مسـلمانان و مقدسات اسلامی را دارند خواسته اسـت تـا در راه حـل مشـکلات مسـلمانان جهـان و دفاع از حقوق آنان نقش برازنده و فعال خود را ایفا نماینـد و عمـلا وارد اقـدام شـده و مسـلمانان مظلـوم و مستضـعف را در هـر گوشـه و کنـار جهـان کـه هسـتند از حالـت فلاکتبار کنونی نجات دهند.

رهبریت امارت اسلامی همیشه و بخصوص در ایام عید هرگز بـرادران و مسـلمان خود را در جهان بخصوص در سرزمین هایی که در حالـت جنـگ و مشـکلات هسـتند فراموش نکرده است بلکه در هر پیام عیدی خود یادی از آنان کرده و آنان را همیشـه در پهلوی مجاهدین امارت اسلامی شامل دعاهای خود گردانیده اسـت و از تمـامی اتبـاع امارت اسلامی خواسته است تا برادران و مسلمانان خود را فراموش نکنند.

امارت اسلامی افغانستان در روابط خود با جهان اسلام نیز ماننـد امـور دیگـر از اعتدال کار می گیرد و مسئولیت را به اندازهٔ توانمندی خـود ادا مـی کنـد. هشـدار هـای بی مفهوم دشمنان اسلام، در مخالفت با سیاسـت هـا و مواقـف بعضـی حرکـت هـای احساساتی دیگر، در حالی که در واقعیت هیچ کاری از توان آنان در مقابـل دشـمن در گوشه های دیگر جهان بـر آورده نیسـت موافـق بـا سیاسـت امـارت اسـلامی نیسـت و

امارت اسلامی همیشه تلاش می کند تا اقوال آن مطـابق و موافـق بـا اعـمال آن باشـد و هرگز ادعای آنچه را که بالاتر از توان آن باشد نمی کند.

بنـابرین امـارت اسـلامی بـدون اینکـه کشـورها و جهـت هـای ظـالم و مرتکـب جنایات علیه مسلمانان را هشدار دهد و یا ادعـای نـابودی و مبـارزه علیـه آنـان را کنـد آنان را متوجه ظلم و ستم شـان گردانیـده و اعـمال غیـر انسـانی و غیـر بشری آنـان را تقبیح می کند و در عین حال از جهـت هـای مسـئول و کشـورهایی کـه تـوان تغییـر در مسیر این جنایـت هـا را دارنـد خواهـان مداخلـه در چنـین موضـوعات بـه خـاطر حـل مشکل می گردد.

اهتمام امور مسلمانان، دفاع از عزت و ناموس آنان، بلند کردن آواز علیه هـر نـوع بی انصـافی، بـی عـدالتی، ظلـم و سـتم علیـه مسـلمانان در هـر گوشـه و کنـار جهـان وظیفه ایمانی، انسانی و وجدانی امارت اسلامی بوده است که در گذشته ها نیـز تـلاش کرده است تا بگونهٔ ممکن آن را ادا کند و در آینده نیز ان شـاء اللـه بـا تمـام تـوان خـود علیه جنایات دشمنان اسلام موضع خواهد داشت.

از اللـه تعـالی خواهـانیم کـه ملـت رنجدیـدهٔ مسـلمان مـا را در تمـام جهـان از مشکلات، دشواری ها، ظلـم و سـتمی کـه اکنـون در آن قـرار دارنـد نجـات بخشـیده و زمینهٔ زندگی با امن و محفوظ زیـر سـایهٔ حاکمیـت قـرآن در سرزمـین هـای اسـلامی را برای همه میسر کند. پایان.

إنما المؤمنون إخوة

نور احمد سعید

دعـثماني خلافـت لـه ړنګیـدو وروسـته غـربي اسـتعماري ځواکونـو د داخـلي ګوداګیانوپه مرسته د مسلمان ملت لساني، نژادي، سـیاسي اوجغرافیـایي بیلتـون تـه تـر پخوا لازیات لومړیتوب ورکړ. په ډیر تأسف سره دښمن ترزیاته حده په همـدې دسیسـه کي بریالی شو، عیني مثالونه یې د اسلامي نړۍ په مختلفوزاویوکي لیدل کیږي.

پـه مسـلمانانوکې ترډیـره ځایـه اوس دنړیـوالي (اسـلامي) وروړلـۍ دایـره یـوازي ترسیاسي او اقتصادي ګټواوجغرافیایي پولـو محـدوده شـوې. دمسـلمان پـه پرتلـه هغـه نامسلمان حکومتونه، ډلې اوافراد چې سوداګریزه اواقتصادي راکړه ورکړه ورسره لـري، ډیر غوره ګڼي، که څه هم همدا مسلمان هرڅومره ښـه وروري اودوسـتي ورسره پـاللې هم وي.

داسي اسلامي ملکونه او حرکتونه هم شته چې د سیاسي او اقتصـادي ګټـوغرایزو تردې حده بې لاري کړي چې دمسلمان ورور په مرګ کې له کـافر دښـمن سره اوږه پـه اوږه برخه اخلي اوبده لاداچې دخپـل مسـلمان ورور سره چلنـدکې هـیڅ راز اسـلامي، انساني، اخلاقي اودیپلوماتیکواصولوته ژمن نه وي.

دفاشیزم اونشنلیزم تباه کونکو وایروسونود« انماالمؤمنون اخوة » مبـارک ارشـاد اوپیغام دخلګو له زړونو اوستر ګو څخه پټ کړی او لـه اصـلي لارې څخـه یـې ګمـراه

کړي دي ،أن تر دې چې ديني علوماوجهاد ته د ځينومنسـوبو اشخاصـو زړونـوکې لا هم دناسيوناليزم بوټي را ټوکيدلي دي.

موږ پر خپل اسلامي امارت وياړو چې دنړۍ دمسـلمانانو پـه درد اوخوښـۍ کې يې په ډيرو سختوشرايطوکې هم اشتراک کړی اوترخپلـه وسـه يـې داسـلامي ملکونـو، ولسونو اوحرکتونو څخه سياسي اواخلاقي ملاتړنه دی سپمولی.

مسلمانان بايد تـر وروسـتي حـده دسـيکولريزم او ناسـيوناليزم دپرديـو پديـدو لـه کرغيړنو اغيزو څخه ځان وساتي، دقوم، ژبې، نژاد او جغرافيايې خطـې پـه خـاطرڅوک ونه رټي، هرمسلمان ته بايد دوروری اوهمکاری لاس ورکـړي اوپـه درد اوغـم کـې يـې شرکت وکړي.

نوی ژوند، نوی نظام او نوی لید لوری

مولوي محمدابراهيم " نبيل"

ليکوال، ديني او سياسي چارو څېړونکی

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام علـى اشرف الأنبيـاء والمرسـلين محمـد و على آله واصحابه اجمعين. وبعد!

فقد قال الله عز وجل: وَاذْكُرُوا إِذْ أَنْـتُمْ قَلِيـلٌ مُسْتَضْـعَفُونَ فِي الْأَرْضِ تَخَـافُونَ أَنْ يَتَخَطَّفَكُمُ النَّاسُ فَآوَاكُمْ وَأَيَّدَكُمْ بِنَصْرِهِ وَرَزَقَكُمْ مِنَ الطَّيِّبَاتِ لَعَلَّكُمْ تَشْـكُرُونَ [الانفـال ٢٦]

دکتاب له نوم سره دپورته څو اړخيز عنوان تکميل راته حيرانوونکی و، خودا چـې زمونږ راتلونکي نسل ته له (اسلامي تحريک) او (اسـلامي امـارت) سره زمـونږ ژونـداو زمونږ حال دهغوی ماضي جوړوي اوهغوی له دغې ماضي څخه په ښه ډول آگـاه کـول بيازمونږ دحال وجيبه ده، نو د دغسې موضوعاتو ليکل، چاپ او خونـدي کـول د دغـې ستړې وجيبې ترسره کول دي.

څکه نو دکتاب دليکلـو او چـاپ تابياسـتايو او داللـه تعـالی لـه دره مـو دا سـوال اودعا ده چې الله تعالی دې مونږ ته ددې توفيق راکـړي چـې دغـه حـق هغـوی تـه لکـه څنگه چې ښايي او حق وي هماغسې په ښه ډول ورسوو.

راکړل شوي عنوان ته په ژمنتیا بـه خپلـه لیکنـه پـه دریـو برخـو وویشـو او پرمـونږ داسلامي امارت دغه سترې لوریني به درې برخې کړو: نوی ژوند، نـوی نظـام او نـوی لیدلوری.

نوی ژوند

په پورتني ایت کې الله تعالی فرمایي: "هغه وخت دریاد کړئ چې پـه ځمکـه کـې تاسو کمزوري شوي وئ، وېرېدئ چې خلك به مـو وتښـتوي نـو بیـایې تاسـوته ځـای درکړ او په خپلـه مرسـته یـې قـوت درکـړ پـاکیزه شـیان یـې در روزی کـړل چـې شـکر وباسئ".

که خپل تېر حالت ته وگورو په تېره بیاله ۱۹۱۹ میلادي څخه تـر ۱۹۹۶ مـیلادي پورې چې نږدې یوه پېړۍ کېږي په افغانستان کـې علـماء او طالبـان لـه همدغسـې یـوه حالت سره مخ و، له خپلو حقه حقوقو څخه محروم د وېرې او ترهـې ژونـد یـې درلـود دا په داسې حال کې چې دهیواد په استقلال او ارضي تمامیت کې ترټولـو بـارزه ونـډه د دوی وه، خـو بیـا هـم تـر هـر چـا کـمزوري، محـروم و او ددغـه آیـت دلـومړۍ برخـې مصداق وو.

په رښتیاچې داسلامي امارت په رامنځته کېدو سره دپورتني ایت د دویمـې برخـې مصداق شول او په افغانستان کې دغې محرومـې او حقـدارې طبقـې تـه عـزت او نـوی ژوند په برخه شو، داسې به هم ویل کېدل چـې " دا پـه درځنـو درځنـو طالبـان چـې لـه مدرسو فارغیږي دا څه کیږي او چېرته ورکیږي عملي نتیجه او ثمـره بـه یـې کلـه لیـدل کیږي او... " هماغه و چـې داسـلامي تحریـک او اسـلامي امـارت پـه راتلـو سره دغـو پوښتنو ته نغد ځواب وویل شو او عملي نمونه ورته وښودل شوه.

د ژوند په ټولو برخو کې ددې قشر په خواریو، مبـارزو او هڅـو بـه خـاورې اړول کېدلې، دهیواد دعصري علومو د ځوان قشر زده کوونکو په ذهن کـې بـه پـه لـوی لاس

دهغوی په وړانـدې کرکـه او تنـګ نظـري ور پیچکـاري کېدلـه، همـدا وجـه وه چـې پـه هیواد کې د مکتب، پوهنتون او مدرسې تـرمنځ فاصـله راپیداکېـده اوداعمـل دخـارجي کړیو له لوري په قصدي ډول ترسره کېده.

نو داسلامي امارت په راتلو سره نه یوائې علماوو ته دهیـواد پـه سـطحه عـزت او شرف حاصـل شـو، بلکـې پـه نړیوالـه سـطحه خلـک د دوی لـه دعـوتي، اجتماعـي او سیاسي کړنو څخه واقف شول او دادی په سیاسي ډګر کـې دې حدتـه ورسـېدل چـې د وخت هغه مغـروره امریکـا چـې د نـړۍ پـه هـر هیـواد یـې پـه یونـه یـو ډول راج او واک چلیږي ° داسلامي امارت په چوکاټ کې دهیواد علـماوو او طالبانوتـه دمـذاکراتو لپـاره په داسې ډول په ګونډو شوه چې په خپل ټـول تـاریخ کـې یـې دومـره اوږده او پـه لـوړه سویه مذاکرات له چاسره نه وو کړي.

دسیاسي ادراک په لحاظ مو داسې ژوند په برخه شو چې ټول سـیمه ایـز اونړیـوال سیاسي بنسټونه دغه سیاسي دریځ ته تسلیم شول، چې له پیلـه تـر پایـه مـو پـه سیاسـت کې تزلزل، دوه مخې او دفشارونو له امله ادلـون بـدلون ونـه مونـد هغـه دریـځ مـو چـې مقابل لوري ته په لومړي سرکې درلود تر پایه پـرې ثابـت قدمـه وو تـر دې چـې همـدې دریځ ته راسره کېناستل.

که په نظامي لحاظ مو خپل ژوند و څېړو نو هغـه کمـزوري او تـش لاسي طالبـان چې ویل کېدل باید دځمکې په سر دژوند حق ورنـه کـړل شي، بلکـې دځمکـې پـه تـل کې وي ° نن له داسې نوي نظامي ژونده برخمن دي چې دوخت پرمختللـې امریکـایې د تکتیکونو له کشفولو عاجزه ده او هغه منفجره مواد چې د دښمن لوی لـوی مرکزونـه، نظامي اډې او نظامي وسایط پرې له منځـه وړي پـه ډېـر بسـیط او سـاده ډول پـه خپلـو لاسونو جوړوي.

دغه سرلوړی نوی ژوند مونږ ته په بل هـيڅ چوکـاټ او جوړښـت کـې نـه دی پـه برخه شوی، همدا داسلامي امارت مبارک جوړښـت او اډانـه ده چـې نـن هـر مسـلمان پرې ویاړي.

او ترټولو مهمه دا چې له نبوي نهج سره سم داسلامي خلافت اواسلامي نظـام تـر سیوري لاندې ژوند په رښتیا چې هرچاته نوی ژوند و.

نوی نظام

که څه هم اسلامي نظام بایدپه مسلمانه ټولنه کې چاته نوی نظـام ښـکاره نـه شي، خـو دا چـې د ۲۰ مـې پیړۍ پـه سر کـې دعـثماني خلافـت پـه لـه منځـه تلـو سره ټـول اسلامي امت او مسلمانې پرګنې د اسلامي نظام له سیوري محرومې شوې او نـږدې لـه یـوې پیړۍ مـو ډېـر علـماء، سیاسي څېـرې، دعـاة، او وتـلي نـامتو شخصـیتونه دیـوه رښـتوني اسـلامي نظـام ترسـیورې لانـدې دژونـدتېرولو ارمـانجن لـه دنیـا ولاړل، نـو داسلامي امارت شرعي نظام له دومره اوږده واټن وروسته رښتیا هم چې نوی نظام و.

مولانا عبیدالله سندهی رح له یوه روسي ملحد سره په مناظره کې هغـه تـه داسـلام د مبین دین ښېګڼې بیانوې هغـه ورتـه وایـي مـا هـم اسـلام مطالعـه کـړی خـو دغریـب دګېډې علاج نه لري. مولانا سندهی رح ورته وایـي تـا قـران ټـول نـه دی مطالعـه کـړی، ځکه الله تعالی فرمایي وَيَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنْفِقُونَ قُلِ الْعَفْوَ [بقره سورت ۲۱۹] ژبـاړه: او له تاپوښتنه کوي چې څه شی مصرف کړي ورتـهووایـه هغـه چـې ستاسـو لـه ضرورتـه اضافه وي" نو که د دنیا مالداران له خپل ضرورته اضافه مال دولت پـه غریبـانو وویشيـ نوپه نړۍ کې به څوک غریب پاته شي؟ هغه تـر ډېـره پـه سـوچونو کـې غـرق و بیـا یـې وویل ښه نو دنړۍ په یوه هیوادکې دهمداسـې یـوه اسـلامي نظـام نمونـه راتـه ښـودلای شې.. نوموړی وایي چې په دې کې ورته بې ځوابه شوم... "

داسې نورې ډېرې دېته ورته ځورونکې او زړه دردوونکې پېښې او خاطرې شته چې په تېرو وختونوکې د اسلامي نظام تر سيوري لاندې له ستر نعمت څخه دمحروميت کړيکې ترې اورېدل کيږي.

دا چې ټوله اسلامي نړۍ په وړو وړو هيوادونو ووېشل شوه تر نږدې دريو نسلونو مو ځوانان او حتی دعصري زده کړو پوهان داسلامي نظام له تيوري ناخبره وو او په دې اړه يې هيڅ انګېزه او فکر نه درلود، بلکې ډېری مسلمانان لا په دې فکر دي چې داسلام له نظام سره څه اړيکه نه شته او لکه د اسلام دښمنان يې چې ورته وايي اسلام تر جوماته محدود دی او بس.

اسلامي امارت په رښتيا چې داسلامي نظام تږو او ډېر ناخبرو ته نوی نظام و او نږدې پېړۍ وروسته داسلامي نظام عملي نمونه خلکو وليدله، دنړۍ له ټولو اسلامي حرکتونو او اسلامي خوځښتونو دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک برتري داده چې عملاً يې نړۍ ته داسلامي نظام عملي نمونه وړاندې کړې، په نړۍ کې ډېر اسلامي خوځښتونه دي چې ډېره اوږده سابقه او ډېر اوږده عمرونه يې دي، خو د دې نمونې په وړاندې کولو تراوسه نه دي توانيدلي.

نوی ليدلوری

اسلامي امارت مونږ ته څنګه نوی ليدلوری راکړ؟ لومړی خو بايد له مونږ نه مراد زمونږ نوي ځوانان وي او نه تنها زمونږ ځوانان بلکې دټولې نړۍ په سطحه يې فرد فرد ته يو فکر او سوژه ورکړه دغه فکر او ليدلوری دوه بعده لري لومړی داسلامي امارت دحاکميت اوبله له ناټو او امريکاسره دمقاومت دوره.

دلومړۍ دورې له راتلو سره هغه فکر خام ثابت شـو چـې اسـلامي نظـام نـه شي پلي کېدای او دغـه نـوي لیـدلوري ثابـت ځـای ونیـو چـې کـه یـو ملـت او یـو ولـس د اسلامي نظام لپاره قرباني ورکړي خامخا راتللی شي او دايې نغده بېلګه وه.

د اسلامي امارت له دویمې دورې سره چې له امریکا او ناټو سره د مقاومـت دوره ده تر لومړۍ دورې په څو واره نوی لید لوری راکړ اونه تنها مونږ او زمونږ ځوانـانو تـه، بلکې د نړۍ هر مظلوم او محکوم ولـس تـرې د آزادۍ او خپلـواکۍ الهـام واخیسـت او دا یې ثابته کړه چې که د هرڅـومره زبرځـواک او فرعـوني قـوت تـر محکومیـت لانـدې وي د خپلواکۍ دمبارزې او قربانۍ په برکت ترې آزادي ترلاسه کېدای شي کـه څـه هـم امریکا وي.

دغه راز یې دوخت له ننګونو سره دمقـابلې او د کامیـاب راتلـونکي د ویښـتابه او بیدارۍ لیدلوری راکړ، چې وخت په وخت په څومره بـاریکۍ لـه څـه ډول ننګونـو سره مخ کېدای شواو څنګه مو یوه وړه اشبتاه له څـومره خطرونـو سره مـخ کـولای شي، نـو په څه ډول باید ونګول شي او څرنګه کولای شو چـې خپـل راتلـونکی لـه خطرونـو او اشتباهاتو څخه وژغورو.

د وسایلو، فکر، زده کړو، اونورو بېلا بېلو علتونو په پام کـې نیولـو سره تیـاری او اعداد مو باید څنګه وي، دا او دېته ورته ډېر داسې څه شته چې مونږ ته یې دهغـه پـه اړه د هغه جهت سم سـیده لیـدلوري پـه ګوتـه کـړل، دا هرڅـه داسـلامي امـارت پـه پـاکې اجماع دراټول جوړښت برکت دی.

ادام الله بقائها

امارت اسلامی تشخص و هویت دینی و ملی افغان ها را روشن ساخت

مولوي انعام الله سمنگانی

نویسنده وکارشناس امور سیاسی وجهادی کشور

قیام، مبارزه و مقاومت امارت اسلامی در دهه های هفتاد، هشتاد و نود شمسی، نه تنها دورهء ویرانگر و خانمان سوز هرج و مرج داخلی را پایان بخشید و تمامیت ارضی کشور را مصئون ساخت، بلکه تمام دسیسه ها و توطئه های دورهء اشغال کنونی را نیز با کمال تدبیر، حوصله مندی، جانفشانی و فداکاری، نقش بر آب ساخت و تشخص و هویت دینی و ملی افغان ها را شکوفایی تازه ای بخشید. امروز چهره و شناخت دینی و ملی افغان ها بر اثر ایستادگی پایدار، سیاست کامگار و دستآوردهای چشمگیر امارت اسلامی، در سطح منطقه و جهان روشن تر گردیده است.

مردم افغانستان از دوران خلافت راشده تا پایان قرن دوم هجری - یعنی در قرن های هفتم، هشتم و نهم میلادی - به تدریج مسلمان شدند. اسلام در دوران خلیفه دوم اسلام عمر فاروق - رضی الله عنه - به دروازه های افغانستان فعلی رسید و در مدت دو قرن تقریبا تمام خاک این کشور را فراگرفت. افغانستان که در گذشته ها بخشی از سرزمین های آریانا و خراسان بود، از دوازده قرن به اینسو جایگاه اسلام و

مسلمان ها است و هم اکنون بیش از ۹۹٪ مردم این کشـور مسـلمان انـد. افغـان هـا بـا داشتن شعائر، ارزش ها، مشخصات و فرهنگ بیش از هزار سـالهء اسـلامی، تشـخص و هویت روشن دینی داشتند و دارند.

افغان ها تشخص و هویت پر افتخار ملـی نیـز دارنـد. جامعـه افغـانی متشـکل از اقوام مختلف اسـت. امـا ایـن جامعـه کثیـر القـومی بـر عـلاوه از اینکـه بـه «وحـدت و همبستگی دینی» گـره خـورده اسـت، مشـترکات و وابسـتگی هـای غیـر قابـل مجـزای فرهنگی و اجتماعی نیز دارد و از مدت های مدیـد بـرادر وار در یـک سرزمـین زنـدگی می کنند. افغان ها با اینکـه هـر از گـاهی دچـار مسـایل قـومی بـوده انـد، امـا هیچگـاه یگانگی و یکپارچگی خود را در قبال اندیشهء ملـی، اسـتقلال ملـی و حاکمیـت ملـی خدشه دار نساخته اند.

امـا افغـان هـا در چهـل سـال پـر از نشـیب و فـراز اخیـر بـه ویـژه پـس از اشـغال امریکایی، در کنار صدها مشکلات و دشواری های دیگر، با چـالش هـای سـنگینی در راستای حفظ تشخص و هویت دینی و ملی خـود نیـز مواجـه بـوده انـد. غربـی هـا بـه سرکردگی امریکا تنها به یورش نظامی بر افغانستان بسنده نکردند، بلکه شناخت دینـی و ملی افغان ها را نیز بی درنگ آماج تاخت و تاز قـرار دادنـد. هـدف شـوم یورشـگران غربی واضح بود، آن ها می دانستند که با مسخ چهـرهء واقعـی دینـی و ملـی ایـن دیـار، می توانند سلطهء استعمارگرانه و مسـتبدانه شـان را ثابـت و دائـم بسـازند و بـه اهـداف درازمدت خود دست یابند.

بلی، تاریخ چند قرن اخیر و واقعیت های جهان امروزی بیانگر اینست کـه هرگـاه کشور، ملت و یا قومی از تشخص و هویت اصلی و تاریخی خود محـروم گـردد، پـس مورالِ مبارزه و مقاومت را از دست می دهد، ارزش اسـتقلال و آزادی خـواهی را درک

نمی کند و زندگی بردگی را عار نمی داند، بلکه دین، فرهنگ و باورهای اسـتعمارگران را اصل پنداشته، به پیروی از آن می بالد و افتخار می کند.

جهان غرب به سرکردگی امریکایی ها پـس از اشـغال افغانسـتان در سـال ۲۰۰۱ میلادی، کمپین خصمانه یی را به شکل غیـر مسـتقیم امـا بـا خـرج تمـام توانـایی خـود برای از بین بردن تشخص و هویت دینی و ملی افغان هـا بـه راه انداختنـد. ایـن کمپـین شوم استعمارگران دو بُعد نمایـان داشـت. نخسـت اینکـه اسـلام هویـت نیسـت، بلکـه همانند سـایر ایـدئولوژی هـا یـک ایـدئولوژی تغییـر پـذیر سیاسـی اسـت. ثانیـاً مسخ تشخص و هویت ملی افغان ها.

استعمارگران غربی با استفاده از لبـاده دموکراسـی، سیکولاریسـم و آزادی بیـان، تمام توانایی خود را به خرج دادند، تا افغان ها را باورمند بسـازند کـه چیـزی بـه عنـوان هویت اسلامی یا دینی در دنیای امروزی وجود ندارد و شما در مورد هویت ملی خـود نیز باید تجدید نظر بکنید.

آن ها درین راستا کوشیدند «وحدت دینی» را اصطلاح نابکـار و خیـالی و «نظـام و حاکمیت اسلامی» را متصادم با رفاه و پیشرفت جامعه بشـری نشـان بدهنـد و اقشـار مختلف قومی، نژادی و منطقوی جامعـه افغـانی را بـه شـکل سیسـتماتیک از یکـدیگر متنفر و منزجر بسازند و بـا ایجـاد فاصـله درمیـان طبقـات مختلـف کشـور، وحـدت و هویت ملی افغان ها را سبوتاژ و زمینهء استحکام و تداوم اشغال را هموار بکنند.

اسـتعمار گـران بـا در نظرداشـت مؤثریـت تجربـه هـای کـه در دو قـرن اخیـر در کشورهای مستعمره به ویژه در قاره های آسیا و افریقا بکار برده شده است، به این باور بودند که افغانستان نیز به زودی با تاثر از نفوذ و توانـایی اسـتعمارگران، چهـره دیگـری خواهد گرفت. اما در حقیقت، این اشتباه سنگین استعمارگران بود که مردم با شـهامت افغان زمین و دیگران را به یک پیمانه سنجش کردند، در حالیکه تاریخ بی نظیر آزادگـی

و استعمار ناپذیری مردم این مرز و بوم درس های چشم گشا و عبرتناکی برای بیگانگان دارد و به ویژه، چندان مدتی از شکست «انقلاب کمونیستی» درین خاک دین پرور که منجر به فروپاشی تمام جهان کمونیسم شد نگذشته است.

موقف امارت اسلامی دران روزهای که امریکای مستبد با همراهی و همکاری کشورهای عضو ناتو و دیگر متحدان خود، به اشغال افغانستان و سرنگونی نظام مستقل اسلامی درین کشور تصمیم گرفته بودند، شرعی، منطقی و نمایانگر نیروی ایمانی و عزم آهنین افغان ها بود. زعامت امارت اسلامی پیش از آغاز هجوم نظامی، امریکا را به گفتگو و انتخاب گزینه های غیر جنگی دعوت نمودند. اما چون دولت امریکا در اوج خودخواهی و زورگویی قرار داشت و به بهانه های واهی، تصمیم اشغال افغانستان را نهایی کرده بود، امارت اسلامی نیز با کمال باورمندی بر نصرت پروردگار و همت ایمانی افغان ها، هیچگونه تمایلی به معامله ای که «تشخص و هویت دینی و ملی افغان ها» را داغ دار بسازد، نشان نداد. مؤسس امارت اسلامی امیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد - رحمه الله - دران شب و روزها گفته بود: «بوش به ما وعده شکست می دهد، اما الله متعال وعده پیروزی داده است، ما هم نگاه می کنیم که کدام وعده، راست و صادق است».

مبارزه و مقاومت هژده ساله امارت اسلامی در برابر اشغال امریکایی - از ۲۰۰۱ تا ۲۰۱۹ م - در حقیقت جنگ هویت نیز بود. هویت دینی و ملی افغان ها در آزمون بزرگی قرار گرفته بود و این سوال به شدت مطرح بود که آیا چیزی به نام هویت دینی در قرن بست و یک میلادی باقی مانده است و آیا امکان دارد که افغان ها به اساس هویت دینی شان در برابر امریکا، اروپا و متحدان آن ها ایستادگی بکنند. اما کامیابی افغان ها به سرکردگی امارت اسلامی در جهاد و مقاومت کنونی، بار دیگر روشن ساخت که هویت دینی افغان ها نیروی شکست ناپذیری است که تاب

رویارویی هر گونه سیاست استعماری و استثماری را دارد و افغان ها هنوز هم به نـرخ جان و خون شان از وحدت، مقدسات، شعائر، ویژگی هـا و فرهنـگ دینـی شـان دفـاع می کنند.

این یک واقعیت انکار ناپذیر است که خانه جنگی هـا و یـا جنـگ هـای تنظیمـی دهه نود میلادی، تشخص و هویت ملـی افغـان هـا را جریحـه دار سـاخته بـود. سـپس امریکایی ها نیز با تمام متحدان و دار و دستهء استعماری شـان برنامـه هـای زهرآگینـی را برای از بین بردن تشخص و هویت ملی افغان ها به راه انداختند. همبسـتگی نـژادی، سمتی، اجتماعی و فرهنگی که از عناصر مهـم هویـت ملـی بـه شـمار مـی رود، آمـاج توطئه های شوم دشـمنان اسـلام و افغـان هـا قـرار گرفـت. نیـز نـابودی اسـتوانه هـای فرهنگ و عنعنات سابقه دار جامعه افغانی که نقـش ویـژه ای در سـاختار هویـت ملـی افغان ها دارد، مورد دسایس اسلام ستیزانه و افغان ستیزانه آن ها قرار داشت. غربـی هـا به سرکردگی امریکا درین راستا از دموکراسی، سیکولاریسم، آزادی بیان، حقـوق زنـان و.......... به حیث ابزار مهم استفاده کردند و می کنند.

اما علی رغم این همه مشکلات و در چنان اوضاع دشواری کـه تمـام جهـان کفـر دوشادوش امریکا ایستاده بودند، جهان اسلام ترسان و لـرزان بـود و جـرات انکـار در برابر یگانه ابرقدرت مستبد جهان نداشت و حتـی خیـال ایسـتادگی در برابـر لشـکرهای غول پیکر امریکا، ناتو و متحدان آن محال دانسته می شد، اما این امـارت اسـلامی بـود که نه تنها به مبارزه پرداخت، بلکه جهاد و مقاومت خود را با اتکاء بر نصرـت خداونـد متعال و پشتیبانی مردم با شهامت خود و بـا کـمال فراسـت و درایـت بـه سراسر کشـور گسترش داد. امارت اسلامی توانست بـر پیکـر مجـروح وحـدت ملـی افغـان هـا مـرهم گذاشته، همه اقشار قومی، نژادی و سمتی افغان ها را به هـدف پایـان اشـغال کشـور و اعاده حاکمیت نظام اسلامی زیر چتر خود گردهم آورد و همدست و همکار سازد.

مساعی امارت اسلامی را نمی توان تنها به مبارزه نظامی خلاصه کـرد، بلکـه ایـن نتیجهء کاوش های همه جانبه امارت اسلامی - اعم از تلاش هـای سیاسـی، اجتماعـی و فرهنگی - بود که از یکسو افغان ها این واقعیـت را بخـوبی درک کردنـد کـه دشـمنان اسلام و افغانیت، به هدف مسخ تشخص و هویـت دینـی و ملـی ایشـان، از چـه ابـزاری کار می گیرند و چطور باید در برابر ایـن حربـه هـای دشـمن ایسـتاد شـد و آن را ناکـام ساخت. از سوی دیگر کشورهای همسایه، منطقه و جهان نیـز پـی بردنـد کـه آنچـه در قبال سرنوشت افغانستان و افغان ها فکـر کـرده بودنـد خیـالِ خـام، غیـر واقـع بینانـه و اشتباه بزرگی بود.

امارت اسلامی با قربانی های بی نظیر، داعیه بر حـق و موقـف شرعـی و قـانونی خود ثابت کرد که وارث حقیقی این کشور و ملت است. امـارت اسـلامی بـا حراسـت از «تشخص و هویت دینی و ملی افغان ها» نشان داد که سلطه جویی بر خـاک و مـردم افغانستان عواقب خطرناکی دارد و نظام های دست نشانده، اسلام ستیز و تفرقـه افگـن درین کشور افغان نشین دوام و ثباتی ندارد و هرگز بدیل و جاگزین حاکمیـت اسـلامی شده نمی تواند.

تشـخص و هویـت دینـی و ملـی افغـان هـا از برکـت مبـارزه بسـت و پـنج سـاله طالبان/امـارت اسـلامی (۱۹۹۴ تـا ۲۰۱۹ مـیلادی) نـه تنهـا از توطئـه هـای شـوم استعمارگران نجـات یافتـه اسـت، بلکـه نیـرو و توانـایی تـازه ای را از آن خـود سـاخته است.

د فساد او اشغال ضد جهاد او د امارت مثالي رهبري

ذبيح الله مجاهد

د اسلامي امارت ويندوی

الحمدلله وکفی والصلوة والسلام علی عباده الذين اصطفی، امابعد:

اسلامي امارت د الله تعالی له نعمتونو څخه يو ستر نعمت دی چې په خورا بـدو شرائطو کې الله جل جلاله افغانان پرې ونازول.

په خوله باندې خبرې او په زړه باندې د اصلاح او هرڅه سم کيدو تصور ډير اسانه کار دی؛ خو په عمل کې واقعي اصلاح او بحرانونه له منځه وړل يا ورسره مقابله کول، خورا درنه، حساسه او طاقت فرسا مسئله ده.

لنډ بايد ووايو چې طالبانو ته دوه ډيرې مهمې رهبرۍ ور له غاړې وې، چې دواړه رهبرۍ يې په ډيره ښه وجه ترسره کړې دي.

۱۴۱۵هـ ق کال:

کله چې په افغانستان کې کمونيست پلوه رژيم وپرځيد او پرځای مجاهدين په کابل را مات شول، په څو مياشتو کې نيږدې ټول افغانستان د تنظيمي شخړو په ډګر بدل شو. په هرولايت کې تنظيمي قومندانانو پاټکونه ايجادکړل، د خلکو پراخ ځورول، مالونه لوټل، عزت لوټل، د خلکو په ناموس تجاوزونه کول، په شخصي حريمونو بريد او هر هغه څه پيل شول چې انسانيت يې پر بدۍ او ظلم يوه خوله دی.

د هیواد مرکز کابل کې د قدرت پنځه لويي جزيرې جوړې شوې.

د کابل ارگ او خیرخانه کـې د جمعیـت اسـلامي او شـورای نظـار ډلـه، د کابـل جنوب چهارآسیاب او چهلستون کې د حزب اسلامي ډله، د کابل غـرب کارتـه سـخي او افشار کې د حزب وحدت ډله، د کابل ښار ځینې برخـو کـې د دوسـتمي (گلمجـم) ملیشو ډله او دپلازمینې یوه وړه برخه کې د سیاف په مشري اتحاد اسلامي ډله.

دغه ډلې هره ورځ له سهار څخه تر بیگا پورې د کابل په ښـار کـې ښـه پـه خـرپ سره جنگیدې، نه د بیا رغونې څـرک وو، نـه د تعلـیم او تربیـې درک وو، نـه د عـزت او عفت ساتلو تصور وو او نه هم د سر او مال د امن او امان خیـال. داچـې د هیـواد مرکـز کابل بې امنه وو، حکومت عملا وجود نه درلود، هرڅه لـه کنـترول او کـابو څخـه بهـر وو، نو طبعا په ولایاتو کې هم مطلقـه خپلسـري، انـارشي او ملـوک الطـوائفي حاکمـه وه.

کـه پـه کـوم ځـای کـې قـومي او منطقـوي جوړښـتونو شـتون درلـود، هلتـه خلکوپخپله نسبتا خپل عزت او مال ساتلی شوای، خو په کومو ساحو کې چې قـومي جوړښـتونه ضـعیفه وو، د خلکـو تـرمنځ کـوم تـړون شـتون نـه درلـود، هلتـه تنظیمـي قومنـدانانو، ټـوپکمارو او پـه نیشـه یـې توکـو روږدو اوباشـانو پـه خلکـو پـه اصـطلاح سرچپه میچنې چلولې، په ورځ کـې زرگونـه ځایـه د خلکـو پـه عـزت، مـال او حیثیـت باندې تجاوز کیده او له ملت څخه یې لاره ورکه کړې وه.

د دغه بدمرغه حالت د کنترول او کابو کولـو لپـاره هـیڅ کـوم اسـلامي، بشرـي او بین المللي نهاد هم څه نشوای کولای او یا یې نه کول. هـیڅ کـوم پروفیسـور، کـارپوه، استاد، قومي مشر او کوم بل شخصیت د رامینځته شـوي نـاوړه وضـعیت د کنـترول او آرامولو له پاره طرحه او عملي توان نه درلود. حالت دومـره خـراب او سرسـامونکي وو چې په نیږدې موده کې یې د سر او پای پیدا کولو هیڅ مجال نه لیدل کیده.

د ملګرو ملتو سازمان، د ناټو په نامه نظامي تړون، امريکا، غربي هيوادونو، اسلامي کنفرانس، اسلامي با نفوذه هيوادونو، د افغانستان هماسيه هيوادونو او د سيمې لويو او وړو نفوذ لرونکو هيوادونو ټولو ننداره کوله او حالات هره ورځ له اختيار څخه وتل او بحراني کيدل.

په دغه حساس او خورا کړکيچن وخت کې د کندهار ولايت له سنګحصار سيمې څخه يو پخواني جهادي قومندان اوسني په ديني زدکړو بوخت طالب (اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله) له خپلو څو محدودو ملګرو سره د وضعيت د کنترول په اړه سلا مشورې پيل کړې.

محترم ملامحمدعمر مجاهد چون د جهاد په زمانه کې يو مخلص او پاک نفسه جهادي قومندان پاتې شوی وو، د خپلو او نورو صالحو مجاهدينو د آرمانونو هدر کيدل يې له زغم څخه ووتل، د خلکو په عزت باندې تجاوزونه او عفتونه لوټل يې نور نشوای زغملای، ځکه يې نو لومړی د خپل پلان د تطبيق لپاره د کندهار ولايت پنجوايي ولسوالۍ په زنګاوات سيمه کې له ديني عالمانو څخه د حکم او فتوا غوښتنه وکړه.

مشهورو سيميزو ديني عالمانو د حالاتو د کابو کولو لپاره د نظامي اقدام فتوا ورکړه، څه مخلص ملګري يې سره راټول کړل او د حالاتو د کابو کولو لپاره يې د ۱۴۱۵ کال د محرم الحرام د مياشتې په ۱۵ تاريخ د طالبانو اسلامي تحريک راپيل کړ.

لومړی ستر امتحاني پړاوو:

له ډيرو معرکو او بريالیتونو وروسته د ۱۴۱٦ هـ ق کال د ذوالقعدې مياشتې په ۱۵ تاريخ د کندهار په تاريخي ښار کې د هيواد له ګوټ ګوټ څخه ۱۵۰۰ ديني عالمان راټول شول او مرحوم ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله تعالی يې د هيواد د

زعیم پـه حیـث وټاکـه او د امیرالمـؤمنین لقـب یـې ورکـړ. لـه دغـې ورځـې وروسـته د اسلامي امارت د رهبرۍ لومړۍ او خورا درنه دوره پیل شوه.

د عالمانو لخوا پریکړه او مرحوم ملا صاحب د مشر په حیـث ټاکـل تـرسره شـول، خو داچې رهبري یو ستر الهي امانت دی او دا امانت یو افغـان طالـب تـه ور لـه غـاړې شو، بیا نو ستر الهی امتحان هـم دی او لـه دې امتحـان څخـه مرحـوم مـلا صـاحب پـه داسې ډول راووت چې هیڅوک به یې له شرعي پلوه تـر نقـد او سـوال لانـدې رانـه شي وستلای. ان شاءالله

اسلامي امارت ته رهبري پـه داسـې حـال کـې ور لـه غـاړې شـوه چـې هیـواد پـه کنډواله بدل شوی وو، هیڅ دولتي زیربنا وجود نه درلود، ټـول دولتـي تأسیسـات بشـپړ له منځه تللي وو. زورواکو، غلو، د شروفساد باندونو او تنظیمـي لنـډغرو گـران هیـواد له هرې خوا دومره ځپلی وو چې قلم یې د لیکلو تـوان نـه لـري، بـرالا جنسيـ تیـري، د خلکو په سرونو د میخونو ټکوهل، د مړو رقص، د ښځو په عفت ډلـه ییـز تجاوزونـه او نور ډیر فجائع هره ورځ تکراریدل.

د اسلامي امارت لومړي زعیم ته د هیواد چارې په داسې حال کې وسـپارل شـوې چـې ټـول تحریـک یـې د تغـذیې لپـاره کـور پـه کـور لـه خلکـو ډوډۍ ټولولـه او خپـل مجاهدین یې پرې ساتل. هیڅ اقتصـاد وجـود نـه درلـود، هـیڅ بهـرني ملاتـړ شـتون نـه درلود، هرڅه یواځې د الله تعالی په توکل پرمخ تلل.

ځوان اسلامي امارت ته له هرڅه څخه هیواد ته امن راوسـتل او دلتـه شرعـي نظـام او حدود پلي کول مهم ښکاریدل. ځکه شرعـي نظـام د شـوروي اشـغال ضـد جهـاد د یونیم میلیون شهیدانو سپیڅلی او میراث شوی آرمان وو چې پالل یې غوښتل.

همدا ډول د هیوادوالو عزت، عفت، مصئونیت دومره ځپل شوي وو چـې خلکـو فقط د څلورویشتو ساعتونو لپاره هم امن پسې سترگې غړولې.

ځوان اسلامي امارت همدا دوه کارونه د خپلو کارونو پـه سرفهرسـت کـې ونيـول او په متانت او تدبير سره يې دهيواد په ټولو هغو سيمو کې شرعي نظام پلی کـړ چـې تـر واک لاندې يې وې او هم يې داسې مثالي امن خلکوته راوسـت چـې د شـپې لـه مخـې به خلکو د کورونو دراوزې نه تړلې، ځکه د هيڅ خوف او خطر احساس يې نه کاوه.

کوم چاچې به دغلا لپاره لارې چارې لټولې (يعنـي تـر غـلا وړانـدې) بيابـه نيـول شوی وو، همداراز کوم چاچې به د چا په عزت دتيرې تابيا نيوله، بيا بـه نيـول شـوی او قانون ته سپارل شوی وو، حتی تر دې چې چابه په بازار يا بل ځای کـې لـه بـل چـاسره عادي فزيکي جګړه او ښکنځل هم وکړل د اسلامي امارت يو سپاهي (طالب) بـه ورتـه را رسيدلی وو او شخړه به يې له منځه وړې وه.

زه پخپله د لسګونو داسې صحنو شاهد يم چې دوه کسان به سره په شـخړه شـول، يو طالب به خدای پرې راپيښ کړ او لانجه به يې وشـکيده. دغـه ډول امـن تـه نړيـوال او ټول هغه جهتونه هک حيران پاتې ول چې د افغانستان د وضعيت دکابو کولـو لپـاره يـې هيڅ پيشبيني نشوای کولای.

د رهبري دغه ستره امتحـاني دوره پـه داسـې حـال کـې روانـه وه چـې د اسـلامي امارت ځوانې رهبري هـيڅ کـاري تجربـه، سـابقه او مسـلکي زد کـړې يـا تخصـص نـه درلود، بلکې هرڅه ډير عادي او په ساده ډول عملي کيدل او الله تعـالی د خلکـو لپـاره ښه آرام او د عزت فضا رامنځته کړه.

اسلامي امارت داسي مهال د هيواد په ۹۵٪ سـلنه برخـه واکمـن شـو، چـې ګـران هيواد د يو ډير شديد بيمار په شان له مختلفتوستونزو او مشـکلاتو سره لاس او ګريـوان وو، لوږه او مسکنت وو، ډيری خلک بې روزګاره ول، د هيواد کرنسۍ د هـيڅ برابـروه، تجارت نوی پيـل کيـده، بيـا رغونـه او آبـادۍ لـه صـفر څخـه پيـل کيدلـه، خـو لـه دې ټولوناخوالو سره سره د اسلامي نظام د حاکميت له برکته د عزت، امنيت او ډاډ لـه پلـوه

خلک دومره بسیا او هوسا ول چې په نیړدې پخواني تاریخ کې یې افغانانو ساری نه درلود.

په دا ډول بدو حالاتو کې داسې پیاوړې رهبري چې خلکوته له فوق العاده ګډوډۍ څخه پوره امن راولي، د تجزیې او تخریب په مورګو درول شوی هیواد بیرته واحد اوتر یوه مرکزي حاکمیت لاندې راولي، تعلیمي ادارې (مدرسې، ښوونځي، لیسې او پوهنتونونه) د خپل توان مطابق بیرته فعال کړي، په ټول هیواد کې تر یولکو پورې د دیني زدکړو طالب العلمان له امارتي بودیجې څخه تمویل کړي، د مخدره موادو کښت او تجارت چې خورا عام ګرځیدلی وو، بیرته صفر کړي، له ټول هیواد څخه د پخواني کمونیستي دورې او بیادتنظیمي ګډوډیودوخت وسله راټوله کړي، د هیواد د کرنسۍ د بدلون او بیا چاپ لپاره تدابیر ونیسي، د اړیکو په برخه کې د افغان بیسیم له شرکت سره ابتدايي پریکړه وکړي، له ترکمنستان څخه د ګازو د پایپ لاین موضوع په جدي ډول تر بحث لاندې ونیسي، د جګړې د اختتام لپاره له سیاسي او نظامي لارو څخه هڅې روانې وساتي، دا پورته ذکر شوي کارونه واقعا چې په هماغه وخت کې له تصور څخه پورته کار او یو کرامت بلل کیده.

داسلامي امارت واکمني او رهبري هغه مهال له مشکل سره مخ شوه، کله چې کفري نړۍ د اسلامي نظام د نمونې په راتګ سره خپل کفري سیستم (سیکولریزم) په خطر کې ولید.

لومړی د امریکا او غربي هیوادونو لخوا په اسلامي امارت باندې د شرعي حدودو د پلي کولو په سر د ښځو او انساني حقوقو د نقض په نوم تورونه پورې شول، په داسې حال کې چې یو کال وړاندې په همدې هیواد کې په ورځ کې د لسګونو خلکو وژل هم چا جرم نه باله او د هغه وخت حکومت او د شروفساد ډله مشروع بلل کیده، لږ وروسته د بهانو په لټولو سره د شیخ اسامه بن لادن رحمه الله قضیه مطرح

شوه او هڅه وشوه چې اسلامي امارت په سختو جنګـي او اقتصـادي شرائطـو کـې لـه نړیوالو بندیزیونو سره مخ شي.

دغه ناګوار او ظالمانه حالت تر هغـو دوام وکـړ چـې پـه ۲۰۰۱ م کـال د سـپتمبر ۱۱ پیښه رامنځته شوه او امریکاته چانس پـه لاس ورغـی چـې پـه افغانسـتان د نظـامي یرغل لپاره عملي بهانه ترلاسه کړي او یرغل پیل کړي.

له یرغل څخه مخکې امریکا اسلامي امـارت تـه تهدیـد وکـړ چـې بایـد هرڅـه ژر اسـامه بـن لادن رحمـه اللـه امریکـا تـه وسـپارل شي، کـه داسـې ونشيـ امریکـا بـه پـه افغانستان برید وکړي.

اسلامي امارت د خپل اسلامي او تاریخي غـرور لـه مخـې امریکـا تـه ځـواب ور کړچې که ریښتیا شواهد موجود وي چې اسـامه بـن لادن د سـپتمبر پـه پیښـه کـې لاس لري نو د هغه په اړه دې د اسلامي امارت محکمې ته خپل شـواهد وړانـدې کـړي او تـر یوې میاشتې پورې وخت لري. خو امریکایانو داوړاندیز رد کړ او خپلـه د تهدیـد خـبره یې بیا تکرار کړه.

بیا ځل اسلامي امارت وړاندیز وکړ چې اسامه بن لادن ته د ربـاني د حکومـت پـه وخت کې د افغانستان تابیعت ورکړل شـوی او اوس هغـه زمـوږ د هیـواد تبعـه دی، لـه قانوني پلوه هم تاسو حق نه لرئ چې زموږ یو هیـوادوال راڅخـه وغـواړئ او بیاهغـه تـه جزا ورکړئ، که بیا هم تاسو زمـوږ پـه محکمـه بـاور نشيـ کـولای، بیـا دې دسـعودي عربستان او افغانستان په ګـډون د ۳ اسـلامي هیوادونـو دینـي عالمـان یـوه اختصـاصي محکمه جوړه کړي او شیخ اسامه دې په کې محاکمه کـړي، اسـلامي امـارت بـه شـیخ اسامه هغې باورې محکمې ته وسپاري.

په دې وخت کې امریکـا بیـا هـم د تهدیـد او جګـړې خـبره کولـه، چـې اسـلامي امارت یې غوښتنه رد کړه.

اوس که چیرې د اسلامي امارت رهبري نه واي افغانستان به په تاریخي لحا ظ لـه شرمه ډکه فیصله کړې وه چې د ابد لپاره یې زموږ اسلامي تشـخص او حریـت تـه زیـان اړولای شوای. ځکه کفاروته د شیخ اسـامه رحمـه اللـه سـپارل برسـیره پـردې چـې لـه شرعي پلوه ناجایز کار وو او د اسلام عزت او دبدبـه تـر پښـو لانـدې کیدلـه، بلکـې پـه بشري تاریخ کې به هـم زمـوږ پـه ورانـدې د پیغـور یـو تـور داغ جوړیـده. خـو دغـه د اسلامي امارت مسلمانه، با تقوا، غیرتمنه او با جرأته رهبري وه چـې دښـمن تـه یـې سر ټیټ نه کړ او یو مسلمان یې په خپله خوښه کافر ته په لاس ورنه کړ.

د رهبري دوهم ستر اوخورا امتحاني دور:

د ۲۰۰۱ کـال د اکتـوبر میاشـتې پـه (۷) نیټـه د شـپې شـاوخوا ۹ بجـې وې چـې امریکایي الوتکو په افغانستان باندې نظامي یرغلگر پیل کـړ، پـه لـومړي سر کـې یـې د اسلامي امارت د رهبرۍ مقام تر هوایي برید لاندې ونیوه.

د یرغـل پـه لـومړۍ ورځ پـه کنـدهار کـې د مرحـوم امیرالمـؤمنین ملامحمـدعمر مجاهد رحمه الله استوگن ځای د بې پیلوټه الوتکې تـر هـدف لانـدې ونیـول شـو. دا د بې پیلوټه الوتکې لومړی برید وو، هغه الوتکـه چـې دا بریـد یـې تـرسره کـړ وروسـته د امریکا په موزیم کې د نمونې په ډول وساتل شوه، خو جالبه دا وه چې دغې الـوتکې لـه خورا ډیر دقت او مهارت سره سره چې لرل یې ونشو کولای خپل هدف په نښه کړي.

امریکایانو دا پخه اراده او باور درلود چې باید ملاصاحب مرحوم شـهید کـړي او په لومړۍ گوزار سره د خپلې دبـدبې پـه ښـودلو سره د اسـلامي امـارت رهـبري ختمـه کړي، خو الحمدلله ثم الحمدلله داسې یې ونشو کولای.

د تکنـالوژۍ لـه پرمختـگ او دقـت سره سره، اللـه تعـالی د ملاصـاحب مرحـوم حفاظت وکړ، هغه له برید څخه روغ ووت او د یوې سـترې او خـورا پیچلـې معرکـې د پیل په دود یې د کندهار ښار پریښود.

کیدای شي امریکایان د الله تعالی په نصرت او حفاظت باور و نه لـري اوتـر ابـده په دې چورت کې پاتې شي چې ولـې یـې د بـې پیلوټـه الـوتکې برید خطـا لاړ او مـلا صاحب روغ رمټ ووت؟

دې سوال ته به دښمن تر قیامته هم په خـواب پیـداکولو ونـه تـوانیږي، ځکـه بریـد واقعا هم دقیق وو او هم خورا لوی، خو د الله تعالی حفاظت بیا تر هرڅـه لـوی او لـوړ دی.

مرحـوم امیرالمـؤمنین ملامحمـدعمر مجاهـد رحمـه اللـه دخپلـې واکمنـۍ پـه وروستیو کې یوه وینا کې وویل چې: «که امریکایان یرغـل وکـړي، نومـوړی بـه خپلـو مجاهدینو ته امر وکړي چې د هیواد غرونو ته وخیـژي، جبهـې جـوړې کـړي او دیرغـل پر ضد جهاد پیل کړي».

وروسته له امریکایي عملي اشغال څخـه ملاصـاحب مرحـوم همـدا سـې وکـړل، لومړی یې پخپله د هیواد په زابل ولایت سیوري ولسوالۍ کـې ځانتـه د اسـتوګنې لپـاره یو ځای غوره کړ، ورپسې یې خپل ځانته نائب وټاکه او رهبري شورا یې رامنځته کړه.

په دې کار سره هم د مرحوم امیرالمؤمنین خپل ژوند تر یوه حده ژغـورل کیـده، او هم د امارت د بیارا منسـجم کیـدو، د مجاهـدینو د توظیـف، تمویـل او تجهیـز ا ونـورو جهادي کارونو لپاره یوه ښه رهبري، واحده قومنده، نظم او دیسپلین اعـاده او جهـادي تحرکات ورو ورو بیرته سره پراخ او منظم کیدل.

د لږ زمانې په تیریدو سره واقعـا همداسـې وشـول، اللـه تعـالی د اسـلامي امـارت صف د یوې ښې او مقتدرې رهبري شورا په برکت د هیـواد پـه شرق، غـرب، جنـوب او شمال کې سره منظم او جهاد ته سوق کړ.

دا مرحله واقعا ډېره ستونزمنه مرحله وه، په دغه حساس پړاوو کې که د اسلامي امارت د رهبرۍ تعهد، توکل، تقوا، صبر، استقامت او ثبات نه وای، نو ټول امارت به سره پاشل شوی و، هغه اسلامي امارت چې په لومړي ځل د ديني عالمانو څخه جوړ يو لوی صف ورڅخه تشکيل شوی و، هغه به درې ورې او سره شيندل کيده.

په هر صورت په دغه امتحاني دور کې د اسلامي امارت ټولې رهبرۍ، (اميرالمؤمنين، نائب او رهبري شورا) خورا لويو قربانيو او د سر سوداته ځانونه وقف کړل. پخپله اميرالمؤمنين له يوه امريکايي بيس (قرارګاه) سره په څو کليومترۍ کې د قومندې مرکز جوړ کړ، چې هره لمحه يې د نيولو، بمبارولو او په شهادت رسولو خطر درلود.

ورسره د اسلامي امارت نائب او د رهبري شورا غړو هريوه تکليفونه، بندونه، او حتی شهادتونه وګالل.

الحاج ملا عبيدالله اخند لومړی بندي بيا په زندان کې شهيد کړل شو، محترم ملا برادر اخند اته کاله په ګاونډي هيواد پاکستان کې بند تير کړ، د رهبري شورا غړي د ګوانتانامو تر زندان پورې ورسيدل او ځينې شهيدان شول.

په دغه امتحاني او ستر تاريخي پړاو کې د اسلامي امارت د رهبرۍ غړو نه تنها ځانونه بلکې خپل اولادونه او کورنۍ هم خطرونو ته ورکړل، د مرحوم الحاج مولوي جلال الدين حقاني صاحب ۴ زامن د جهاد په جريان کې يو په بل پسې شهيدان شول، پخپله د جهاد د ستړيو او تکاليفو له امله سخت ناروغ او بيا وفات شو.

لنډه دا چې مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمدعمر مجاهد رحمه الله او د امارت د رهبري شورا اعضاوو د اسلامي امارت صف هغه ډول رهبري کړ، لکه څرنګه يې چې توقع کيدله.

د جهاد لمن ټول هیواد ته وغزیـده، خـو پـه ټـول جهـادي صـف کـې یـو کـوچنی درځ، خطا، بې اتفاقی، بـې اطـاعتی، خپـل سري، لـه شرعـي حـدود سرغړونـه، ظلـم، تیری، او هیڅ داسې څه پیښ نه شول چې سړی نقد پرې وکړي. الحمدلله

دا ډول خدمت او فعالیت بیا هلته لا ډیر اهمیت پیدا کـوي چـې نـه د رهـبري لـه افـرادو او ماتحـت سره مخـامخ لیـده کاتـه او ناسـته کیـدلای شي، نـه ورسره مخـامخ مشورې ته زمینه مساعده وي، نـه پـه یوځـای کـې سره راټولیـدای شي، بلکـې هرڅـه د قاصدپه وسیله او په غیاب کې ترسره کیږي.

په دې معنا چې د اسلامي امارت دوخت رهـبري پـه داسـې وخـت کـې پـه خپلـو افرادو بشپړ تسلط لري چې د مخامخ تماس لپـاره ټـول امکانـات ورڅخـه د اشـغال لـه امله سلب شوي. خوله فراه تر ننگرهاره، له بلـخ تـر کنـدهاره، لـه کنـړ تـر هلمنـده، لـه خوست تر فاریابه ټول هیواد کې په منظم ډول جهادي عملیات روان وي.

دغه اعجاز اسا رهبري له ۲۰۰۱ مـیلادي کـال څخـه را نیـولی تـر ۲۰۱۳ م کـال پـورې دوام کـوي. پـه دغـه مـوده کـې د اسـلامي امـارت مشرـ مرحـوم امیرالمـؤمنین ملامحمدعمر مجاهد رحمه الله فقط یوځـل خپـل اسـتوگن ځـای او د قومنـدې مرکـز بدلوي، یعني تقریبا ۴ کاله یوځای تیروي او باقي ۸ کاله بیا په دوهم مرکز کـې تیـروي. جالبه یې لا داده چې په دواړو مراکزو باندې بـار بـار امریکـایي چـاپې هـم راځـي او د ملاصاحب مرحوم له نیږدې واټن سره جهادي عملیات هم ترسره کیږي.

هغه کلی چې مرحوم امیرالمؤمنین ترې د جهادي قومندې د سـتر مرکـز پـه حیـث کار اخلي له شلو د ډیرو شهیدانو شاهد دی چې د دومره کلنو په موده کې یې په جهـاد کې ورکوي.

لا ډیره جالبه یې دا چې د مرحوم امیرالمؤمنین په شتون بانـدې هغـه کـورنۍ ټـول خبره ده چې دی یې په یوه برخه کې اوسیږي، د کورنۍ ټـول غـړي، ښـځې او نارنیـه او

حتی ماشومان هم خبر شوي چې مرحوم ملا صاحب دلته ژوند کوي، خو هیڅـوک نـه جاسوسي پسې کوي، نه چاته وایي او نه هم دا خبره د دوو کسانو ترمنځ تکراریږي.

دا په داسې حال کې ده چې د امریکایانو لخوا د مرحـوم امیرالمـؤمنین د پیـداکولو او یا شهادت په بدل کې لس میلیونه ډالره جایزه هم کینبودل شوې او علان شوې ده.

د اسلامي امارت دوهمه رهبري:

کله چې د ۱۳۹۲ هجري لمریز کال د ثـور پـه ۴ مـه نیټـه مرحـوم امیرالمـؤمنین د ناروغۍ له امله وفات شو، د اسلامي امارت باقي پاتې رهبري څومره کمال وکړ؟

د مرحوم ملاصاحب له وفات څخه قاصد فقط مـلا اخترمحمـد منصـور صـاحب ته چې دا مهال د اسلامي امارت نائب ده حال راوړي چې ملا صاحب مرحـوم مخکـې له دې چې وروستۍ دوا ورته ورسیږي وفات شو.

د اسلامي امارت نائب شهید ملا اخترمحمد منصور رحمه اللـه دا موضـوع فقـط له شپږو کسانو سره شریکوي، چې هغوی ټول د رهبري شورا غـړي او مشرـان ملگـري دي. د هغـوی پـه مـنځ کـې ۳ شـیخ الحـدیثان (شـیخ الحـدیث مولـوي عبـدالحکیم صاحب، شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخنـدزاده او شـیخ الحـدیث مولـوي نورمحمـد ثاقب صاحب) هم شتون لري.

د رهبري شورا دغه شپږ کسه غړي چې پـه جریـان خـبر شـوي د اسـلامي امـارت نائب ته مشوره ورکـوي چـې د امیرالمـؤمنین مرحـوم وفـات اعـلان نـه کـړي، بلکـې د جهادي مصلحت په اساس یې که پټ وساتي شرعـا هـیڅ سـتونزه نـه لـري. خـو د دې لپاره چې جهادي صف عملا بې امیره پاتې نشي، باید منصور صاحب پخپلـه د امـارت دروند پیټی په اوږو واخلي.

بالاخره پريکړه په دې کيږي چې منصور صاحب به د اسلامي امارت شرعـي اميـر وي، خو دا خبره به همداسې پټه ساتل کيږي

د منصور صاحب قيادت:

کله چې د اسلامي امارت په رهبري کـې تغيـر راځـي، منصـور صـاحب عمـلا د نـائبتوب لـه منصـب څخـه د امـارت مشرـتابه تـه پورتـه کيـږي نـو لا ډيـر د مسـئوليت احساس کوي او په جهادي صف کې د يو سلسله ابتکارونو شاهدان ګرځو.

د منصور صاحب د رهبرۍ تر ټوله ستره کارنامه دا شوه چې نيـږدې ۳ کالـه يـې د مرحوم اميرالمؤمنين د وفات خبره له ټولو لرې او نيږدې استخباراتي ارګانونو څخـه پټـه وساتله.

دا خبره دومره مهمه وه چې په عمـل کـې يـې ټولـو نړيوالـو اسـتخباراتي ادارو تـه ماتې ورکړه او ثابته يې کړه چې د امارت رهبري په څومره تدبير، اخـلاص او امانتـدارۍ سره پرمخ ځي.

د تقريبا دريوکلونو مودې پـه تيريـدو پـه ځينـو جهـادي برخـو کـې د ملاصـاحب مرحوم د وفات اثرات حس شول، مثلا يو چابه غوښتل مخامخ د مـلا صـاحب مرحـوم پيغام واوري، يا مخامخ خپل پيغام ورته ورسوي بيا ځـواب واخـلي چـې دې کـار کـې پرمختګ نشو کيدای، نو په لوړو ردو کې شکونه پيدا شـول چـې مرحـوم اميرالمـؤمنين ژوندی دی کنه؟

د دغې خبرې په لړ پراخيدو او د غوښـتنو پـه ډيريدوپـه ۱۳۹۴ هــ ل کـال د اسـد مياشتې په ۸ نيټه د امارت رهبري شورا پريکړه وکړه چـې د ملاصـاحب مرحـوم وفـات بايد نور اعـلان شي او د راتلـونکي رهـبري لپـاره ټـول جهـادي صـف او هيـوادوال پـه

جريـان کـې شي، ځکـه د ملاصـاحب مرحـوم لا ډيـر غيابـت او پـه دې اړه تشويشـونه زيانمن تماميدل.

په پورته ياده شوې نيټه د مرحوم اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهـد رحمـه اللـه د وفات خبر رسما د امارت لخوا اعلان شو او په دې اړه رهبري شورا غونډه دائره کـړه. د غونډې پريکړه دا شوه چې ملا اختر محمدمنصور صاحب به د امـارت اعـلان شـوی زعيم او اميرالمؤمنين وي.

د منصور صاحب له رسمي ټاکل کيـدو وروسـته د هيـواد لـه لـر او برڅخـه ټولـو فعالو جهادي جبهـاتو، د ولايـاتو واليـانو، قاضـيانو، د بيلابيلـو کميسـيونونو مشرـانو، بانفوذه جهادي څيرو، مخورو او ديني عالمانو په خورا تلوار او بيـړې سره خپـل خپـل بيعتونه راواستول. د بيعتونو په را استولو کې د مجاهـدينو، (مسـئولينو او افـرادو) لخـوا دومره تلوار کيده چې د بيعت اخيستلو لپاره مؤظف شوي ملګري ستړي شول.

هغه مهال زما په فکر کې دا خبره راګرځيده چې پخـوانۍ رهـبري دا صـف دومـره يو موټی او يو لاس ساتلی وو چې نن يې موږ د دوهم رهبر پـه تعـين کـې مثبـت اثـرات په سترګو ګورو، دا کارنامه هم د پخوانۍ رهبرۍ وه، ځکه هماغـې رهـبرۍ خپـل ټولـو افرادو او مسئولينو ته دا فکر ورکړی و چې په امارت کې اشـخاص مهـم نـه دي، بلکـې هدف مهم د ی اوپه شرعي تګلاره عمل مهم دی.

په خورا لنډه زمانه کې له ټول هيواد څخه د بيعتونو لړۍ پـای تـه ورسـيده او ټـول صف له نوي زعيم (شهيد منصور صـاحب) سره خپـل بعيـت وکـړ او کلـک ملاتـړ يـې ورڅخه اعلان کړ.

البته په استثنايي ډول ځينې ملګري داسـې هـم وو چـې د سـوء تفـاهم لـه املـه د لنډې مودې لپاره تشويشونه او سوالونه ورسره پيدا شوي وو، خو د لږ زمانې پـه تيريـدو سره هغوی چې د امارت دردمند غـړي وو، جهـاد يـې هـدف و او د اللـه تعـالی د رضـا

لپاره يې خدمت کاوه، نيتونه او ارادې يې نيکې وي، نو الله تعالى بيرته توفيق ورکړ چې د امارت جزء شي، بيرته له منصور صاحب سره بيعت وکړي او هرڅه هير کړي.

د منصور صاحب په رهبري باندې د ټول جهادي صف باور او راټوليدو هغه ته د لا ډير فعاليت جذبه او جرئت ورکړ.

د شهيد منصور صاحب د رهبري لنډ خو مؤثر دور:

وروسته له دې چې ملااخترمحمد منصور صاحب د بيعتونو په قبلولو سره نوى اميرالمؤمنين وټاکل شو، نو سم لاسي يې د امارتي ادارو د ټولو اړخونو د بيا څيړنې لپاره هيئت وټاکه او کارونه له پخوا څخه څو چنده ډير منظم او ښه شول.

د هيواد په سراسر کې د جهادي عملياتو پراخوالي ته توجه زياته شوه، په جهادي صف کې د چريکې جګړو ترڅنګ د جبهې جګړو د پيل کيدو لپاره امکانات وسنجول شول او په راتلونکي پسرلي کې عملياتي جهادي قطعې رامنځته شوې.

د دې لپاره چې د ټپيانو او اکمالاتو په برخه کې امارت په ځان متکي وي، د صحت چوکاټ ته پراختيا ورکړل شوه، ورسره د اکمالاتو کار ته توجه زياته شوه، همدا ډول د امارت لپاره د عوائدو د جلب لپاره خورا ښه او په احتياط ګامونه واخيستل شول چې امارت يې ښه غښتلى کړ.

په رهبري شورا کې پراخوالى راغى، د هيواد له ټولو اقشارو څخه نماينده ګان په کې وټاکل شول، په اداري برخو کې يوځل بيا ښه تحقيق او کره کتنه وشوه چې اداري فعالې وساتل شي، نظم يې ترمنځ ډير شي، مدون لوائح او طرزالعملونه ولري.

شهيد منصور صاحب رحمه الله د خپلې رهبرۍ په لومړۍ سر کې د داعش په نامه فتنه ګرو سره مخ و، د داعش ځينې غړي د هيواد په ځينو برخو کې ښکاره شول، بيرغونه يې پورته کړل او جهادي صف ته يې عملا په داسې مهال مشکلات جوړ کړل

چـې لـه امریکـایي اشـغالګرو سره د جهـاد سـنګرونه سـخت ګـرم و او اشـغالګرو د وارخطایي او لار ورکړې شیبې شمیرلې.

دلته منصور صاحب د علماء کرامو په مشوره او پریکړه د داعش په ضـد خـورا پـه قاطعیت سره دریځ ونیو.

دا ځکه چې منصور صاحب رحمه الله د خپلې جهادي تجربې لـه مخـې پوهیـده که د دغې دسیسې او فتنې په وړانـدې لـه اغـماز یـا تسـاهل څخـه کـار واخیسـتل شي، جهادي صف ټوټه کوي او د اشغالګرو د کلونو دسیسه چې د اسلامي امارت پـه صـف کې د درځ اچولو لپاره یې په کار اچولې وه، بریالۍ کیږي.

د دې لپاره چې یقیني پوه شو چې داسې کیدل ډیر نـږدې او ممکـن و، ښـه مثـال یې د القاعدې نړیوال جهادي تنظیم دی.

مخکې له دې چې د داعش په نامه د خوارجـو فتنـه سر راپورتـه کـړي د القاعـدې جهادي تنظیم په عراق او سوریه کـې خـورا ښـه پرمختګونـه لـرل، صـف یـې واحـد و، قومنده یې یوه وه او له یو موقف څخه یې خپل مجاهدین رهبري کول. خـو کلـه چـې د داعشي فتنې سره مخ شول، متأسفانه چې د القاعدې واحد او خورا منظم تشـکیل دړې وړې شو، په عراق کې یې خپل ټول شتون له لاسه ورکړ، په سوریه کې هـم لـه رکـود او په ټپه ولاړ حالت سره مخ شول، چې نور دا بحث اوږدول نه غواړم.

که په افغانستان کې د داعشي فتنې په اړه د اسلامي امـارت د رهـبرۍ قاطعیـت او صلابت نه واي، خدای مه کړه اوس به د اسلامي امارت صف په دریو ټوټـو بـدل شـوی و.

ځینو کم فکره کشرانو به په ځان د داعش نوم ایښی وو او څه یې چې زړه ورته ویل کول به یې، یوه تږه به د امارت سره وفاداره پاتې شوي وه خو سخت به ځپل شوي او محکومه وه او یوه لویه کتله به مایوسه شوې وه او په کور به ناسته وه.

په دې کار سره به د امریکایي استخباراتو هغه آرمان پوره کیده چې د اسلامي امارت د صف د تږه کیدو او ایل کیدو لپاره یې درلود.

داچې منصور صاحب په خورا حساس وخت کې هیوادوال له داعشي- فتنې څخه وژغورل، خلکوته یې له ظلم او وحشت څخه نجات ورکړ او جهادي صف یې یو موټي وساته، دا د منصور صاحب د کار د پیل په شیبو کې خورا سخت خو ډیر مهم کار و. جزاه الله خیرا

په سیاسي برخه کې:

د مرحوم امیرالمؤمنین ملامحمدعمر مجاهد په ژوند کې د جهادي فعالیت ترڅنګ سیاسي کمیسیون هم جوړ شوي و او په وروستیو وختونو کې یې په قطر هیواد کې دیوه اعلان شوي دفتر د جوړیدو لارښونه هم کړې وه.

خو بیا هم د دفتر او سیاسي فعالیت په مخ کې خنډونه لا موجود و، ډیرو هیوادونو له امریکا سره د خپلو ګټو اویا ویرې له امله ملاتړ کاوه او له امارت سره یې د اړیکو په ساتلو کې خورا له احتیاط څخه کار اخیست. خو د منصور صاحب د زعامت په وخت کې د مختلفو هیوادونو سره د اړیکو تامینولو عملي هڅې ډیرې شوې.

چې له دې جملې یې د امریکا له رقیبو هیوادونو سره د مخامخ تماس کړکۍ پرانستلې، وخت په وخت یې مختلفو هیوادونو ته هیئتونه ولیږل، د اسلامي امارت په اړه هغه ناسم پوهاوی چې د امریکایي اشغال څخه وروسته د امریکایي پروپاګند له

امله منځته راغلی و هغه يې رفع کړ او خـورا ډېـر هيوادونـه يـې پـه دې قـانع کـړل چـې امريکا د ټولې سيمې لپاره يو ستر خطردی، اشغال يې ټوله سـيمه تهديـدوي، اسـلامي امارت له نړۍ سره په تعامل کې په متقابل احـترام بـاور لـري او هيچاتـه د ضرر رسـولو پالیسي نه لري.

د دغو تماسونو له امله اسلامي امارت د نظامي قوت ترڅنګ په سيمه کې پـه يـوه فعال سياسي قوت هم بدل شو، خورا ډېرو هيوادونو هڅه وکړه چې له اسـلامي امـارت سره خپـل روابـط تـامين کـړي، د دښـمنۍ او بـدبينۍ لـه دريـځ څخـه را وګرځـي او د اسلامي امارت سره ښه سياسي روابط ولري.

د دې کار ګټې له هيچا څخه پټې نـه دي او دې اقـداماتو پـه نـړۍ کـې امريکـايي حيثيت ته سخت زيان ورساوه او هغه رعب له منځه لاړ چې د امريکا لـه ويـرې بـه چـا له طالب سره سلام او کلام نشوای کولای.

منصور صاحب د خپلې رهبرۍ په موده کې له امارت سره دومـره وفـادار، دومـره خادم او دومره مدافع پاتې شو چې خپل ژوند يې هم په همدې لاره کې لـه لاسـه ورکـړ او د شهادت مقام ته پورته شو. تقبله الله

منصور صاحب پخپله لنډه اعلان شوې رهبرۍ کـې وکـولای شـول چـې امـارت لکه چې مخکې مضبوط قوت و هغسې يې وساتي، لا يې پـه نظـامي او سـياسي برخـو کې پياوړی کړي، داخلي ستونزې چې د پيښيدو خطر يې و، ژر حـل کـړي، لـه فتنـو او دسيسو سره په ښه جرئت برخورد وکړي. الحمدلله والمنة

د ريمه رهبري:

د منصور صاحب له شهادت څخه وروسـته د اسـلامي امـارت رهـبري شـورا پـه داسې حال کې چې نه يې ښکاره دفتر او ديوان درلود، نه يې موجوديت ښکاره کـولای

شوای اونه یې هم ډیر لیده کاته کولای شوای بیا هم دغـه رهـبري شـورا چـې د حـل او عقد د شورا په مواصفاتو موصـوفه وه و توانیـده چـې ډیـر ژر شـیخ هبـة اللـه اخنـدزاده صاحب حفظه الله چې د منصور صاحب په وخت کې د هغه یو مرسـتیال و د اسـلامي امارت دریم امیر وټاکي، له پخوانیو تجربو څخه په ګټه اخیستنه خـورا پـه آسـانۍ سره د بیعت مراسم تکمیل شول او امارت پرېنښـودل شـو چـې خـدای مـه کـړه بـې سرپوښـه پاتې شي.

د شیخ هبة اللـه اخنـدزاده صـاحب پـه امیرالمـؤمنین ټـاکلو سره د شـهید منصـور صاحب د شهات له امله رامنځته شوې خلا ډیر ژر بیرته ډکه شـوه او امـارت الحمدللـه د انشعاب یا اضمحلال لـه زیـان څخـه وژغـورل شـو. د جنـاب اخنـدزاده صـاحب پـه راتګ سره د اسـلامي امـارت چوکـاټ پخپـل حـال مـنظم او فعـال وسـاتل شـو، ټولـو کمیسـیونونو، ادارو، د ولایتونـو مسـئولینو، ولسـوالانو، قطعـاتو، دلګـۍ مشرـانو، مجاهدینو او عامو مسلمانانو له شیخ صـاحب سره بیعـت او د وفـادارۍ ژمنـه وکـړه او الحمدلله تر سره یې هم کړه.

اوس مهال چې اسلامي امارت یو امیر، ۳ مرستیالان او یـوه قـوي رهـبري شـورا لري د نړۍ په سطحه په یوه نظامي او سیاسي قوت بـدل شـوی، هـر هیـواد او پـه هیـواد کې د ننه هر جهت یې په برم او میړانه قائل دي.

دا سترې کارنامې چې د دیني عالمانو په نامه رامنځته او ثبـت شـوې هغـه څـه پـه ډاګه کوي چې د دیني عالمانو رهبري د ملتونو تـاریخي بـرم او عـزت اعـاده کـولای او ساتلی شي. د دیني رهـبري پـه رامنځتـه کیـدو سره د هیـواد اسـلامي اصـیل تشـخص، پیاوړتیا، ننګ او عزت خوندي کیږي.

اسلامي امارت پخپله ۲۵ کلنه دوره کې د افغانستان لپاره ډیر څه وکړل، دا هیـواد یې له تجزئي او تخریب څخه وژغـوره، پـه دې هیـواد کـې یـې د خلکـو دیـن او عقیـده

وساتله، عریض فساد یې له منځه یوړ، د یرغلگرو په مقابل کې یې تـاریخي جهـاد پیـل او تر اوسه په ښه ډول رهـبري کـړ چـې د ټـول افغـان مسـلمان اولـس او حتـی مسـلمان امت لپاره د افتخار او ویاړ ځای دی.

د اسلامي امـارت د سـتړې او خـورا مـدبرې رهـبرۍ پـه اهمیـت سـړی هلتـه ښـه پوهیدلی شي چې دغـه د امریکـا سره د جهـاد دوره د شـوروي اتحـاد پـه مقابـل کـې د جهاد له دورې سره مقایسه کړي.

مثلا د شوروي اتحاد سره د جهاد مرحله هـم واقعـا سـتړې او ډېـره طاقـت فرسـا دوره وه، مگر هلته د اوسني جهاد په تناسب ډېر امکانات او ظروف موجود وو.

مثلا د هجرت کولو لپاره یوامن ځای موجود و چې په میلیونونو افغانـانو لـه کفـر څخـه د نجـات لپـاره هلتـه فنـا یـوړه، سـاه یـې واخیسـته، ځـان یـې مـنظم کـړ او بیـا راوگرځیدل، د مجاهدینو لپاره د جهاد پـه جریـان کـې د عـربي هیوادونـو او امریکـا پـه گډون له نیمې نـړۍ سره اړیکـې او د هغـو د مرسـتو جلـب تـه ازاده او بـې خطـره لاره پرانستې وه، د مجلسونو، شـوراگانو، تصـامیمو او پریکـړو لپـاره د راټولیـدا او مشـترک بحث ځای او امکانـات موجـودو، افغانـانو تـه د مجاهـدینو مشرـانو پـه ازاد ډول خپـل پیغام مخامخ رسـولی شـوای، جلسـې او لـوی غونـډې جوړیـدای شـوای، نړیوالـو او سیمیزو رسنیو د مجاهدینو په نفع ښه نشرـات درلـودل او جهـادي مشرـانو تـه د پیغـام رسولو، د جهادي بریاوو د خپراوي او نشر لپاره پـراخ میـدان د مجاهـدینو پـه واک کـې و.

خو له دې ټولو امکاناتو سره سره د جهاد صف عملا ۱۵ ځـای تقسـیم شـوی و، ۷ لوی تنظیمونه (حرکت انقلاب اسلامي، د خالص بابـا اسـلامي حـزب، د حکمتیـار حزب اسلامي، جمعیت اسلامي، اتحاد اسلامي، محاذ ملي اسـلامي او نجـات مـلي).

ورسره حزب وحدت، حرکت محسني، حرکت اکبري په ګډون ۸ تنظيمونه په ايران کې شيعه افغانانو ته جوړ شوي وو.

يعنى له پراخو امکاناتو سره سره د هغې زمانې مجاهدين نه وو توانيدلي چې يوه واحده رهبري ولري او د مجاهدينو د افتراق او اختلافاتو مخه بنده کړل شي.

له شوروي اتحاد سره د جهاد په زمانه کې ډيرځل داسې هم پيښه شوه چې جهادي تنظيمونو پخپل منځ کې هم يو په بل پسې وسلې پورته کړي او ډير جنګونه يې سره وکړل.

د جهادي صف قومندانان او غړي د تنظيمونو د تعدد له امله دومره پياوړي او خپل سري شول چې د خپلو مشرانو اطاعت يې پريښود، هرچا چې د جهاد په نامه څه کول غوښتل کولای يې شوای. د جهاد په نامه دعامو خلکو له ژوند سره بې احتياطي روانه وه، مرګونه عادي او عام وو، د مسلمان په حيثيت او عزت تجاوز او مال ورڅخه وړل د ځينو تنظيمي قومندانانو د ورځې کار و.

د اکثرو تنظيمونو مشرانو لا د جهاد په وخت کې د خپلو قومندانانو کنترول او واک له لاسه ورکړی و، هيڅوک يې له بده کاره نشوای راګرځولای، ځکه که به کوم تنظيم خپل کوم قومندان د بد کار له امله توبيخ کړ، هغه قومندان به سباته بل تنظيم ته ورغلی و او هلته به لا لوی ډاکو ورڅخه جوړ شو.

همدا خپل سری او عدم کنترول و چې کله جهاد بريالی شو، په کابل او ولاياتو کې د يو بل نه منلو او خپل سريو له امله کورني جنګونه، پاټکونه، غلا، چور او تالان پيل شو او د ستر جهاد آرمانونه يې په اوبو لاهو کړل.

خو د اسلامي امارت زيرکې او مدبرې رهبرۍ د تير جهاد له تجربو څخه په استفاده په روان اتلس کلن جهادکې په هيڅ ډول اجازه ورنه کړه چې جهادي صف بيا

په تنظيمونو او قومندانانو وويشـل شي. اګرکـه ځينـو لنډفکره اشخاصـو هڅـې وکـړي چې د امارت صف هم د پخوانيو تنظيمونو حال ته وګرځوي، خو د امـارت د رهـبري د هوښيارۍ او قاطعيت له امله دا ډول دسيسې ناکامه شوې.

د شوروي يرغلګرو او داخلي کمونستانو ضد جهاد ۱۴ کاله ونيـول، خـو د هغـه وخت جهادي رهبري ونشـو کـولای د وخـت پـه تيريـدو سره د جهـاد د کنـترول واګـې کلک وساتي، خو نن له امريکا سره د امارت د جهاد اتلس کاله تيريـږي، الحمدللـه هـر کال يې له تير کال څخه په جهـادي صـف بانـدې لـه پراخيـدو سره سره تسـلط پيـاوړی کيږي او لا ډير نظم او دسپلين منځته راځي.

د شوروي اتحاد سره د جهاد په زمانه کې له اکمالاتي پلوه مجاهـدين خـورا بسـيا وو، خو په اوسني جهادي دور کـې مجاهـدين د دښـمن پـه وړانـدې لـه خـورا ابتـدايي وسائلو کار اخلي، مثلا د غوړيو له پلاستيکي زيړو بوشکو څخه په خپـل لاس ماينونـه جوړوي، د دښمن څخه له نيول شوو وسلو او وسائلو څخه په استفاده بيرتـه د دښـمن په وړاندې مؤثر عمليات ترسره کوي.

د اوسنيو مجاهدينو لپاره د هجرت او پنـا اخيسـتلو هـيڅ مصـؤن او مـأمون ځـای نشته، په هرځای کې مشران او کشران له خپلو کورنيو او متعلقينو سره تـول د شـهادت، زنداني کيدو او ځورولو له تهديد سره مخ دي.

له يادو مشکلاتو او د پخواني جهاد له جريان او بيـا ثمراتـو څخـه سـړی اسـتنباط کولای شي چې د اسلامي امارت رهبري له پخوانۍ هغـې څخـه څـو چنـده بريـالۍ او پياوړې ده.

موږ هيڅ کله لويي او تکبر نه کوو، خو د تحـديث بالنعمـت پـه ډول يادونـه کـوو چې موجوده بې حسابه مشکلاتو ته په کتو د اسلامي امارت په شان سـالمه، پيـاوړې او بې داغه رهبري د افغانستان په تاريخ کې نه ده تيره شوې.

په افغان مسلمان ملت خصوصا په ديني قشر او په امارت کې بوخت مجاهدينو باندې لازمه ده چې د دغه حالت سخت شکرگزاره و اوسي. دا ډول رهبري او دا ډول لوی منظم صف درلودل زموږ د کوم کمال او زيار يا پوهې نتيجه نه ده، بلکې د لوی الله جل جلاله احسان او منت دی. موږ بايد د الله تعالی د بندگانو په ډول د دغه ستر نعمت شکر ادا کړو.

موږ بايد د دې برياليو رهبري او د سپيڅلې صف په قوي ساتلو، حمايت او دفاع کې ډيرې هڅې وکړو.

د اسلامي امارت د اکثرو رهبرانو زامن او د کورنۍ نور غړي عملا د جهاد په سنگرونو کې په جهاد بوخت دي.

د اوسني اميرالمؤمنين شيخ الحديث هبة الله اخندزاده صاحب زوی (حافظ خالد) تير ۱۳۹۷هـ ش کال د هلمند په کرشک کې په دښمن باندې فدايي عمليات وکړل او شهيد شو.

د مرحوم مولوي جلال الدين حقاني رحمه الله ۴ زامن شهيدان شول، يو زوی يې بندي او نوره ټوله کورنۍ يې عملا په جهاد بوخته ده.

د مرحوم اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد زامن د جهاد په سنگرونو کې د افرادو په ډول جهادي نوبتونه تيروي.

همدا ډول د اکثرو مشرانو زامن شهيدان شوي، بنديان شوي، يا عملا د جهاد په صف کې ولاړ دي، قربانۍ ورکوي، ستړياوې گالي او په خورا سختو امنيتي شرائطو کې پرمشقته ژوند لري.

دا ډول مشران لرل او د داسې قيادت تر چتر لاندې ديني خدمت کول يو خاص الهي انعام دی او دا خبره بايد هيڅ مجاهد او د درک خاوند افغان له پامه ونه غورځوي.

موږ په خپلو اميرانو باندې له هره پلوه پوره باور او اعتماد لرو، ترهغو چې دوی پخپل دغه شرعي موقف او دريځ پاتې وي، دوی به ان شاءالله تعالی هيڅ کله منحرف نشي، دوی به هيڅ کله د دسيسو ښکار نشي، دوی به هيڅ کله د شهيدانو له آرمانونو سره خيانت ونه کړي، دوی به هيڅ کله دښمن ته استکان ونه کړي او سرټيټې په نشي. ان شالله تعالی

په آخره کې يوځل بيا تاکيد کوم چې موږ بايد دا حالت خپل کوم کمال ونه بولو، بلکې د الله تعالی محض رحمت او احسان يې وبولو. د فتنو په دې ډک دور کې داسې رهبري او داسې باعزمه مشران لرل د ډيرې خوشحالۍ او د ډير شکر خبره ده.

ټول افغان اولس په ځانګړي ډول هغه سترې او ستومانه مجاهدين چې خورا درنې قربانۍ يې ورکړې، هجرتونه، شهادتونه، زخمونه، زندانونه، محروميتونه او سفرونه يې وګالل بايد الله تعالی ته ډير شاکر او تائب واوسي او د خپلو مشرانو لپاره له الله تعالی څخه لا ډير توفيق، حوصله، استقامت، صبر او ثبات وغواړي.

دوی بايد اطاعت وکړي او د مشرانو له تګ لارو څخه هم پخپله زده کړه وکړي او هم د راتلونکو نسلونو لپاره درس انتقال کړي. وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي إِنَّ النَّفْسَ لَأَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ

وما علينا الا البلاغ

که اسلامي امارت نه وای؟!

مولوي سردار محمد شکیب

لیکوال، دسیاسي او جهادي چارو څېړونکی

کـه دافغانســتان اســلامي امــارت نــه وای، نــو بیــا بــه هــرو مــرو «... لَفَسَـدَتِ الأَرْضُ...» د (افغانستان) په ځمکه کې فساد وای، د فساد معناګـاني خـو کتـابونو کـې ډېرې شوي، ولي موږ به دلته د فساد هغه معنی را اخلو، کوم فساد چې د دغـه تحریـک د پیدایښت بنسټیز لامل ګرځیدلی او هغه د کمـونیزم د خونخـوري بـلا تـر ورک کیـدلو وروسته دلته د آنارشیزم او ملوک الطوایفي په شکل کې د عامـه فسـاد رامـنځ تـه کیـدل و، چې د هر افغان (نر او ښځې، لوی او واړه) ژوند یې له خطر سره مخ کړی و.

دا دعوه به چې د طالبانو د اسلامي تحریک د پیدایښت په سبب د ډېـرو فسـادونو مخه نیول شوې؛ تاسو لوستونکو ته څنګـه ښـکاري؟، خـو زه خپلـه پـه دې کـې هـیڅ شک نه وینم، دلیل به یې لږ وروسته درته ووایـم، خـو لـومړی بـه دا آیـة شریـف ولولـو چې:

»وَلَوْلَا دَفْعُ اللَّهِ النَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ الْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ اللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى الْعَالَمِينَ (٢٥١)

... که چیري الله پاک انسانان له یو و بل نه په یو بل دفع نه کړي، نو هرو مرو به (د هغوی د ناسمو کړنو له وجې) ځمکه فاسده شي، مگر الله تعالی د ستر فضل خاوند دی پر خپل مخلوق باندې.

د قرآنکریم د بقرې سورة، د پورتني (۲۵۱) آیة دا حصه د دغې مقالې د هغې پوښتنې کافي ځواب کیدای شي، چې د مقالې په سرلیک کې مطرح شوې، پورتنی سرلیک د افغان ولس پوښتنه ده چې که اسلامي امارت نه وای، څه به شوي وو؟ دغه امارت د خپل جوړښت له ابتداء نه تر اوسه موږ (افغان ولس) ته څه راکړي؟

د دې لپاره څو ټکي په پام کې نیول پکار دي:

لومړی: د دغه تحریک د پیدایښت مرحله

په دې اړه که چیري دغه ټکي ته متوجه شو، او د افغانستان هغه وضعیت ته چې تر دې تحریک وړاندې، دلته حاکم و؛ هغه ډېر پخوانی زماني واټن نه دی، ښایی د ډېرو ځوانانو لا هم د هغه حالت تصویر په ذهن کې موجود وي، کنه کیسې او داستانونه خو به یې هرو مرو ډېر اوریدلي وي؛ نو هغه حالات واقعاً چې یو فسادِ عام و، او د الله تعالی شان دا دی چې د ځینو انسانانو، چې هغوی مصلح وی؛ په وجه له ځینو نورو، چې هغوی نافرمانه او بې لاري وي؛ د خپل مخلوق حفاظت کوي، لکه څنگه چې یې د دې تحریک د را پاڅولو په مټ د بې بندوباره ملوک الطوایفي او بې خرته آنارشیزم مخنیوی وکړ او د افغانستان د شهیدانو پاکه خاوره یې له فساده وژغورله. نو په دې لحاظ دا تحریک د افغان ولس لپاره یو خالص رحمت گڼلای شو چې فقط او فقط ښیگڼې یې دې ولس ته ورکړي دي، او رښتیا چې دا تحریک د الله یو لوی فضل و.

ولی چې، ابن عمر رضی الله عنه د پیغمبرعلیه السلام څخه روایـت کـې فرمـایی: چې الله تعالی د یو صالح مؤمن په سبب د هغه له سلو ګاونډیانو څخـه د بـلاء او فتنـې مخنیوی کوي، بیا یې همدا پورتنی آیة په دلیل کې قرائت کړ.

عن ابن عمر قال: قـال رسـول اللـه - صـلى اللـه عليـه وسـلم -: " إن اللـه ليـدفع بالمؤمن الصالح عن مائة أهل بيت من جيرانه الـبلاء " ثـم قـرأ ابـن عمـر: " ولـولا دفـع الله الناس بعضهم ببعض لفسدت الأرض" .

دوهم: د تحریک واکمني اود هغه د امارت مرحله

دلته که بیـا چیـري دغـي ټکـي تـه متوجـه شـو چـې اسـلامي تحریـک پـه څنګـه نامسـاعدو شرایطـو کـې د واک واګـي پـه لاس کـې واخیسـتې؛ د بهرنیـو او کورنیـو دښمنانو بې شمېره فشارونه او بندیزونه، په کور دننه د شر او فسـاد د بقایـاوو شـتون، د حکومتولۍ ناتجربګي، د نظام د چلولو لپـاره تـش لاسي او داسي نـور ډېـر عوامـل وو چې دا تحریک یې دې تـه پرینښـود چـې د افغـان ولـس لپـاره سل٪ سـلنه د رحمـت او ښیګڼو سمبول ثابت شي، خو مثبت اړخ یې د ستونزو پر اړخ جوت وزن درلود.

د هرج و مـرج ختمـول، مثـالي امـن قـایمول، د تجزیـې مخنیـوی کـول، د غـلا، فسـاد، رشوت او نورو نادودو له مینځه وړل، د شته امکانـاتو پرځـای مصرفـول، عـدالت پـلي کول، د هر نامسئول له لاسه وسلي را غونډول، د نظام د استحکام، او بیـا آبـادۍ پرخـوا قدمونه اوچتول او داسي نور هغه څه وو چې د ولس لپاره خورا لویې ښیګڼي وې.

دریم: له سقوط نـه وروسته د بیـا را ژونـدي کیـدلو او بیـا مـنظم کیـدلو مرحله

دا مرحلـه هـم تقریبـاً لـومړنۍ هغـي تـه ورتـه ده، ځکـه چـې دلتـه د حکـومتي مسئولیت په کچـه هرڅـه د امـارت لـه لاسـه وتـلي و، دلتـه یـوازي د هیـواد د آزادۍ او د

خپلي خاورې د دفاع مسئوليت ورترغاړي وو، چې هغه ته يې په ښـه ډول اوږه ورکـړه، دا مهال که څه هم افغان ولس ډېر ورسره وکړيد، خو علت يې امـارت نـه بلکـي بهرنـی يرغل و، کوم يرغل چې دفاع يې نه يوازي پر امارت بلکـي پـر ټـول مسـلمان ولـس هـم فرض وه، دا چې دا فرض د امارت له لوري په خورا ميړانه ترسره شو او ولـس يـې ترشـا ودريد؛ نو دا هم د امارت له لوري ولس ته د يوې خـالص ښـيگڼي ورکولـو مـترادف و. ځکه چې هيواد د بهرني دښـمن لـه تيـري څخـه ژغـورل، د خـاورې د آزادۍ لپـاره سر ورکول، او ولس د يو آزاد او مستقل ولس په شـکل بيرتـه را پورتـه کـول؛ واقعـاً چـې پـر افغان ولس يوه لويه لورينه ده، او دا کار امارت په ښه توگه انجام کړ.

نو د مقالې د سواليه سرليک آسانه ځواب دا دی چې کـه اسـلامي امـارت نـه وای نو دلته به هغه فساد چې حاکم و؛ دوام به يې کړی وای او خدای خبر چې نـور بـه لا پـه څه ناسور بدل شوی وای.

بيا چې اسلامي امـارت د امريکـا پـه مشرۍ د نـاټو د يرغـل پـه وړانـدې نـه وای دريدلی او د ولس رهبري يې نه وای کړې، نو خدای خـبر چـې دا د سـل سـلني اسـلام خپلواکه خاوره به د څو پيړيو لپاره د پرديو د غلامۍ په ځنځيـر کـې بنـده پـاتي وای، او خپل سپيڅلي ديني او کلتوري ارزښتونه به يـې څنگـه پـه پرديـو خصوصـاً د غـرب پـه منحط کلچـر کـې مضـمحل شـوي وای.؟ د کلونـو کلونـو د خپلـواکۍ تـاريخ بـه يـې څنگه له خاورو سره خاوري شوی وای.؟

خو له نيکه مرغه هغسي څـه ونشـول څنگـه چـې د افغانسـتان دښـمنانو يـې اراده درلوده، نو له دې امله موږ په پوره وثوق او وضاحت سره ويلای شو چې که امـارت نـه وای نو د افغان ولس له لاسه به ډير څه وتلي وای او هغه له لاسه وتـلي بـه يـې هيڅکلـه بيا ترلاسه کړي هم نه وای.

امارت اسلامی وحدت ملی را تامین کرد

مولوي نعیم الحق حقانی

نویسنده وپژوهشگر امور سیاسی واجتماعی کشور

امارت اسلامی از بدو تاسیس همواره ارزش های والای اسلامی و ملی را بـه سرزمـین خود بـه ارمغـان آورده اسـت کـه کمـتر نظـامی در کشـورهای دور و نزدیـک شـاهد آن دستاوردهای با افتخار بوده و کمتر مردمی آن افتخارات ارزشمند را به خود دیده است.

از جمله شهکاری های پر افتخار امارت اسلامی ایجاد فضای اخوت، هـم دلـی، وحـدت و یکپارچـه گـی واقعـی در کشـور عزیـز و غمـزدهٔ افغانسـتان بـود کـه امـارت اسلامی به وجه احسن آن را تا اکنون تامین کرده اسـت؛ بـر ایـن سـخن بـه یقـین چیـزی گزاف نگفته و ادعای خالی نکرده ایم چرا که همه شاهد حال بـوده و هسـتند کـه یگانـه حرکتی که افغان ها را ضمن آنکه استقلال، اقتدار، عزت و باورمنـدی داده و وحـدت و یکپارچگی واقعی را تامین و در افغان هـا فضـای محبـت، اخـوت و بـرادری را نافـذ و مستحکم کرد آن امارت اسلامی افغانستان بود.

امارت اسلامی یگانه مرجع تصمیم گیری برای شکل دهی نظم و نظام حکـومتی برای افغان هاست که همواره تمـام افغـان هـا از هـر قومیـت و ملیـت، خـود را در آینـهٔ شـفاف آن مـی توانـد مشـاهده کنـد و هـر کسـی در آن خانـهٔ بـزرگ احسـاس راحتـی و آرامش داشته باشد؛ خانهٔ بزرگی که افغان ها از سالیانِ سال آرزوی بنای چنان تعمیری را داشته اند.

امارت اسلامی (چنانچه که بارها در مناسبت های مختلـف رسـما اعـلان کـرده) خانهٔ مشترک تمام افغان هاست و این سخن ادعای تازه و چیز نو نیسـت بلکـه در طـول

سالهای که از عمر آن نظام مقدس سپری شده اگر به دقت مطالعه و بررسی شـود مـی بینیم که تمام افغان ها بدون چون و چرا و بدون قید و شرط خـود را در آن خانـۀ بـزرگ می بینند؛ تشکیلات نظامی و سیاسی امارت اسلامی به گونۀ چیـده شـده اسـت کـه از تمام اقوام در آن صف شامل اند بـدون هـیچ تعصـب و توجـه بـه اینکـه از کـدام قـوم و قبیله است و یا بـه کـدام ملیـت و زبـان تعلـق دارد؛ بلکـه هـر کسـی حسـب زحمـت و قربانی خـود در وظـایف مختلـف در امـارت اسـلامی مصرـوف خـدمت دیـن و وطـن خویش است.

امارت اسلامی چونکه دعوای اسلامی دارد به حکم دین هیچگاهی بین اقـوام و ملیـت های افغانستان فرق نگذاشته و حتی همواره کوشیده است تـا در جلـب اقـوام و ملیـت ها و نگهـداری از وحـدت آنهـا تـا حـدود زیـادی جانفشـانی نیـز بکنـد، شـما اگـر در صفوف جهادی امارت اسلامی بنگرید از بدخشان تا هلمند، از ننگرهـار تـا هـرات، از فراه تا قندوز، از غور تا پکتیا، از کاپیسا تا بادغیس، از تخار تا نیمروز، از کابل تـا هـر گوشۀ افغانستان پهناور چیزی که به نام طالب و یا مجاهد اسـت و سربـاز جـان برکـف امارت اسلامی گفته می شود و یا در پست هـای مهـم ایفـای وظیفـه مـی کننـد همـه و همـه تحـت یـک قومانـده، یـک امیـر و تحـت یـک بیـرق بـوده و در جغرافیـای بـزرگ افغانستان زیر بیرق امارت اسـلامی هـر گونـه ملیـت هـا را مـی تـوان مشـاهده کـرد، از پشتون و تاجیک گرفته، تا ترکمن و ازبیک و هزاره و ایـماق، بلـوچ و پشـه ای و غیـره و این همه لله الحمد به طراوات، تازگی، تنوع و شادابی افغان ها رنگ و بـوی دیگـر داده و می دهد.

دشمنان اسلام بسیار سعی و تلاش کرده و می کنند و هم اکنون نیز دسـت بـه کـار انـد که همواره امارت اسلامی را نمایندۀ یک قوم خاص معرفی کننـد و چنـان وانمـود کننـد که امارت اسلامی حاکمیت یک قوم بر سایر اقوام را می خواهـد حالانکـه هرگـز چنـین

نبوده و در منویات رهبری امارت اسلامی چنین موضوعی هیچ جایگاهی ندارد بلکه در آن خانهٔ بزرگ همه یک امیر شرعی داشته و به طبع والیان و مسئولین در سایر اداره ها از اقوام و قبایل مختلف را بطور زنده می توان مشاهده و احساس کرد، از ترکیب شورای رهبری امارت اسلامی گرفته تا روسای کمسیون های مختلف، از هیئت ها و نمایندگان سیاسی گرفته تا حلقه مشرها و زون های نظامی و والیان و ولسوال ها همه و همه از اقوام و ملیت های مختلف تشکیل شده و این تنوع و هم پذیری در صف امارت اسلامی که بیانگر صداقت و نیت پاکی آن است را به وضوح می توان دید.

در معاصر در افغاستان جریانات و تنظیم های سیاسی و حزب های مختلف سر برآورده و ادعای محوریت و رهبریت جامعهٔ افغانستان را کرده اند اما دیده شده که هیچ کدام شان نتوانست وحدت ملی به معنی واقعی کلمه را در افغانستان پیاده کند جز امارت اسلامی که چون بنایش بر صداقت و هم پذیری بود در قلوب آحاد ملت جای گرفت و تمام ملت را به همدیگر پیوند و هویت ملی بخشید و همه را زیر یک چتر واحد جمع کرد.

امارت اسلامی بر خلاف پروپاگند دشمنان نه نماینده یک قوم خاص بلکه نمایندهٔ واقعی تمام ملت مسلمان افغانستان بوده و در عمل نیز این موضوع را ثابت کرده است چرا که امارت اسلامی به ملت و مسلمانان تعلق دارد نه به نژاد و یا قوم خاص، و وقتی چنین است پس تمام ملت مسلمان در آینهٔ امارت اسلامی خود را می تواند مشاهده کند و بدون کمی و کاستی به راحتی دیده می شوند و این در واقع یکی از امتیازات منحصر به فرد امارت اسلامی است چیزی که هیچ جریان و یا حزب و تنظیم سیاسی دیگر ندارد.

شاید بعضی منسوبین احزاب سیاسی و یا جریان ها و حرکت ها چون از این ناحیه رنج برده و خودشان در بلای تعصب و مشکلات نژادی قرار دارند کوشیده

باشند امارت اسلامی را بر خود قیاس کرده و با اتهامات واهی و بـی اسـاس و سـخنان پوچ، بی دلیل و احساساتی چیزهایی غیر مستند را جعل کرده و در پـی بـدنامی امـارت اسلامی بگویند اما واقعیت آن است کـه هـم تـاریخ و هـم ملـت شـاهد حـال بـوده کـه امارت اسلامی همیشه منجـی ملـت، و منـادی وحـدت و یکپـارچگی در کشـور خـود بوده و شدیدا از اختلاف و دودستگی در جامعهٔ مسلمان افغان تنفر داشته است.

امارت اسلامی چه در وقت حاکمیـت خـود و چـه در دو دهـه اشـغال در مبـارزه علیه اشغالگران به شـمول قـوم سـادات از تمـام اقـوام و اقشـار مختلـف افغانسـتان در تشـکیلات نظـامی و غیرنظـامی خـود نیـروی انسـانی داشـته و حسـب تـلاش افـراد و قومیت ها همه را در یک نگاه دیده و وحدت واقعی، ملی و آرمانی را برای ملـت عزیـز خود به ارمغان آورده است.

حتی در وقت امارت اسلامی بارها چنـین اتفـاق افتـاده اسـت کـه در مناصـب و چوکی های بالا هرگاه که قومی نسبت به قوم دگـر خـود را در جایگـاه کمـتر احسـاس کرده امارت اسلامی بـه اعتبـار شخصـیت و اسـتعداد و کارآمـدی و در عمـل بـه اصـل دیانت، امانت و صداقت سـعی کـرده تـوازن قـومی را ایجـاد کنـد و هـر کسـی را طبـق لیاقت آن پُست و مقام بدهد.

پس از اشغال کشور به دست امریکا از وقتی که مبارزهٔ جانانه علیه دشمنان متجـاوز و ایـادی اجیـر شروع شـد امـارت اسـلامی یگانـه حرکتـی اسـت کـه در گوشـه و کنـار افغانستان جبهات متحد و فعال داشته و تنها حرکتی بوده و هست که مبـارزه واقعـی بـا امریکا به آن منسوب می شود و افـراد و عسـاکر فـداکار امـارت اسـلامی از هـر قـوم و قبیلهٔ افغانستان بوده و تمام توده های عزتمند و بـا غیـرت کشـور بخـاطر آزادی، اعـادهٔ استقلال و نجات وطن متحدانه زیر لوای مقدس امارت اسلامی گرد هم آمده اند.

نیز امارت اسلامی همواره در بیانیه هـای رسـمی خـود مخصوصـا در پیـام هـای مناسبتی اعیاد مذهبی به همه تاکید کرده است که امـارت اسـلامی بـه دنبـال یـک نظـام افغان شمول بوده و هیچگاهی مسئلۀ لسان و نژاد برای آن مطرح نبـوده بلکـه هـر کسـی طبق تلاش، قربانی، اخلاص و همکاری خـود در نظـام امـارت اسـلامی در مسـئولیت های مختلف گمارده می شود و بر اساس اخوت و مودت اسلامی با تمام ملیـت هـای افغان رفتار می شود.

طبق قانون نظام شناسی از شاخصه های یک نظام موفق و ایـده آل آنسـت کـه در ترکیب خود افرادی را از ملیت های مختلف و مطرح کشـور بـا خـود بـه همـراه داشـته باشد تا به دنیا وحدت ملی و همبستگی خود را نشان داده و پیغام واضـح هـم پـذیری و همزیستی در فضای اخوت و برادری را انعکـاس بدهـد؛ مخصوصـا در کشـوری مثـل افغانستان که همواره دستخوش تحولات بوده و دشـمنان سرسـخت اسـلام هیچگـاهی نخواسته که افغان ها برادروار و متحد در کنـار هـم زنـدگی سـالم و مسـالمت آمیـز در فضایی سرشار از امنیت و آرامی داشته باشند.

خلاصه این یک حقیقـت انکـار ناپـذیر اسـت کـه امـارت اسـلامی چـه در وقـت حاکمیت، چه در وقت حمله امریکا و اشغال کشور بـه دسـت قـوای صـلیبی در تمـام جبهات با ایجاد انگیزه و احساس در تمام قومیـت هـا، وحـدت ملـی بـه معنـی واقعـی کلمه را به وجود آورده اسـت و ان شـاء اللـه تعـالی در حاکمیـت دوبـاره و سرتـاسری امارت اسلامی، اتحاد و وحـدت ملـت افغانسـتان در محوریـت نظـام مقـدس امـارت اسلامی قرار گرفته و ملت عزیز افغانستان در تمام دنیا در وحدت ملی واقعـی، اخـوت و برادری زبان زد عام و خاص شودد.

به امید آن روز زیبا و بزرگ که دیر نیست.

د اسلامي امارت د مشرتابه ځانګړتیاوې

مولوي اسدالله کریمي
لیکوال او ژورنالیست

تجربو او تاریخ ثابته کړې چې یو نظام او خوځښت هغه مهال خپلې موخې او اهداف ترلاسه کولای شي، چې قائدین او مشران یې د علم، حلم، صبر، ثبات، استقامت، شجاعت، تقوی، عزم، تدبر، سیاسي بصیرت، ټینګ تعهد، خپلواکۍ او داسي نورو غوره معنوي او حقیقي صفاتودرلودونکي وي، ځکه همدا صفات د نظام د بقاء، ټینګښت، ارتقاء او تکاملي مرحلې ته د رسیدو له پاره حیاتي ارزښت لري.

هغه ځانګړتیاوې چې الله تعالی په قرآن کریم کې د اسلامي نظام د قیادت او مشرتوب له پاره ملاک او معیار ګرځولې هغه هم، علم، درایت، قوة رأی، په حربي امورواګاهي، جسماني قوة او سلامتي، شجاعت او په سختیو کې شکیبایي او لوړ همت دی، نه شاهي او اشرافي خاندان، پراخ جایدادونه او سرمایې درلودل.

وَقَالَ لَهُمْ نَبِيُّهُمْ إِنَّ اللَّهَ قَدْ بَعَثَ لَكُمْ طَالُوتَ مَلِكًا ۚ قَالُوٓا أَنَّىٰ يَكُونُ لَهُ الْمُلْكُ عَلَيْنَا وَنَحْنُ أَحَقُّ بِالْمُلْكِ مِنْهُ وَلَمْ يُؤْتَ سَعَةً مِّنَ الْمَالِ ۚ قَالَ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰهُ عَلَيْكُمْ وَزَادَهُۥ بَسْطَةً فِي الْعِلْمِ وَالْجِسْمِ ۖ وَاللَّهُ يُؤْتِي مُلْكَهُۥ مَن يَشَآءُ ۚ وَاللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ

ژباړه: د هغوی پیغمبر ورته وویل: "الله تعالی طالوت ستاسي باچا ټاکلی دی. " ددې خبرې په اورېدو هغوی وویل: "هغه څنګه پر موږ باندې د باچا کېدو حق

وموند؟ - د هغه په پرتله موږ د باچاهۍ زيات وړ يوو، او هغه کوم زيـات شـتمن سـړی نه دی. " - پېغمبر ځـواب ورکـړ: "اللـه پـر تـاسي هغـه غـوره کـړي دی او هغـه تـه يـې روحي، علمي او جسمي پراخ اهليت او قـوت وربښـلی دی او اللـه تعـالی واکمـن دی چا ته يې چي خوښه شي خپل ملك ورکوي، له خدای سره ډېره پراخي ده او پر هـر څـه عالم دی.

د دې آيت کريمه د دې جملـې (وَزَادَهُ بَسْـطَةً فِي الْعِلْـمِ وَالْجِسْـمِ) پـه تفسير کـې علامه ابن کثيرليکلي چـې (وَزَادَهُ بَسْـطَةً فِي الْعِلْـمِ وَالْجِسْـمِ) أي: وهـو مـع هـذا أعلـم وأنبل منكم وأشد قوة وصبرا في الحرب ومعرفة بها.

د افغانستان اسلامي امارت چـې پـه معـاصر دور کـې پـه نړيوالـه کچـه د کفـر او استبداد پر خلاف د جهاد او مبارزې يو مستحکم سـنگر بلـل کيـږي، تأسيسيـ قائـدين يې لله الحمد پـه موهوبـوي شـکل د رهـبرۍ او مشرتابه لـه فـوق العـاده اسـتعدادونو، صلاحيتونو، مهارتونو او پورته ذکـر شـويو ځانگړتيـاوو څخـه بـرخمن دي. داسـلامي امارت مشرتابه د يادو شوو مواصفاتو په لرلو سره پـه مختلفـو ډولونـواو بيلابيلـو پړاونـو کې امتحانونه ورکړي او د اسلام او جهاد په لاره کـې يـې لـه هـيڅ راز قربـانۍ ورکولـو څخه دريغ نه دی کړی.

د اســلامي امــارت د قيــادت او مشرـتابه يوشــمير مشخصــات، مواصــفات او ځانگړتياوې چې مايې د قلمبندکولو هڅه کړې په لاندې ډول دي.

کله چې د اسلامي امارت مؤسس مرحوم امير المؤمنين ملا محمـد عمـر مجاهـد رحمه الله د ۱۴۱۵ هـ ق کال د محرم الحرام ۱۵ نېټه په هيـواد کـې د شر، فسـاد، ظلـم، فحشا، غصب، غلا او گډوډۍ پـر ضـد د مبـارزې بنسـټ کيښـود او د هيـواد ۹۵ سـلنه خاوره د شر او فساد له عناصرو څخه پاکه او اسلامي نظام قائم شو، هماغـه مهـال هـم دد غه ستر او عالي هدف ترلاسه کول ځکه ممکن شو، چـې د دې خوځښـت قيـادت د

زهد، تقوی، شجاعت، پخې ارادې، بصیرت، د دین او هیواد علیا منافعو تـه د تعهـد پـه برخه کې ځانګړی مقام او تعهد درلود.

د اسلامي امارت د موفقیت او بریا راز په دې کـې دی، چـې قیـادي مشرتابه یـې ګڼې داسي ځانګړتیاوې او مواصفات هم لري چې د نورې نړۍ په رهبرانو کې ډیـر کـم او یاهم نه موندل کیږي.

دوی نه سرمایې ټولې کړې، نه یې له کوم اجنبـي سره د ارزښـتونو پـه سر معاملـه کړې، نه یې لوی لوی جایدادونه پیدا کړي، نه یـې د مسـتریح او هوسـا ژونـد لـه پـاره د ډالرو او امتیازاتو اخیستلو وړاندیزونه منلي او نه یې هم له مرګ او د غلـیم لـه زنـدانونو او تعذیبونو څخه ډار احساس کړی دی.

اسلامي امارت چې د اولس له متن څخـه را ټوکیـدلی او پـه بشـپړه توګـه یـو مـلي خوځښت دی، د خپل تأسیس له مهاله تر نن ورځـې پـورې د داسي مـدبرو، پـه دیـن او هیواد مینو مشرانو له خوا رهبري شوی چې خپل هر څـه (سر، مـال او اولاد) یـې قربـان کړي، خو دغه سپیڅلی صف یې د بنیان مرصوص په څیـر مسـتحکم، متحـد، یومـوټی اوټولو ارزښتونو او د دین او ملت لوړو ګټو ته متعهـد او ژمـن سـاتلی او ملـت یـې تـر خپل قیادي چترلاندې د اشغالګرو او د هغوی د ملاتړو پر ضد سره منسجم او پـه فـوق العاده جهادي روحیه سمبال کړی دی.

څنګه چې اسلامي امارت د عام اولس له مینځ څخه را ټوکیـدلی دی، نـو مشرـان یې هم په عام ملت کې له خورا ډیر محبوبیت څخـه بـرخمن دي او پـه صـف کـې دننـه خو یې د اوامرو داسي اطاعت او ا تباع کیـږي چـې دوسـت او دښـمن، نـژدې او لیـري ټول پرې معترف دي.

اسلامي امارت په تیرو اتلسو کالو کـې خـورا سـتونزمن او مختلـف پړاوونـه طـی کړي، خو مشرانو یې هر یوه په خپله دوره کـې داسي کـردار اداء کـړی، چـې امریکـا او

ائتلافیان يې په خپلو شومو عزائمو پښیمانه او دې ته متوجه کـړي چـې پـه گـران هیـواد افغانستان یرغل کول يې د ناسمې او غیرعملي محاسبې په اساس و.

د اسلامي امارت د مشرانو قاطع او نه بدلیدونکی موقف، تدبر، سـیاسي بصـیرت او په الله تعالی پوخ باور و چې بالاخره يې د الله تعـالی پـه نصرـت او د افغـان مجاهـد اولس د کلک حمایت په مرسته امریکا (سپینه مانۍ) د زور او غرور لـه تټـو را کـوزه او دې ته مجبوره کـړه، چـې د افغانـانو دخپلـواکۍ او عظمـت سـمبول (سـپین بیـرغ) تـه گونډه ماته کړي او د تفاهم لاره ونیسي.

اسلامي امارت د قربانیو او سرښندنو کور دی، د دې ملي خوځښت هـر مشرـ او کشر شهادت، حبس، زخم، هجرت او هر راز تکالیفو ته د روانې مبـارزې پـه هـر پـړاو کې په ورین تندي غاړه ایښې ده.

د دې ملي - جهادي خوځښت لسگونه تنـه د مشرـتابه پـه کچـه مشرـان، وزیـران، والیان او نور لوړ رتبه مسئولین شهیدان شوي، زخمیان شـوي، بنـدیان شـوي او د اللـه تعالی په لاره کې يې سخت تعذیبونه او تکالیف گاللې دي.

له کورنۍ، اولادونو او دوستانو څخه لرې په جـدایي او مسـافرۍ کـې د اسـلامي امارت د مؤسس مرحوم ملاصاحب رحلت، د شـهید امیـر المـؤمنین منصـور صـاحب شهادت، د اسلامي امارت د د فاع وزیر او د مرحوم ملاصاحب نائب الحـاج مـلا عبیـد الله اخوند، ملا داداللـه رهـبر، مولـوي اخترمحمـد عـثماني، د دو جهـادونو د نوښـتگر لارښود الحاج مولوي جـلال الـدین حقـاني صـاحب د څلـورو زامنـو او د کـورنۍ پـه کچـه د لسـگونو غړیـو قربـاني، د ډاکـتر عبدالواسـع عـزام، حـافظ بدرالـدین حقـاني، اسـتادمحمدیاسر، الحـاج مـلا عبـدالمنان اخونـد، مـلا عبدالسـلام بریـالي ویـاړمن شهادتونه، د استشهاد له قـافلې سره د اسـلامي امـارت د اوسـني زعـیم شـیخ صـاحب حفظه اللـه د زوی حـافظ خالدعبـدالرحمان تقبلـه اللـه یوځـای کیـدل اود ډیـرو نـورو

مشرانو رحمهم الله تعالی علیهم اجمعین شهادتونه او قربانۍ د دې شاهدي ورکـوي، چې د اسلامي امارت قیادت همدا سپیڅلی کاروان په خپلو وینوباندې پاللی، روزلـی، منسجم کړی اویوموټی ساتلی دی اونامرده غلیم تر اوسه د دې مجال نـه دی مونـدلی چې د خپل میل مطابق تفرقه په کې ایجاد کړي.

داسلامي امارت د ګڼو نورو مشرانو له لوري وحشيـ زندانونـه تیـرول، زخمونـه، هجرتونه، مسافرۍ او ستړیاوې ګالل د دې کاروان د مشرتابه د بـې دریغـه قربـانیو یـوه بله نمونه او مثال دی.

په ۲۰۰۱ م کال کې د اسلامي امارت د مؤسس مرحوم امیرالمـؤمنین لـه لـوري د معاصرو فراعنه وو (بش، ټوني بلیر او نورو بدمعاشـانو) مغرورانـه او نـاروا تقاضـاوې ردیدل، له لنډمهاله شاتګ څخه وروسته بیرته جهادي لیکې او صفوف منظم کـول او د جهادي محاذونو د استحکام او په اسلامي امارت کې د ممکنه انشعاب او فروپاشـۍ د مخنیوي په منظور د ژوند تر پایه له کورنۍ او اولادونـو څخـه جـلا او لـرې اوسـیدل او دې ته ورته لسګونه نورې کارنامې اوقربانۍ هغه څه دي چـې د دې صـف د مشرتابه د متانـت، قـوي هـوډ او پـه لایـزال رب بانـدې د هغـه د پـوخ بـاور او راسـخې عقیـدې څرګندویي کوي.

دا یادونه هم ضروري ګڼم چې مرحوم امیر المؤمنین د اسلامي امـارت د مؤسـس او رهبرپه توګه پـوره ۱۲ کالـه دګـران هیـواد لـه سـپیرو او ختیـنو جـونګړو دیرغلګـرې کفرۍ نړۍ په مقابل کې د یوه جهادي مقاومت حیرانوونکی قیادت وکړ.

همدارنګه شـهیدامیر المـومنین مـلا اخـتر محمـد منصـور تقبلـه الله د اسـلامی امارت د نیابت په مهال په ټولو قضایاوو او امـورو کـې د یـوه قـوي او ریښـتني امـین او حفـیظ پـه توګـه د اسـلامي امـارت ټـولې چـارې پـه خـورا لـوړ درایـت، احتیـاط او سنجیدګۍ سره سمبال کړې.

هغه د اسلامي امارت د نیابت او بیا د قیادت په مهال داسي شاهکارونه ثبت کـړل چې په تاریخ کې به یې بیلګې ډیرې کمې وي.

منصورصـاحب تقبلـه اللـه بـالاخره د اللـه تعـالی د دیـن او د اسـلامي امـارت د جهادي او سپیڅلي صف د دفاع په لاره کې خپل سـپیڅلی روح خپـل رب تـه پـه داسي حال کې وسپاره چې مبارک وجود یې د امریکایي بـارودو پـه لمبـوکې پـه بشـپړه توګـه کباب او وریت شوی و.

د شهید منصور صاحب سیاسي بصیرت، حسن تدبیر، لوړ ابتکـار، تـدبر، نهـایي زیات اخلاص او د اسلامي امارت ګټو ته کلک تعهد و چې په ډیرو کمـو امکانـاتو یـې له سیمې او نړۍ سره سیاسي او دیپلوماتیک روابط ایجاد کړل، پـه قطـر هیـواد کـې یـې سیاسي دفتر پرانیست، له ګوانتانـامو زنـدان څخـه یـې ۵ تنـه مهـم مشرـان ملګـري آزاد کړل، د داعش په نوم دمسلمان وژنې ایجاد شوې پروژه یې تر ډیره پـه نطفـه کـې شـنډه کړه، د هیواد په شمال کې یې د کندز ولایت ته سقوط ورکړاو داسي نور.

د منصور صاحب تقبله الله تر غمجن شـهادت وروسـته شـیخ الحـدیث مولـوي هبة الله اخوندزاده صاحب حفظه اللـه چـې یـو متبحـر او برجسـته عـالم دی، د شـهید منصور صاحب په ژوند کـې د هغـه مرسـتیال او د اسـلامي امـارت پـه مهـال د مرحـوم ملاصاحب له معتمدو او باوري ملګرو څخه و، د اهل حل و العقد شـوری لـه لـوري د اسلامي امارت د نوي زعیم په توګه وټاکل شو.

شیخ صاحب حفظه اللـه د یـو متـدین، فـوق العـاده مشـفق، متواضـع، اصـولو او ضوابطو ته متعهد او قاطع شخصیت په درلودلو سره د مرحوم امیـر المـؤمنین او شـهید امیرالمؤمنین تګلاره په ډیر ښه ډول تعقیب او عملي کړه، په جهادي صـفوفو کـې یـې د نظم ونسق په هدف په یوه فرمان سره د ۲۲ ولایتونو والیان برطرفـه او پـر ځـای یـې نـور والیــان وټاکــل، د تعلــیم وتربیــې، صــحت، زراعــت، ملکــي تلفــاتود مخنیــوي، د شکایاتواوریدلو او نورو کمیسیونونو په مرسته یې د عام اولـس لـه پـاره لـه خپـل تـوان

مطابق خورا په زړه پورې خدمات عرضه کړل، په جنګ کې له نيـول شـويو بنـديانو سره يې له ترحم او شفقت څخه ډک چلند د فوق العاده تحمل، تدبر، سياسي بصـيرت اولـه هيواد او هيوادوالوسره د واقعي همدردۍ ښکارندويي کوي.

شيخ صاحب حفظه الله د جهادي سنګرونو په ګرم ساتلو کې تر دې حـده جـدي او قاطع دی، چې آن خپل د زړه ټوټه او زلمی زوی حافظ خالد عبدالرحمان تقبلـه الله يې د استشهاد په قافله کې شامل او د الله تعالی د دين په لار کـې قربـاني کـړ، د فـراه او غـزني ولايتونـو فتحـه کيـدل، د لښـکرګاه او تـرين کـوټ محـاصره کـول، د لسـګونو ولسواليو نيول، د شوراب په شمول د اشـغالګرو پـه مهمـو او حساسـو ځـالو ځيـونکي بريدونه تـرسره کـول، لـه کابـل اداري څخـه د زرګونـو عسـکرو، پوليسـو، اسـتخباراتي کارمندانو او اربکيـانو رابيلـول دا ټـول د شـيخ صـاحب حفظـه اللـه لـه لـوري د روانـو جرياناتو دښه مدريت، په اولس باندې د پراخ شفقت، په هيواد کـې د نظـامي وضـعيت په منظمه توګه د کنترولوثمره او نتيجه وه.

شيخ صا حب د خپل ژور فراست، د اسلامي شريعت له نظره له محـاربو کفـارو سره د تعامل او د اسلام د مبين ديـن پـه ارشـاداتو د بشـپړ پوهـاوي درلودلـو لـه کبلـه د سنګر تر څنګ د دفتر او سياست په عرصو کـې هـم پـه غلـيم برلاسـی دی، نومـوړي د قوي، او باتجربه مذاکراتي ټيم په ټـاکلو سره داشـغالګرې امريکـا سـياسي مرکچيـان پـه خپل تاريخ کې په لومړي ځل ١٦ ورځې د خـبرو پـه ميـز ايسـار او د قـوي اسـتدلال او منطق په وړاندې کولو سره ګنګس کړل او داخلي ګوډاګيان خويې دومـره پـه انـزوا کـې واچول چې هيچايې هم تصور نشو کولای.

خلاصه داچې د پورته ذکر شويو مواردو په نظر کـې نيولـو سره د اسـلامي امـارت مشرتابه د علم، تجربې، قاطعيت، شجاعت، استقامت، خواخـوږي، لـه تظـاهر او ريـا څخه دنفرت، صبر او په ټوله کې ديني ارزښـتونو او مـلي منـافعو تـه دژمنتيـا مجموعـه بللای شو.

اسلامي امارت يوه اړتيا او ارزښت

ليکنه: نور احمد سعيد

دا خو ته ولوله چې سترګو کې دي
نــورې خـبرې مې پـر زړه پاته دي
"حمزه بابا"

ځيني ورونه داسلامي امارت دوجود او بقا ارزښت او ګټو ته ډېر متوجه نـه دي. دوی فکر کوي چې ديرغل او فساد پر ضد جهاديوه وجيبه ده، خـو دا مهمـه نـه ده چـې زموږ دمبارزې چوکاټ او صف دې خامخا اسلامي امارت وي. دوی وايې موږ جهـاد او مبارزه کوو، که په اجتماعي ډول ونشو په انفرادي او ګروپي شـکل هـم خپلـه وجيبـه ترسره کوو!!

که فکر وکړو او تاريخ ته مراجعه وکـړو، ډېـره روښـانه او ثابتـه ده چـې هـيڅ يـوه مبارزه په انفرادي او ګروپي شکل او دمتعددو ډلو په صورت کې خپلو اهدافو تـه نـه ده رسېدلې. په ځانګړې توګه هغه مبـارزه چـې نظـامي بعـد هـم ولـري، يعنـي وسـله وال جهادي مهم اړخ وي. ځکه په جهاد کې وضعيت په ډراماتيک شکل کله مثبـت او کلـه منفي اړخ ته تغير کوي، نو په دغسي حالاتو کې که مبارز پـه ټولنـه او جماعـت کـې نـه وي، (يوازي او خودسره وي)، نه يـوازي داچـې لـه دې حالـت څخـه ګټـه نشيـ پورتـه کولای، بلکې ترلاسه کړې ګټه به يې هم په مفته له لاسه ووځي.

دګروپي او خپلسري فعالیت برعکس دتحریک او نظام دکارونو د موثریت یوښـه مثال اسلامي امارت دی، اسلامي امارت ټول کارونه له صـفر څخـه شروع کـړل، هیـواد کې دننه داسي منابع او مدارک نه وو چې اسلامي امارت هـم جنګـي اړتیـاوې پـه پـوره کړي او هم دنظام ملکي برخه پرې چلوي او پر دې سربیـره پـر افغانسـتان اقتصـادي او سیاسي یو طرفه بندیزونـه هـم وو، خـو ددې ټولـو سـتونزو سره سره اسـلامي امـارت د هیواد او ولس لپاره ډیرې مادي او معنوي لاسته راوړنې لري.

دساري په ډول اسلامي امارت هیواد له تجزیې وژغوره، انارشي یـې محـوه کـړه، امنیت او عدالت یې تامین کړ، شرعي نظـام یـې حـاکم کـړ، زمـوږ دعـزت، سر او مـال ساتنه یې وکړه او دیرغل پر ض یې جهاد پیل او تردې حالته راورساوه.

دا ولې؟

ځکه ددې لاسته راوړنو تر ټولو لویه وجه داسلامي امارت په نوم نظـام او سیسـتم دی!.

که موږ داسلامي امارت په نوم نظام او سیسـتم نـه درلـودلی، نـه بـه مـو لـه ګـران هیواد څخه دشر او فساد کمبله ټوله کړې وای او نه به مو هم دیرغل پر ضـد مبـارزه پیـل او تر دې حالته رارسولې وای. دا د نظام برکت دی چـې زمـوږ مبـارزه یـې لـه افـراط او تفریطه ساتلې ده. نظام زموږ مبارزې ته جامعیـت او قـوت ورکـړی او داهـم دنظـام لـه امله ده چې دښمن مو په نظامي ډګر کې پرګونډو کړ او د ستونزې سیاسي حل تـه تیـار شو.

دنظام نشتوالی د ګډوډۍ دوهم نوم دی او فقهې مسئله ده چـې ترګـډوډۍ دظـالم پاچا حکمراني هم غوره ده. انسان مدني الطبع دی، یعنـی انسـان اړ دی چـې پـه ټولنـه کې جذب شي، ټولنه نظم ته ضرورت لري او نظم دنظام له لوري عملي کیږي.

خلاصه داچې کـه دصـليبي يرغـل پـه وړانـدې داسـلامي امـارت پـه نـوم سيسـتم اونظام نه واى، افغانستان به دامريکا مستعمره واى او که فرضا له اسلامي امـارت پرتـه د يرغل پر ضد جهادپيل شوى واى، نو ببله شکه چـې همـدا او سـنى نظـامي او سـياسي سوبې به لس سلنه هم نه واى. د بې نظامه او متعددو ډلو دمبارزې معکوسه نتيجـه مـو سوريه، عراق او ليبيا کې مخته پرته ده، څومره لوى او مهم چانسونه او فرصتونه يـې پـه اسانه له لاسه ورکړل!.

نو بناء زموږ وجيبه ده چې اسلامي امارت وساتو او دلا قـوت او اسـتحکام لپـاره يې هر اړخيزه مبارزه او هلې ځلې وکړو.

اسلامي امارت موږ ته د مبارزې واحد او موثر صف جوړ کړ

سعيد الرحمن مظهري

ليکوال او ديني عالم

د شوروي تر اشغال وروسته افغانستان لـه يـوه سـخت پـړاو څخـه تېرېـدو، ټـول هيواد د ګډوډۍ او بـې امنيتـۍ پـه ګـرداب کـې راګېـر و، انارشـيزم، پاټـک سـالارۍ او ټوپک سالارۍ ټول هيواد په سر اخيستی و، د جهاد عليـا اهـداف د ځـان ځـانۍ او زور ازمايۍ په توپان کې له منځه تللي وو او د خلکو سر، مال او ناموس خونـدي نـه وو، دا ټولې ناخوالې په داسې حال کې وې چې له دې هرج او مرج څخـه د خلاصـون لپـاره د افغانانو مخ هيڅ لورې ته نه اوښت چې په دې وخـت کـې د شر او فسـاد پـر وړانـدې د طالبانو اسلامي تحريک پيل شو.

هغه مهال دې اسلامي خوځښت د يوه متحد ځواک پـه توګـه لـه هيـواده د تفرقـو، خپل منځي جګړو او فساد لمن ټوله کړه او هغه د شوروي ضد جهاد موخو ته يـې چـې د اسلامي نظام قائمېدل، استقلال، ارضي تماميت، امن او سوکالي وه، تحقـق ورکـړ او دا په داسې حال کې چې د تنظيمي جګړو او اختلافونو لـه املـه ددې اهـدافو د ترلاسـه کېدلو هيلې بيخي له منځه تللې وې.

لکه څنګه چې اسلامي امارت د شر او فساد پر وړاندې متحـد و، همداسـې يـې د امريکايي اشغال پر وړاندې هم د مبارزې واحـد صـف تنظـيم او جـوړ کـړ، تـر اشـغال وروسته د جهادي مبارزې په لومړيو کې د ليکو تنظـيم يـوه خـورا سـتونزمنه چـاره وه، خو د اسلامي امارت مشرانو چې په دې ستره مبارزه کـې د يـووالې اهميـت درک کـړی وو، يو ځل بيا يې مجاهدين تر يوه بيرغ لاندې راټـول کـړل، ځکـه کلـه چـې دجهـاد او مبارزې صف له مختلفو تنظيمونو جـوړ وي، نـو ډيـر احـتمال شـته چـې پـر دښـمن د تمرکز پر ځای په خپلو منځو کې په جګړو او اختلافـاتو واوړي، چـې همـدا چـاره يـا د مبارزې د ناکامۍ سبب ګرځي او يا يې هم د تضعيف او خپلـو موخـو تـه د نـه رسـېدو ستر لامل.

د شوروي اشغال پر مهال جهادي تنظيمونو تقريبـا نيمايـي قـوت پـه خپلمنځـي جګړو او سياليو کې ضائع کړ، هغوی که څه هم شـوروي تـه شکسـت ورکـړ، خـو پـه دې ونه توانېدل چې د جهاد ځينـو مهمـو اهـدافو تـه ورسـيږي چـې هغـه د يـوه سـالم اسلامي نظام قائمېدل، د شريعت نفاذ، امن، سوکالي، اقتصـادي پرمختـګ او د پـوځي قوت جوړېدل و، بلکې د هغـوی تفرقـې د جهـادي موخـو معکوسـه پايلـه ورکـړه، پـه خپلمنځي جګړو سره يـې د شريعـت د نافذېـدو مخـه ونيولـه، د مسـلمانانو بـې درېغـه وينې يې وبهولې، شر او فساد يې خپور کړ، آن په خپل منځي دښـمنيو کـې دومـره ژور ولاړل چې ځينو يې کمونيستان له ځانونو سره ملګري کړل، ځينو يې بېرتـه روسـيې تـه د مرستې لاس ور وغځاوه او ځينو يې له امريکا د پوځي مداخلې غوښتنه وکړه.

که له افغانستانه بهر سوريې ته وکتل شي، هلته پـه ۲۰۱۱ کـال کـې د بشارالاسـد د نظام پر وړاندې خورا ستر پاڅون پيل شو، خو پاڅون تر يوه واحد چتر لانـدې نـه و، بلکې انقلابيان په شـاوخوا ۱۰۰ وړو او سـترو ډلـو ويشـلي وو، هغـوی کـه څـه هـم د خپل کثرت له امله په لومړيو کې پرمختګونـه لـرل، خـو وروسـته خپلمنځـي جګـړو او

سياليو دومره ضعيف کړل چې خپله يقيني بريا يې په ناکـامۍ بدلـه شـوه، ټـولې نيـول شوې سيمې يې له لاسه ووتلې او اوس مهال يوازې پـه ادلـب او ځينـو نـورو محـدودو سيمو کې راګېر دي.

ليبيا کې که څه هم د ناټو په مرسته پاڅون بريالی شو، خـو پـه ۲۰۱۱ کـال کـې د معمر القذافي تر پرځولو وروسـته دا هيـواد د ډلـو او تنظيمونـو تعـدد لـه يـوه ناڅرګنـد برخليک سره مخ کړی دی، پـه ختـيځ او شـمال کـې د دوو بېلـو حکومتونـو تـر څنـګ لسګونه ډلې فعالې دي چې د هغوی ترمنځ ژورو اختلافاتو او خپلمنځي جګړو پـه دې هيواد کې ګډوډي او وېش رامنځ ته کړی او بهرنيو مداخلو ته يې لاره پرانيستې ده.

ليبيا کې له همدې هرج او مرج څخـه پـه اسـتفاده د امريکـا، روسـيې، فرانسـې او څـو اروپـايي هيوادونـو پوځيـان او اسـتخباراتي ډلـې هلتـه فعاليـت کـوي، د ليبيـا متخاصمې ډلې د خپلې برترۍ لپاره له اشغالګرو مرسـتې ترلاسـه کـوي او هغـوی هـم دغه ډلې د يوه او بل پر ضد حمايه کوي، خو مرستې يې هم په دې اندازه وي چې يـوه ډله هم بشپړې واکمنۍ ته نه شي پرې رسېدلی، بلکې يـوازې او يـوازې د جګـړو بـازار پرې ګرم دی.

اسلامي امـارت پـه يـووالې سره خپـل اسـتقلال سـاتلی دی، پـه ټولـو پرېکـړو او تصاميمو کې خپلواک دی او له هيوادونو سره يې اړيکـې او چلنـد د يـوه مسـتقل نظـام په ډول دي، د شوروي ضـد جهـاد پـر مهـال د تنظيمونـو تعـدد نړيوالـو او سـيمه ييـزو استخباراتو ته لاره پرانيستې وه چـې ځينـې تنظيمونـه او قومنـدانان پـه خپـل لاس کـې واخلي او بيا يې د خپلو ګټو لپاره وکاروي، په دې ډول هرې ډلې د خپلـې برتـرۍ لپـاره له بهرنيو استخباراتي ادارو سره اړيکې پاللې او د مرستې په مقابل کـې يـې د هغـوی د اهدافو لپاره نيابتي جګړې ترسره کولې، په استخباراتي چالونو کـې پـه کېوتلـو سره دې

ډلو خپل استقلال له لاسه ورکړ، همداراز لـه خپلـې تګـلارې واوښـتلې او هـم د هيـواد ملي منافعو ته ژمنې پاته نه شوې.

اسلامي امارت په خپل وحدت سره د ولس يووالی خونـدي کـړی، د هـرې ژبـې، هر قوم، هر نژاد او هر سمت وګړو ته يې په خپله غېږه کې ځای ورکـړی او هغـوی ټـول يې د جهاد په يوه واحد صـف کـې راټـول کـړي چـې پـه دې ډول همـدا ولسيـ وحـدت بېرته د جهاد په بريا کې اغېزناک تمام شوی دی.

د اسـلامي امـارت يـووالی د اللـه تعـالی سـتر نعمـت دی، ځکـه د ګڼـو فتنـو او ناخوالو مخه يې نيولې او په روان جهاد کې چې له مجاهـدينو سره هـيڅ بهرنـۍ مرسـته نه کيږي، همدا د صف يووالی د بريـا مهـم او سـتر لامـل دی، دښـمن هـم همـدا نقطـه درک کړې او د اسلامي امارت د ټوټه کېدلو او له منځه وړلـو هـر اړخيـز کوښښـونه يـې کړي، په ۲۰۱۵ کال کې په افغانسـتان کـې دداعـش رامـنځ تـه کـول، او پـراخ تبليغـات ورته کول، هم د همدې کوښښونو يـوه برخـه وه، دښـمن پـه دې سره غوښـتل چـې تـر سپين بيرغ لاندې جهادي صف سره وويشي او په دې ډول افغان جهاد لـه ناکـامۍ سره مخ او يا هم کمزوری کړي، همـداراز د اميرالمـومنين مـلا محمـد عمـر مجاهـد رحمـه الله د وفات او دشهيد اميرالمؤمنين منصـور صـاحب د ټاکليـدوتر اعـلان وروسـته هـم دښمن په اسلامي امارت کې د درز اچولو هڅې ګړندۍ کـړې، خـو اسـلامي امـارت د دښمن دا ټولې هڅې شنډې کړې او په بشپړه توګه يې د صف وحدت و ساتلی شو.

د اسلامي امارت وحـدت لکـه څنګـه چـې پـه نظـامي ډګـر کـې د بريـا راز بلـل کيږي، همداسې په سياسي ډګر کې هم خورا اهميت لري، د اسلامي امـارت لـه لـورې له هيوادونو سره اړيکې له يوه ادرسه نيول کيږي او همدا راز اسلامي امارت د ولـس پـه نمائندګۍ له امريکا سره په مذاکراتو کې له يوه موقفه او يوه دريځـه برخـه اخـلي، همـدا لامل دی چې اسلامي امارت نه د مـذاکراتي ټـيم پـه ټـاکلو او نـه هـم د موضـوعاتو پـه

مشخص کولو کې ستونزه لري، بلکې اسلامي امارت په خپل واحد دریځ سره کـولای شي چې په مذاکراتو کې د هیواد ملي منافع حفظ کـړي، د جهـاد علیـا ګټـې وسـاتي او له یوه واحد او قوي دریځه مذاکرات پر مخ بوځي.

د اسلامي امارت وحدت لکه څنګه چـې اوس د اشـغال پـر وړانـدې مبـارزه کـې موثر دی، همداسې تر اشغال وروسته د یوه روښانه راتلونکي هیلې راټوکـوي، ځکـه د اسلامي امارت تر څنګ کومه بله جهادي ډلـه نشـته چـې بیـا دواک پـر سر لـه اسـلامي امارت سره په جګړو کېوځي چې بیا په هیواد کـې ګـډوډیو تـه لاره پرانیسـتل شي، لکـه تر شوروي ضد جهاد وروسته چې هر جهادي تنظیم واک خپل حـق ګانـه او د همـدې لپاره یې له یوه او بل سره جګړې کولې، بلکې او س مهال ولس دې ته خـوش بـین دی چې تر اشغال وروسته به کورنۍ جګړې نه رامنځ ته کیږي او نه به بیـا هغـه د انارشـیزم او پاټک سالارۍ دوره راځي.

اسلامي امارت زموږ د اسلافو تاریخ راژوندی کړ

قاري سعید خوستی

لیکوال، مناظر او ټولنیز فعال

د عثماني خلافت له ړنګیدو وروسته لویدیځې نړۍ زموږ جغرافیـوي، فزیکـي او معنوي اشغال ته ملا وتړله او متاسفانه لویدیځوال پـه خپـل تصـمیم کـې بریـالي شـول. موږ ډیره موده ددوی تر فزیکي اشغال لاندې وو، خو کله چې ددښمن فزیکـي اشـغال پای ته ورسید، بیا هم ازاد نـه شـولو، ځکـه پـه سـیاسي، فکـري تعلیمـي، اقتصـادي او فرهنګي لحاظ بیا هم ددښمن یرغل جاري و.

نړیوالـو صـلیبي او صهیونیسـتي ځواکونـو زمـوږ فکـري، عقیـدوي او سـیاسي جوړښتونه ونړول، د مسلمان نسل په انحراف یې بې حسابه پانګونـه وکـړه، پایلـه یـې دا شوه چې مسلمان تش په نوم مسلمان پاتې شو، د اسلام لـه عقیـدوي او تعبـدي ژونـده بې خبر پاتـه شـو، اسـلامي سیاسـت انتهـاء پسـندي ورتـه ښـکاره شـو او د اسـلام لـه معاملاتي، اخلاقي او اجتماعي ژوندانه څخه ناخبره و روزل شو.

د اسلام اجتماعي، سیاسي، معاملاتي او..... احکام یـوازې تـر کتـابونو محـدود پاتې شول که به دې له چا سره د اسلام د احکامو یا د هغه د نفـاذ او عمـلي کیـدو پـه اړه بحث شو، لنډ به یې سوال وکړ، داکوم نظام او احکام چې ته یادوې، پـه ټولـه دنیـا کـې یې عملي نمونه راوښیه، خو موږ به بیا د دې سوال په وړانـدې بـې ځوابـه وو. دا ولـې؟ ځکه نړیوال کفـر زمـوږ لـه مسـلمان نسـل څخـه داسـلام اجتمـاعي او سـیاسي تصـور ایستلی ؤ، اوکله به مو چې د خپلـو اسـلافو د ایـمان، تقـوا، ایثـار، فـداکارۍ، عـدالت،

لوړو اخلاقو اوترحم کيسې کولې بيا به هم دغـه روزل شـويو ځوانـانو ويـل تاسـې يـې موږ ته په دا څرخيدونکې نړۍ کې يوه ژوندۍ بيلگه وړاندې کړئ.

خو د خړې حجرې خړ پړ طالب چې د معاصرو ديپلوماتيکي نزاکتونـو يـې ډيـره پرواه نه لرله په خپل عمل، درايت او قربانۍ سره داسلامي امارت په شکل کـې دنيـاوالو ته د اسلامي نظام، د امام د عدل، تقوا، ايثار، عدالت اواسلام ته د کلکې ژمنتيـا ژونـدۍ او عملي نمونې وړاندې کړې.

اسلامي امارت چې تهداب يې د اسلام يـو سـتر غـازي اميرالمـومنين مـلا محمـد عمر مجاهد رحمه الله ايښی دی، دنيـا تـه ثابتـه کـړه چـې د اسـلامي نظـام او اسـلامي عدالت مفاهيم يوازې د کتابونو تر پاڼومحدود نه دي، بلکې مسلمانان يې په عمـل کـې د پلي کولو وړتيا لري. د اسلامي امارت واليانو، وزيرانو او نورو لوړ پـوړو چـارواکو د نورې نړۍ د مشرانو بر عکس له عامو مسـلمانانو سره پـه لمونځونـو او نـورو دينـي او ملي مراسمو کې پرته له کوم محدوديته گډون کاوه، يو عادي کس تـه هـم گرانـه نـه وه، چې داسلامي امارت له والي، وزير او حتی اميرالمومنين سره ووينې.

موږ د صحابه کرامو او اسلافو د فداکاريو او بـې شـميره قربـانيو کيسـې لوسـتلې وې، د حضرت خنساء رضی الله عنها کيسه مو اوريدلې وه، خو د سر پـه سـترگو مـو د هغې بيلگه نه وه ليدلې، اما د صليبي اشغالگرو په وړاندې د اسلامي امـارت پـه مشرـي جهاد کې مو په خپلو سترگو وليدل چې يوه افغانه مور خپل ټول اولادونه د اللـه لـه ديـن څخه قربانوي او فخر پرې کوي، ومو ليـدل چـې شـهيد اميرالمـؤمنين پـر همـدې ديـن باندې ځان کباب- کباب کړ، د اميرالمومنين حفظه الله زوي په خپل ځان پـورې بمونـه تړی او د دښمن په ځالگيو ننوځي او شاهدان يو چې د اسلامي امارت يـو زعـيم خپـل څلور اولادونه د خپل سپيڅلي هدف لپاره د الله په لار کې نذارانـه کـوي او پـاتې نـورو ته ټينگه توصيه کوي چې همدا لار تعقيب کړئ.

اسـلامي امـارت د اسـلافو د قربـانيو، سرښـندونو، عـدالت، وحـدت او اطاعـت تاريخ راژوندی کړ، دنيا ته يې څرګنده کړه چې شريعت، عدالت، اخوت او په ټوله کې اسلامي نظام خالي توري نه دي، بلکې همدا هغه عالي مفاهيم دي چې زموږ دفکر او عقيدې د بنسټ ډبرې دي او تر قيامت به يې د احياء او مضبوط ساتلو لپاره لکونه ځوانان سرونه نذارنه کوي.

ان شاء الله وهو العزيز

امارت اسلامی استقلال ما را اعاده کرد

داکتر حبیب الله هلال

نویسنده و تحلیلگر امور سیاسی

سالیان سال است که افغانستان در منجلاب تجاوز، اشغال، جنگ هـای داخلـی و آتش تیر و تفنگ می سوزد و مـدت مدیـدی اسـت کـه باشـندگان ایـن خطـه از فقـر، دربدری، نیازمندی، بحران و بی ثباتی رنج می برند. که این حوادث و وقـایع، بسـیاری اوقات تلخ و گاه شیرین صفحات تاریخ این سرزمین را بسیار سنگین و پرمحتـوا کـرده است، اگر اوراق تاریخ زرین این سرزمین را ورق بزنیم، خواهیم آموخت، هـر زمانیکـه افغانستان با انزوا، گسسـتگی، فروپاشـی و سـقوط مواجـه شـده اسـت، دسـت حکـام خائن و خادم بیگانه درکار بوده است و پس از آن ملت متـدین، سلحشـور، جنگجـو و بیدار علی الرغم اینکه در شرایط و حـالات متفـاوت بـه هـمان انـدازه کـه دسـت شـان خالی، جیب شان تهی و دسترخوان شان بی نان تر بوده است، به همان پیمانه بـا اتکـاء به زور بازو و ایـمان قـوی و توکـل بـر خـالق هسـتی، بـرای حراسـت از دیـن، خـاک، شرافت و حریت دست به قیام و مبارزه زده و با شمشیر و تفنگ دست داشتۀ خود لکـه های ننگین و داغ های سیاه آنها (حاکمان و مزدوران) را سترده و پالوده اند.

هر باریکه کدام امپراطوری، قدرت استعماری، متجـاوز شرقـی و اشـغالگرغربی به این کیان یورش آورده و این مرز و بـوم را اشـغال کـرده اسـت، همیشـه ایـن ملـت و مردم دین دوست، سلحشور، بیگانه ستیز و رزمنده بوده است که تحرک را بـر سـکون،

قیام را بر آرامش و حریت را بر بردگی تـرجیح داده و بـا سرسـپردن، فـداکاری و تقـدیم هر نوع قربانی دوباره عزت و افتخار را بـه کشـور و ملـت بازگردانـده انـد. امـا در ایـن میان دو وضعیت همیشه موجود بوده است که یکی به شکل متغیر دوبـاره از نـو بـروز کرده و دیگر به شکل ثابت باقی مانده است.

اگرچه متجاوزین و اشغالگرانی که یکبار شکست تلـخ و ننگـین خـود را در ایـن خاک تجربه کرده اند، با درس گیری از شکست خود برای همیشه توبه کـرده و دیگـران را نیز توصیه های نیک می دهند ولی بازهم کم نیستند قدرتمند تـرین هـای روی زمـین که خود را قدرت بلامنازع جهان امروزی مـی خواننـد و سـودای سـلطه و حکمروایـی بر این ملت و خاک را در سر دارند. امـا همـین نیرومنـدترین شـان نیـز بـرای تخیـیس، اخداء و خویگر کردن این ملـت بـه طـرز و روش متغیـر و دگرگونـه متوسـل شـده و از حیله ها و نیرنگ های نوین وگوناگون استفاده کرده اند. امـا مـزدوران فرومایـه و وطـن فروشان جاه طلب و بردگان زراندوز بـه هـمان شـکل ثابـت و تکـراری و بـا فراموشـی تاریخ پیشینیان هیچگاهی از خباثت، جهالت و پست فطرتی دست بر نداشـته و هربـار هر جاسوس، خـائن و مـزدور بیگانـه در هـمان قالـب و سـاختار پـیش، در اطاعـت و خدمت از دشمنان دین و وطن عملکرد و کردار شاه شجاع های پیشین را اختیـار کـرده و چند صباحی کمرهمت به پیش خدمتی آنان بسته است. اما علی الـرغم ایـن خـدمت خالصانه بـازهم هربـار هـمان حامیـان و بـاداران شـان پـس از اسـتفاده و خـتم اعتبـار کارشان آنها را مثل تفاله یی دور انداخته و برای همیشه رها کرده اند.

در این نوشته جات قصیر می خواهم اندکی دربـارۀ روزگـار و زمـان عطفـی کـه اگر برای جلوگیری اش به همان شـکل مناسـبی کـه اقـدام صـورت گرفـت، کـار نمـی شد، افغانستان همانند صده هژده شاید برای همیشـه نـام و نشـانش تنهـا در تـاریخ مـی ماند و دیگر افغانستان مستقل امروزی یا دیروزی نمی داشتیم.

از دور زمانی است که افغانستان در بحران به سر بـرده ونـا امنـی هـا روز بـه روز بیشتر می شود اما چرا وقتیکه ملت های دیگـر زنـدگی آرام و آسـوده یـی دارنـد، ملـت افغان نمی تواند به چنین آرامش و ثبات پایدار برسد. همـه انسـان هـا چـه حـاکم و چـه محکوم، چه امراء و چه رعیت همه بر یک سخن در گفتار متفق هستند کـه هـر انسـانی حـق زنـدگی آزاد و مسـتقل دارد و بـه همـین شـکل یـک ملـت کـه در یـک محـدوده جغرافیایی زندگی و بودباش دارد حق دارد که از زندگی آزاد، مستقل و عاری از دسـت اندازی و دخالت اجنبی و بیگانه برخوردار باشد. اما چرا با استقلال این ملـت اینگونـه تعامل می شود. و اصلا استقلال چیست که این قدر باید حائز اهمیت باشد.

استقلال کلمۀ یی است زیبا، دلچسب و مورد پسند خاص و عام. هـر انسـان چـه در زنـدگی شخصـی بـرای خـود و چـه در زنـدگی اجتماعـی بـرای دیگـران خواهـان استقلال است و هر ملتی اشتیاق دارد که کشوری مستقل و آزاد داشـته باشـد. امـا اگـر به واقعیت و از دیدگاه عمیق به استقلال و معنا و کاربردش نگریسته شود، بسیار مـورد بحث و تنازع واقع می شـود و کمـتر کسـی بـه عمـق ایـن مسـئله رفتـه و آنـرا از زوایۀ حقیقت بررسی کرده است. که مشافهه در این مورد مبحثی جداگانه تحت عنـوان تـازه را می طلبد.

استقلال کلمه یی است از باب استفعال که به معنای قلل، قلیل و کم کـردن بیـان شده است که غرض از آن کم کـردن وابسـتگی و محتـاجی بـه دیگـران اسـت. و بـراین اساس تعریف کلمۀ استقلال خـود ارادیـت، خودمختـار بـودن، آزادی داشـتن و بـدون مداخله کسی کار خود را اداره کردن اسـت کـه ایـن تعریـف بیشـتر در صـحنه سیاسـی کشورها و دولت ها برای اداره و کنترول همه امور خارجی و داخلی آن به حسـا ب مـی آید. بدینصورت که اگر کشوری توانایی آن را داشته باشد که تمام دسـتور کـار داخلـی و خارجی، طرح و تطبیق نقشه های کلان دولتی و کشور را بدون هـر نـوع وابسـتگی و

تاثیر کشورها، سازمان ها و قدرت های دیگر در همهٔ بخش هـای سیاسـی، اقتصـادی، اجتماعی، فرهنگی و دینی را مطابق اختیـار و حسـب ضرورت خـود اجرایـی کنـد، آن کشور یک کشور مستقل نامیده می شود.

استقلال بیشتر کشورهای جهـان بخـاطر موقعیـت و حالـت جغرافیـایی و منـابع زیرزمینی آن متغیر است. مثلا جاپان که کشوری در شرق دور اسـت و در میـان بحرهـا محاصره شده است، هیچگاهی استقلالش بـا خطـر مواجـه نشـده اسـت امـا بـالعکس افغانستان که در قلب آسیا و تقـاطع کشـورهای آسـیایی اسـت، همیشـه اسـتقلالش بـه چالش کشیده شده است. موقعیت جغرافیایی و منابع زیرزمینـی افغانسـتان بـرای ایـن سرزمین و ملت آن همیشه مشکل ساز و جـدال آفـرین بـوده اسـت. زیـرا افغانسـتان بـر چهارراهی وصل آسیا با اروپا و جنوب با شمال است که برای قـدرت هـای جهـانی و یکه تازان زمان همیشه مطلوب بوده است. در این میان دشـمنان ایـن سرزمـین همیشـه در فکر سلطه و حکمروایی بر این خاک و بوم بوده و از هر راهی کوشش کـرده انـد تـا بلکه بتوانند از ده ها درِ بسته یکی را باز نمایند. که این سیر تخریـب و تهـاجم در تمـام ادوار تاریخ این خطه ثبت گردیده است، از زمان اسکندر کبیر تا چنگیز، مغول، تیمـور و استعمار انگلیس و شوروی تا وضعیت جاری کنـونی همـه ثبـوت آشـکار از ارزش والای ایـن سرزمـین و شـجاعت و جنـگ آوری باشـندگان ایـن خطـه دارد کـه آخـرین واقعات آن دو دوره پسین تجـاوزات قـدرت هـای جهـانی مـی باشـد. دشـمنان دیـن و مادیات این خاک و دیار هر بار از هر راهی تلاش بـرای تحقـق اهـداف و کسـب منـافع از ایـن کشـور و ملـت نمـوده انـد. تـاریخ افغانسـتان همـهٔ حـوادث را در سـینه دارد و فرزندان راستین این سرزمین هر بار با آگاهی از تجارب تاریخی پـدران و نیاکـان خـود بـرای دفـاع و حفاظـت از دیـن و سرزمـین بـه کارکردهـا و عملکردهـای تـاریخی آنـان مراجعه کرده و شاهکارهایی بر افتخارات گذشته افزوده و تاریخ زرین ایـن سرزمـین را رنگین تر کرده اند و بالمقابل برای عـدم تکـرار واقعـات تلـخ و ننگـین و جلـوگیری از

اشتباهات تاریخی گذشته، دست به اقدامات به جـا و پـیش گیرانـه زده و بـا مبـادرت و پیش دستی از چنان واقعات ناگوار جلوگیری بعمل آورده اند.

افغانستان در گذشتهٔ نه چندان دور سرزمینـی پهنـاوری بـود کـه در ابتـدای صـده هژدهم حدود جغرافیایی آن بسیار فراخ تـر از امـروز بـود، امـا پـس از انحطـاط و زوال امپراطوری درانی ها افغانستان با یک بحران عدم اسـتقلال مقابـل شـد. کـه متعاقـب آن جنگ های داخلی و شورش هـای درونـی دوامـدار و پشـت سرهـم سـبب بـی ثبـاتی، ویرانی، ضـعف اقتصـادی، از دسـت دادن اسـتقلال و در نهایـت چنـد پارچـه شـدن و جـدایی تعـدادی از ولایـات از افغانسـتان پهنـاور شـد. دراوایـل صـده هـژدهم ولایـت خراسان از افغانستان جدا شد، و به همین منوال پس از آن به ترتیب قلعـه اتـک، ولایـت سـیند، ولایـت کشـمیر، ولایـت دیرغـازی خـان، ولایـت بلوچسـتان، ولایـت مـرو، و ولایات سوات، باجور و چترال و ولایت سیستان به همینطور منـاطق شـال، تـا کـوژک و کورم و لندی کوتل، ارنوی، وزیـری و چمـن و پنجـده از بدنـه افغانسـتان جـدا و بـه کشورهای همسایه ملحق شدند کـه ایـن الحـاق یـا بـه زور نیـرو از سـوی همسـایه هـا صورت گرفت و یا هم قدرت های استعماری در راس آن انگلـیس آن را بـه همسـایگان حواله کرد. که تنها عامـل ایـن جـدایی هـا و چنـدپارچگی افغانسـتان عـدم اسـتقلال و جنگ های داخلی بود.

آنچه در لابلای صده هژدهم برای ایـن قلمـرو افغـان زمـین رخ داد. بـار دیگـر در اواخر صدهٔ نوزدهم در حال تکرار شدن بود. که فرزنـدان حقیقـی و وقـت شـناس ایـن کیان آستین بالا زده و با توکل بر الله متعال و اطمینان از حمایت افغـان هـای متـدین و میهن پروران این وطن تاریخ را از ثبت تلخ ترین واقعه یـی دیگـر محفـوظ داشـتند. بـه راستی هم اگر چند دهه پیش فرزندان آگاه و دلیر این سرزمـین در حسـاس تـرین دور و خطرناکترین لحظات خـود را طبـق عملکـرد و برخـورد رهـبران تنظیمـی و قومنـدانان

پاتک سالار و جنگ سالار می نمودند و بر کرده های آنـان بـه حیـث حـاکمان و امـراء صحه گذاشته و خموشی اختیار می کردند، به محتوم کشـور افغانسـتان بـا قاطعیـت و تمامیت خود نیست و نابود شده و یا هم چند پارچه و تجزیه شده بود. امـا للـه الحمـد چنین نشد.

پــس از شکســت و خــروج قشــون سرخ شــوروی و نــابودی رژیــم تحمیلــی کمونیستی، افغانستان با واقعه دردناک و دلخراشی مواجه گردید. ملت افغان کـه بـار و مسئولیت جهاد چهارده ساله را به سرمنزل مقصود رسانده و مثمر ثمر می دانسـتند. بـا یک تراژدی بدتر مواجه شدند. پس از ایجاد حکومـت عبـوری و انتخـاب صـبغت اللـه مجددی به جای اینکه به مسائل پس از پایان جنگ و درگیری، برقراری امنیـت و ثبـات، بازسازی ویرانی ها، بهبود اقتصاد لرزان توجـه شـود و حکـومتی کـارا و سـالم ایجـاد شود. مسیر جاری جهاد از هدف اصـلی منحـرف گردیـد و در حالیکـه مـدت کمـتر از یکماه از زمان حکومت عبوری نگذشته بود، شعله های جنگ داخلی و خانمـان سـوز بلند شد. پس از صبغت الله مجددی و هنگامیکه برهان الدین ربانی زمـام حکومـت را بدست گرفت، عملا اوضاع به حدی بدتر و وخیم شد که آخرین امیدهای ملـت نیـز بـه یاس کامل تبدیل شد. کابل پایتخـت افغانسـتان عمـلاً بـه چنـد حکومـت مجـزا تبـدیل شد.

تفنـگ سـالاران، قومنـدانان و رهـبران گـروه هـای تنظیمـی هریـک در ولایـات و ساحات خود حکومت های محلی را بر حسب قاعده و قانون خود حاکم کـرده بودنـد و هریک در هر منطقه، شـهر و ولایـت حـاکم مطلـق بـود. در مـدت زمـان بسـیار کـم اوضاع داخلی کشور طوری بهم ریخته و آشفته شد که کسی فرصـت و مجـال پرسـش ناهنجاری ها را نداشت، جنایات، کشتارها، اختطـاف هـا، دزدی و غـارت هـا در روز روشن، بی عفتی، بـی عزتـی، ویرانـی، فقـر و دربـه دری در سـطحی بـالاتر از فکـر و

تصور بیداد می کرد. حالات در داخل کشور به حدی از هم پاشیده و بغـرنج شـده بـود که برای رفتن و رسیدن از یک ولایت بـه ولایـت دیگـر بایـد از هفـت خـان رسـتم مـی گذشتی و هزار دعا و درود و نذری باید پیش و پس از رسیدن نثار جانـت مـی کـردی. هرتفنگ بدست یک قومندان بود و آنچه می خواست می کرد، و این تنها ملـت مظلـوم بود که باید می سوخت و می ساخت و تحمل می کرد.

این تنها وضعیت پاشیده و بغرنج درونی و داخلی افغانستان نبود، بلکه در بیرون تنها نامی از افغانستان مانده بود، و دیگر هیچ. افغانستان نـه در داشـت، نـه دروازه، نـه حریم داشت و نه حیطه و محدودهٔ مشـخص. هـر کـس هـر وقـت مـی خواسـت از هـر دری داخل می شد و از هر دری خارج. آنهائیکه یک دهه برای حراست و دفـاع از دیـن و کیان این مرز و بوم قربانی های بی مثال تقدیم کـرده بودنـد، کـاملا فرامـوش شـده و فقط عده یی مزدور و مهین فروش اداره و کنترول بخش هایی از سرزمین را در اختیـار گرفته بودند. افغانستان به چنـد منطقـه و زون تقسـیم بنـدی شـده و هـر حصـه توسـط گروه و یا گروه های تحت قیمومت کشوری کنـترول و رهنمایـی مـی شـد. کشـورهای آمریکا، انگلیس، فرانسه، شـوروی، هنـد، پاکسـتان و ایـران هرکـدام بـا گـروه و تنظـیم مشخصی به شکل سری و آشکار روابط معنوی و همکاری مـادی داشـتند. افغانسـتان عملاٌ میـان آنهـا تقسـیم شـده بـود. شـدت جنـگ تنظیمـی و اسـتمرار و منافسـه هـای سیاسی و اقتصادی افغانستان را به یکی از ضعیف ترین کشورها در جهان تبدیل کـرده بود، چون ده سال جنگ و جهاد در مقابل قشون سرخ شوروی عمـلاً افغانسـتان را در عرصه سیاست و اقتصاد فلج کرده بود، بـا آغـاز جنگ هـای خانمـان سـوز داخلـی و تنظیمی این وضعیت به نهایت خود رسید. افغانستان به ویرانـه یـی تبـدیل شـده بـود و فقـر و گرسـنگی عمـومی بیـداد مـی کـرد. در جریـان جنـگ هـای شـبانه روزی و دوامدارشان هر کدامشان در پی گسترش ساحه نفوذ و تسلط خود بـر دیگـری بـود امـا

هیچ یک نمی توانست بر رقیب خود چیره شود، چون باداران شان چنین هـدف را فقـط برای اضمحلال این سرزمین ترسیم کرده بودند.

باداران خارجی می خواستند که این وطن تا حدی در شـعله هـای آتـش جنـگ و کشتار بسوزد که دیگر رمقی برای کسی باقی نماند و پـس از آن زمینـهٔ تحلیـل و هضـم آن آماده و آسان می شود. اما در این اثناء فرزندان حقیقی، آگاه و راستین ایـن سرزمـین حقیقت آیندهٔ وخیم و مهلک مملکت را درک کرده و بـرای نجـات و رهـایی آن آسـتین بالا زدند.

تحریک اسلامی طالبان برای محو شر و فساد و خـتم پاتـک سـالاری و نـابودی حکومت های محلی و منطقه یی از قندهار شروع و در جریـان چنـدین سـال توانسـت بـیش از نودفیصـد خـاک افغانسـتان را تحـت کنـترول و اداره خـود در آورده و یـک حکومت مقتدر مرکزی و یک کشور مستقل را پس از سـال هـای طـولانی پایـه گـذاری کند. جنگ، کشتار، غارت، چپاول، اختطاف، نـاامنی، شر و فسـاد از بـین رفتـه، محـو گردید و در عوض آرامش و امنیـت همـراه بـا ثبـات سیاسـی و اقتصـادی بـه مملکـت بازگشته و حیثیت، استقلال و آزادی ملت و کشور دوباره اعاده گردید.

تحریک اسلامی طالبان با هدف حصول سه اصل اساسی ایجـاد شـده و پیشرـفت کـرد کـه ایـن سـه اصـل اساسـی تطبیـق شریعـت، تـامین امنیـت سرتـاسری و تضـمین وحدت جغرافیایی و اعادهٔ استقلال افغانستان بود.

ملت افغانستان که سالیان سال از ستم شر و فساد، قتل عام و کشتار، بـی امنیتـی و ویرانی به ستوه آمده بودند و منتظر یک راه نجات برای رهایی وضـع موجـود بودنـد، به طالبان به عنوان رزمندگان آزادیبخش و فرشتگان نجاتگر می نگریسـتند و از آنهـا در هرجا به گرمی استقبال و حمایت می کردند. طالبان حکومت هـای ملـوک الطـوایفی و

حاکمان محلی را از بین برده و برای پایه گذاری حکومت داری سالم و کارآمـد آسـتین بالا زدند.

برای تطبیق شریعت مقدس عملا کار آغاز گردید و احیای دوبارۀ سیسـتم عـدلی و قضایی اسلامی به عنوان مهمترین اولیت غیر نظامی بـه سرعـت و در اسرع وقـت بـه میـان آمـد. از آنجائیکـه تـامین عـدالت یکـی از مهمـترین شاخصـه هـای حکومـت محسوب می شود، امارت اسلامی افغانستان به شکل بسـیار درسـت و مـوثر توانسـت در زودترین زمان ممکن شریعت را تطبیق و عدالت اجتماعـی را اجـرا کنـد و بـه یقـین می توان گفت که امارت اسلامی افغانسـتان اولـین حکـومتی بـود کـه توانسـت در هـر گوشه و کنار افغانستان تـامین عـدالت کنـد. پایـه گـذاری و ایجـاد یـک نظـام قضـایی معیاری و متمرکز، آنهم پس از سالیان متمادی جنگ و ویرانی، مسئولیت سنگینی بـود که به محتوم هیچ حکومتی به غیر از امارت اسلامی هیچگاهی موفق به انجـام آن نمـی شد.

اولیت دوم تامین امنیت فـردی، اجتماعـی و سرتـاسری بـود، امـارت اسـلامی بـا توجه به این مشکل که به شکل دیرینه و ریشه یـی در جریـان یـک دهـه بـی بنـد وبـاری جای گرفته بود، جان، مال و دارایی ملـت مصـئون و درامـان نبـود و مـردم و خصوصـا شهرنشیان خود را محفوظ احساس نمی کردند. تجار و طبقـه کسـبه کـار بخـاطر نبـود امنیت، باج گیری ها و چور و چپـاول از کسـب و کـار دلسرد شـده و عـده یـی کـه تـا آنوقت به تجارت مصروف بودند، رسیدن اموال تجارتی از مبدا تا مقصد بخـاطر پاتـک سالاری ها و زنجیرهای متعدد که بـزور از مـوتر و امـوال پـول مـی گرفتنـد، بـه قیمـت گزاف برایشان تمام میشد که گرانـی کمرشـکن و سرتـاسری را بـر ملـت تحمیـل کـرده بود، بنیۀ اقتصادی کشور ورشکست شده و فقر و بیکاری به اوج رسیده بود. در چنـین شرایط بد، امارت اسلامی اوضاع نابسامان کشور را بدست گرفت. برای رونـق دوبـاره

ماشین اقتصاد کشور، در مرحله اول سـهولیات بـرای واردات و ترانزیـت مهیـا گردیـد، در بخش مـدیریت و شـفافیت گمرکـات کشـور قامهـای مـوثر و جـدی برداشـته شـد. امنیت شهرها و شاهراه ها تـامین گردیـد و دزدان، غـارتگران و آدم هـای جـانی و قاتـل دستگیر و به محاکم عدلی سپرده شدند. ثبات و امنیت بـی مثـال در کشـور حکمفرمـا گردید. عزت، آبرو و حیثیت هر فرد جامعه و ملـت محفـوظ شـد. ملـت افغـان پـس از چهارده سال بـار دیگـر نفـس آرامـش کشـید و زنـدگی بـه شـکل عـادی و نورمـال در شهرها، ولایات و کشور شروع شد. کاروبار ها رونـق گرفتـه و بازسـازی هـای خانـه، حویلی، مسجد، مدرسه، باغ و باغچه به شکل فردی و گروهی آغاز گردید. هـرکس بـه زندگی فردا و آینده امیدوار گردید و تلاش برای فردایی بهتر شروع شد.

اولیت سوم که مهمترین مسئلهٔ بقای یک کشور و ضامن ترقـی، پیشرفت و آینـدهٔ سرزمـین میباشـد، نیـز بدسـت آمـده بـود. افغانسـتان پـس از سـالیان مـتمادی دوبـاره استقلال، آزادی و حیثیت جهانی خود را بدست آورد. سیسـتم حکومتـداری احیـاء و بازسازی شد، وزارتخانه هـا و ادارات حکـومتی فعـال و شروع بـه کـار کردنـد. بطـور مثـال مـلا محمـد حسـن آخنـد زمانیکـه وزیـر خارجـه بـود، دسـتور داد تـا انسـتیتوی دیپلوماسی وزارت امور خارجه را دوباره فعال کنند. بهترین استادان پوهنزی حقوق را استخدام کردند و تمام سهولیات را در اختیار آنان گذاشـتند و خـود جنـاب ایشـان هـر روز از چگونگی و پیشرفت امور آن نظارت می کرد. در بخش روابـط خـارجی و بـین الملل کارهای زیادی صورت گرفت تا افغانسـتان دوبـاره بـه حیـث یـک کشـور آزاد و مستقل به جهانیان معرفی شـود. بازسـازی و احیـاء زیـر بناهـای اقتصـادی افغانسـتان ویران شده، کاری بسا بزرگ و مسئولیتی سنگین بود، کـه امـارت اسـلامی بـرای رونـق اقتصاد فلج شدهٔ آن تلاش های زیاد کرد که به عنوان مثال پروژه مهم و بـزرگ تـاپی کـه اولین بار در زمان امارت اسلامی طرح گردید. اگر ایـن پـروژه اجرایـی مـی شـد، یقینـا منافع اقتصادی و سیاسی زیادی برای افغانستان داشت.

امـارت اسـلامی افغانسـتان در مرحلـۀ بسـیار حسـاس، افغانسـتان را از تجزیـه و انتزاع نجات داده و استقلال این کشور زخم خورده و در لبـۀ پرتگـاه را اعـاده کـرد. بـه همان اندازه که دستیابی و تامین استقلال کشور برای این ملت و امارت اسلامی بسـیار خونین و همراه با قربانی های بی مثال بدست آمد، به همان اندازه و بلکه بایـد بیشـتر از آن برای حفظ و نگه داشت استقلال اعـاده شـده، از خودگذشـتگی، ایثـار و فـداکاری کرد. زیرا در این صورت سرزمـین و کشـور همیشـه آزاد و مسـتقل خواهـد مانـد، حتـی اگر از سوی قدرتمندترین کشورهای جهان با سلاح های پیشرفته و مدرن مورد تجـاوز قرار گیرد که نمونۀ بارز آن بغیر از آنچه ما خودمان در افغانستان مشاهده کرده ایـم مـی توان به حفظ استقلال ویتنام اشـاره کـرد. امـا بـرعکس اگـر کشـوری اسـتقلال نداشـته باشد با عواقب و پیامدهای بسیار وخیم و ناگواری روبـرو خواهـد شـد. زیـرا کشـوری که استقلال ندارد، بـه کشـورها و سـازمان هـای دیگـر محتـاج و وابسـته مـی شـود، در نتیجه مجبور می شود که در تمام امور خارجی و اکثریت مسـائل داخلـی رضـامندی و منافع آنها را مد نظر بگیرد.

پس در چنین وضعیتی یک کشور نخواهد توانست بـر طبـق مایحتـاج، و مصـالح خود منفعت ها را مـد نظـر گرفتـه و براسـاس آن سیاسـت داخلـی و خـارجی خـود را ترسیم و اجرایی کند. که نمونه های آشکار آن نداشتن استقلال همسـایگان شـمالی مـا مثل کشورهای تاجیکستان، ازبکستان و ترکمنستان است کـه کشـورهای مـذکور پـیش از فروپاشی اتحاد جماهیر شوروی بحیث ممکلت های غیر مستقل اداره مـی شـدند و با انزوای سیاسی، اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی مقابل بودند و تـا هـم اکنـون بخـاطر نداشتن استقلال کامل از پیامدهای منفـی و سـوء آن رنـج مـی برنـد و ایـن ملـت هـا و کشورها تا هنوز از جانسوزترین رنجها یعنی فقر، بیکاری و عدم شـکوفایی اقتصـادی درد می کشند.

مازاد بر این نداشتن استقلال کامل، یک حکومت و سرزمـین را بـا خطـر تجزیـه، فروپاشی و چند پارچه شدن برابر می کنـد کـه مثـال آشـکار آن کشـور سـودان اسـت. نداشتن اسـتقلال آن سـبب تقسـیم آن بـه دو بخـش سـودان شـمالی و سـودان جنـوبی گردید.

در خاتمهٔ نوشتار خود لازم می بیـنم کـه اضـافه نمـایم: ایـن ملـت و تـاریخ ایـن سرزمین باید مدیون ایـن جانثـاری و فـداکاری بـر موقـع و بجـای رهـبران و مجاهـدین امارت اسـلامی باشـد کـه بـا تحـرک بـه موقـع و بـه جـا افغانسـتان را از یـک تجزیـه و فروپاشی حتمی نجات داد.

د اسلامي امارت ځلانده مبارزې
د معاصر اسلامي تاریخ نوی باب پرانیست!

حافظ محمد طیب حقاني

لیکوال او دیني عالم

د عثماني خلافت له سقوطه یوه نیمه پېړۍ وروسته اسلامي امـارت واحـد داسـې خوځښت دی چې په خورا نازکو او ترینګلـو حـالاتو کـې راپورتـه شـو، د ډېـرو زیـاتو قربانیو په برکت یې د افغانستان له ۹۵ سلنه خـاورې څخـه دشر اوفسـاد ټغـر ټـول کـړ، امنیت او عدالت یې راوست او یو داسې اسلامي او شرعي نظام یې قائم کـړ چـې ټـول ولس ورته لبیک ووایه.

په داسې وخت کې چـې زمـوږ هیـواد دکمونیسـتانو او ټوپکسـالارانو وحشـت او ظلمت ځپلی و، یو نیم ملیون شهیدان مو ورکړي او ملیونونه مهاجر شوي وو، دافغـان ولس د قربانیو پـه برکـت روسي تـاړاک لـه وطنـه شـړل شـوی و، خـو بیـا زمـوږ هیـواد همداسې په تیـاره، ګـډوډۍ ، فسـاد، ظلـم ، قسـاوت، تعصـب او انارشـۍ کـې ایسـار و،خو له نیکه مرغه پـه دغـه بـد حالـت کـې مـلا محمـد عمـر مجاهدرحمـه اللـه دځـو سرسپارلو طالبانو په ملتیا یو داسي اسلامي خوځښت پېل کړ چې پـه لـږ وخـت کـې د هیواد لر او بـر تـه خـور شـو او بـالآخره لـه همدغـه خوځښـت څخـه اسـلامي نظـام او اسلامي امارت جوړ شو.اسلامي امارت د تاریخ په دې تیاره دور کې اسلامي ځلانـده تاریخ بیا تکرار او بیا رامعاد کړ.

هو! تاریخ تکراریږي، او تاریخ په داسې چا ویاړي، چې ولس ته یې نـوی ژونـد ، نوې رڼا ور ښښلې وي.تاریخ شاهد چې الله تعـالی پـه همداسـې سـختو او سـتونزمنو حالاتو کې د اسلام مبارک دین د ساتلو لپاره یو ټولی په برحقـه داعیـه راپورتـه کـوي او نصرت یې کوي،له اسلامی امارت سره الله تعالی نصرت وکړ او د معاصر تاریخ ویـاړ وګرځېد.

د اسلامي امارت د شر او فساد په خلاف راپورته کېدل او عروج موږ ته عـین هغـه وخـت را پـه زړه کـړ چـې د صـحابه و لـومړی دور و، هغـه وخـت چـې د مسـلمانانو د لومړي خلیفه ابوبکر رضي الله عنه خلافت و، مسلمانانو پـه یـو رنځېـدلي حالـت کـې قرار درلود، هلته چې نفاق تازه ښکرونه کړي وو، ځینې کمزوري مسلمانان دنبـوت لـه دروغجن مدعي (مسیلمة الکذاب) سره ودرېـدل او مرتـد شـول ، هلتـه چـې خلکـو لـه زکات ورکولو انکار وکړ، مسلمانانو لپاره یوائې مکه او مدینه ښارونه پناګـاوې وې، د مسلمانانو داسې حال شو چې عروة بن الزبیر رضي اللـه عنـه دغـه حالـت پـه دې ټکـو انځـوروي: ((کالغنـائم في الليلـة المطيـرة الشـاتية لفقـد نبـيهم وقلـة عـددهم، وكـثرة عدوّهم)).لکه د یخې او باراني شپې (د رمې) پسونه چې لالهانده وي، ځکه چـې خپـل نبي ترې تللی، مسلمانان په لږ عدد او دښمن په ډېر عدد کې و.

په مسلمانانو کې داسې خلک هم پیدا شـول چـې ابـوبکر رضي اللـه عنـه تـه یـې وویل:((یـا خلیفـة رسـول اللـه أغلـق بابـک ، والـزم بیتـک واعبـد ربـک حتـی یأتیـک الیقین)). اې دالله د پېغمبر خلیفه! دروازه دې پورې کړه، خپل کور کـې اوسـه، د اللـه تعالی عبادت دې کوه، څو چې تاته مرګ راځي.

خو ابوبکر رضي الله عنه نا امیده نه شو، مایوسه نـه شـو، بلکـې لـه دې پېښـو او ستونزو سره یې مقابله وکړه، همدغه مشکلات یې په راسخه عقیـده او ټینـګ عـزم، ښـه

تفاول وګاڼه او هغـه یـې برداشـت کـړل او دا تـاریخي وینـا یـې وکـړه چـې :((أیـنقص الدین، وأنا حیي)) دین به کمزوری کیږي او زه به ژوندی یم.

هو! دا هغه وخت و چې عمر رضي الله عنه هغه ته د زکـات د انکـار کوونکـو پـه اړه ویل چې دوی خو کلمه وایي او لمونځ کوي... نو هغه رضي اللـه عنـه ورتـه وویـل چې: ((مَهْ یا عمر، رجوت نصرتک، وجئتني بخذلانک، أ جَبّار في الجاهلیـة وخـوّار في الإسلام؟...)).

(عمره مه کوه! زمـا درتـه د مرسـتې امیـد و، او تـه دخپـل ځـان بـې ابـه کولـو تـه راغلې، آیا په جاهلیت کې زړور وې او په اسلام کې بې زړه؟ ستا څه ګومـان دی چـې زه به دوی ته د مسحرې وینا او دروغجن شعر په لوسـتلو دوی تـه مـیلان وښـیم! ډېـره بعیده ده!... پېغمبر صلی الله علیه وسلم تللی، وحې بنده شوې، قسم پـه اللـه چـې زه به له دوی سره ترهغې جهاد کوم څو چـې زمـا پـه متـو کـې د تـورې نیولـو تـوان وي او قسم په الله چې زه به له هغه چا سره چې د لمانځه او زکـات تـرمنځ فـرق کـوي، جګـړه کوم...).

ابو بکـر صـدیق رضـی اللـه عنـه د نبـوت مـدعي او مرتـدینو سره جهـاد وکـړ، د مسلمانانو قوت یې اعاده او تازه کړ، نـا امیـدو تـه یـې د امیـد سـاه ورکـړه او د خلافـت هیبت، جلال او عظمت یې نور هم قوي کړ.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله په ورتـه حالـت کـې داسي یـو څـوک و چـې د خپلو اسلافو په پل یې پل کیښود او له فساد سره د مبارزې پـه هـدف یـې مـلا وتړلـه او د اسلام بیرغ یې رپاند کړ.

څنګه چې تاریخ تکرارېږي، اسلامي امارت موږ ته یوځل بیا هغه وخت رایاد کـړ چې صلیبیانو په ډېری اسـلامي هیوادونـو ناتـار جـوړ کـړ او مسـجد اقصـی یـې ونیـو، مسلمانان دومره کمزوري شول چې دچا په خیال کـې هـم نـه تېرېـده چـې صـلیبیان بـه

مات او وځپل شي، مسلمانان به بيا نصرت ومومي او د فلسطين(بيت المقدس) پاکه خاوره به بيا د مسلمانانو شي.

يهودو په يوه ورځ بيت المقدس کې ۷۰ زره مسلمانان شهيدان کړل، د القدس ښار کوڅو کېويني د نهرونو په څېر وبهېدلې؛ د چا گومان نه و چې دمسلمانانو مقبوضه سيمې او ښارونه دې فتحه شي،خو دستر غازي قهرمان "صلاح الدين ايوبي" په لاس د حطين په پريکنده جگړه کې ازادې شوې.دا د الله تعالی نصرت و چې د مسلمانانو قوت او پرتم يې بيا راژوندی کړ.

همداراز اسلامي امارت د صليبي ټلوالې پر ضد داسي مقاومت وکړ چې نژدې ده صليبي اتحاد افغانستان کې خپل شکست ومني او زموږ له خاورې وتښتي. ان شاء الله

اسلامي امارت يو داسې سپيڅلی نظام قائم کړ چې هغه يې د ټولې نړۍ لپاره د واقعي امن، سولې، خواخوږۍ او بشر دوستۍ نمونه وگرځاوه.

ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله او اسلامي امارت چې د اسلامي احکامو په پلي کولو او احياء کولو کې کوم کردار اداء کړ،ماته د رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغه حديث مصداق ښکاري چې وايي: ((إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ عَلَى رَأْسِ كُلِّ مِائَةِ سَنَةٍ مَنْ يُجَدِّدُ لَهَا دِينَهَا))

(الله تعالی ددې امت لپاره دهرو سلو کالو په سر کې داسې څوک ليږي چې هغه امت ته دين تجديدوي (تازه کوي).

ددې حديث په اړه امام ذهبي رحمه الله ليکي چې : زما په آند د دغه حديث (مَن يجدد) د جمعې لپاره دی، نه ده مفرد لپاره . " الذي أعتقده من الحديث أن لفظ (مَن يُجَدِّدُ) للجمع لا للمفرد " (تاريخ الإسلام) " ۱۸۰/۲۳).

حافظ ابن حجر رحمه الله په فتح الباري کې ليکي چې: " د تجديد لپاره لازم صفات تر يوه نوعه دخير پورې نه دي ځانګړي، او نه هم ټول د خير خصلتونه په يوه سړي کې جمع کېدلی شي، مګر هغه چې د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په اړه ويل کيږي، هغه دغه امر سرته رسولی ځکه چې په هغه کې دخير دا ټول صفتونه جمع و او پکې مخکښ و... او بيا چې له هغه وروسته مجدد راغلی امام شافعي رحمه الله دی، اګر که هغه د ښو صفاتو خاوند و، خو جهاد يې نه و کړی او عدل يې نه و قائم کړی، نو له همدې وجې هر هغه څوک چې دغسې ځانګړنې ولري، چې د هرې پېړۍ په سرکې وي، هغه ترې مراد دی، که هغه ډېر (ډله) وي او کنه.

لا يلزم أن يكون في رأس كل مائة سنة واحد فقط ، بل يكون الأمر فيه كما ذكر في الطائفة (يعني قد تكون جماعة) وهو متجه ، فإنَّ اجتماع الصفات المحتاج إلى تجديدها لا ينحصر في نوع من أنواع الخير ، ولا يلزم أن جميع خصال الخير كلها في شخص واحد ، إلا أن يُدَّعى ذلك في عمر بن عبد العزيز، فإنه كان القائم بالأمر على رأس المائة الأولى باتصافه بجميع صفات الخير وتقدمه فيها ، ومن ثم أَطلَقَ أحمد أنهم كانوا يحملون الحديث عليه ، وأما من جاء بعده فالشافعي - وإن كان متصفا بالصفات الجميلة - إلا أنه لم يكن القائم بأمر الجهاد والحكم بالعدل، فعلى هذا كل من كان متصفا بشيء من ذلك عند رأس المائة هو المراد ، سواء تعدد أم لا (فتح الباري: ٢٩٥/١٣)

که له يوه اړخه وګورو ملامحمد عمر مجاهد رحمه الله هغه څوک و چې ددې پېړۍ د يو ستر مجدد په توګه يې دفساد، وحشت او جهل په تيارو کې داسلام نور وځلاوه، د يو داسې اسلامي نظام اساس يې کېښود چې چا يې تصور هم نه شو کولای او دغه روښانه چراغ په لرې اسلامي هيوادونو او نړۍ هم مثبت اثر وکړ .

له بلې خوا که د حديث مبارکه په تفسير کې د علماو هغـه قـول تـه ځېـر شـو چـې تجديد څنگـه چـې يـوازې د علـم پـه مجـال پـورې نـه دی ترلـی او دجهـاد، قيـادت او سياست ډگرونو ته شامل دی، نو دغسـې يـواځې د فـرد کـار نـه دی، نـه هـم يـواځې د ځانگړي شخص پورې چې په خپل عصر کې يې د اسلام مرسته او نصرت کـړی وي، بلکې دا ټولي او جماعت ته هم شامل دی، نو په همدې اسـاس اسـلامي امـارت واحـد داسې يو نظام وگرځېد چې عدل، اخوت او اسلامي تـاريخ يـې بيـا را اعـاده او تجديـد کړ، دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د قول هغه مفهوم و چـې وايـي : (يُجَـدِّدُ لَهَـا دِينَهَا).

خلاصه دا چې اسلامي امارت نه يوازې د شر او فساد ټغـر پـه ټولولـو سره سـوچه اسلامي نظام حاکم کړ، بلکې د اسلام مبارک دين يې را تـازه او تجديـد کـړ، د صـليبي اشغالگرو سره يې قوي مقابله وکړه او پـدې سره اسـلامي امـارت د راتلـونکي تـاريخ، ملتونو او پرگنو لپاره وياړ وگرځېد. وماذلک علی الله بعزيز.

داسلامي امارت معتدله او شامله مبارزه

نور احمد سعید

لیکوال او څېړونکی

د نړۍ په معاصره جغرافيه کې بيلابيل اسلامي تنظيمونـه او غورځنګونـه فعاليـت کوي، خو اکثريت يې دافراط ياتفريط ښکار دي. ځيني يې يوازې پر سياسي هلـو ځلـو باور لري، نظامي فعاليت ته په هيڅ صـورت هـم زړه نـه نيسيـ او ځينـي بيـا يـوازې او يوازې پر پو ځي مبارزه دومره ټينګار کوي چې سياسي فعاليت داسلامي نصوصو سره په ټکر تعبيروي. معتدل اسلامي حرکتونه ډېر کم دي، خو دافغانسـتان اسـلامي امـارت په نړيواله سطحه د لويو معتدلو حرکتونو يو مثال دی.

داسلامي امارت سياست له نبوي (صلی الله عليه وسـلم) سـيرت څخـه سرچينـه اخلي، نه يوازې سياسي هلې ځلې کوي او نه هم تنها پر نظامي مقاومت تمرکـز کـوي، اسلامي امارت دخپل هيواد دخپلواکۍ او داسلامي نظام د قيام لپاره هر اړخيـزه مبـارزه کوي، هر اړخيزه په دې معنی چې هم يې سنګر ګرم سـاتلی، هـم يـې سـياسي فعاليـت ته دوام ورکړی او هم يې فرهنګي او دعوتي چارې روانې ساتلې دي.

اسلامي امارت په پوځي ډګر کي يرغلګر دښمن او کابل رژيم ته ثابته کـړې چـې که دمجاهدينو په خلاف هرڅومره زور ازمايې او بـې رحمـي وکـړي، پـای بـه ددښـمن

شکست او رسوايي وي. اسلامي امارت د لـوی الله پـه نصـرت بـاور لـري او دخپـل مجاهد ولس په ملاتړ خپلو جهادي هڅو ته دوام ورکوي.

داسلامي امارت پوځي مبارزه دهیواد له ختیځ څخه ترلویدیځ او له جنـوب څخـه تر شمال پوري جاري ده، افغانستان کي ټول ورونه قومونـه داسـلامي امـارت د داعيـې ملاتړ کوي او داسلامي امـارت تـر قيـادت لانـدي داشـغالگرو او کابـل اداري پـر ضـد جهاد ته ادامه ورکوي. داچې دهیواد په گوټ گوټ کي ورځ تربلـې مجاهـدین پیـاوړي کيږي، پراخي سـيمي يـې تـر واک لانـدي راځـي، غنيمتونـه ترلاسـه کـوي، داسـلامي امارت په ملاتړ پراخي ولسي غونډې دايريږي، دا دولسي حمايت يوه ستره بېلگه ده.

د نړیوالو بې پرې څېړنيزو مرکزونو داحصائيو او ديرغلگرو د اعترافونو پـه اسـاس د افغانستان دمساحت تر نیمايي زياته برخه دمجاهـدينو پـه واک کـي ده او دکابـل ښـار په شمول په هغـو سـيمو کـي هـم چـي دمجاهـدینو پـوره کنټـرول وربانـدي نشـته، کـه مجاهدين وغواړي هر وخت او هـر ځـای پکـي عمليـات کـولای شي، داسي عمليـات چي پر دقت او بريايي دښمن هم اقرار وکړي.

لکه پورته چې هم اشاره ورته شوه اسلامي امارت د پراخ نظامي فعالیت سره سره سياسي هڅې هم رواني ساتلې دي، د سياسي هڅو په لړ کې داسلامي امـارت اسـتازو بيلابيلو هيوادونو تـه سـفرونه کـړي، پـه نړيوالـو کنفرانسـونو کـې يـې گـډون کـړی، لـه مختلفو جهتونو او شخصيتونو سره يې ملاقاتونـه کـړي. د امـارت اسـتازو پـه بيلابيلـو ناستو او ملاقاتونو کې خپله برحقه داعيه توضيح کـړې، د سـيمي او نـړۍ هيوادونـو تـه يې ډاډ ورکړی چې موږ که په خپله خاوره کې د پرديو شتون نـه منـو، نـو نـورو تـه هـم دخطر اراده نه لرو.

اسلامي امارت دافغان ولس د ربښتني اسـتازي پـه توگـه دخپلـو حقونـو دترلاسـه کولو په موخه د نظـامي لاري ترڅنـگ دسياسـت او دعـوت لـه لارو هـم خپلـه مبـارزه

جاري ساتلې، دامارت له موقف څخه ښکاري چې له ټولو ممکنه لارو کوښښ کوي چې له خپلې خاورې اشغالگر وشړي او دافغانستان پرپاکه خاوره دمظلوم ولس او مليونونو شهيدانو دارمانونو ممثل اسلامي نظام قايم کړي.

په اسلامي غورځنگونو او خوځښتونو کې داسلامي امارت تگلاره او کړنلاره پر اعتدال بناء ده. نه يې د شرق او غرب کافرانو ته د جگړې گواښونه کړي او نه يې هم له محاربو کفارو سره داسلام او ملي نافعو پر سر جوړ جاړی کړی. اسلامي امارت په ډير تدبير خو پوره شجاعت سره ديرغلگرو کفارو او دهغوی د غلامانو پر ضد هر اړخيزه مبارزه جاري ساتلې ده.

داسلامي امارت دمعتدلې- شاملې مبارزې له امله دامارت د حاکميت او فعاليت ساحه پراخه شوې، داسلام او هيواد دښمنانو ته ډير زيات ځاني او مالي زيانونه اوښتي، دښمن داسلامي امارت د له منځه وړلو او ياحد اقل کمزوري کولو په موخه بې دريغه زور او زر وکارول، داسلامي امارت په خلاف يې له هيڅ ډول وحشت، دهشت او پروپاگند څخه لاس وانخيست، خو نه يوازي داچې اسلامي امارت کمزوری نشو، بلکې تر بل هر وخت په سياسي، پوځي او مطبوعاتي ډگرونو کې پياړی شوی دی.

داسلامي امارت د لا استحکام په اړه زموږ مسؤلیتونه! څو وړاندیزونه اومشورې

ابوظهیر مولوي شمس الدین منصور
شهامت مجلې مسؤل، لیکوال، ددیني او سیاسي چارو څېړونکی

هر سیا سي خوځښت، جهادي غورځنگ، انقلابي جماعت او اصـلاحي پـاڅون ته پخپلو فکـري اهـدافواو نظریـاتي مقاصـدو اسـتحکام، ثبـات، اسـتقامت او اسـتقرار حیاتي ارزښت لري، په ورته توگه په عالم اسباب کـې داجتماعـي اوسـیاسي احزابـو او دجهادي او انقلابي تحریکونوبقاء او پایښت دصف پر وحدت، تنظیمي نظـم ونسـق او په مادي حصانت اوتحکیم پـورې موقـوف وي، د اسـتحکام معنـی ده (محکـم شـدن\ محکم بودن) جمع یې استحکامات راځي لکه عرب وایي: (استحکم علیه شئٌ فلانا)

په عالم نباتات کې هغه ونه چـې ولگی\ریښـې یـې پـه زمکـه کـې ژورې ننـوتې وې، د طبعي سېلیو، افتونو او بادونوڅخه په نسبي خوندیتوب سربیره څـانگې اوپـاڼې یې ښې تروتازه وې، عظیم الشان قرآن پخپل اسلوب داحقیقت څـومره ښـه بیـان کـړی (کشـجرةٍ طیبـةٍ اصـلها ثابِـتٌ وفرعهـا فـی السـماء) مفسرـین لیکـي: الشـجرة الطیبـة تثمرالثمر النافع!

په معاصره نړۍ کې هغه سـیاسي نظـام او حکومـت چـې دصـنعتي او اقتصـادي ځواکمنتیا ترڅنگ پخپلو فکري، دفاعي، تعلیمي او فرهنگي نهادونو کلـک ولاړاو هـم

پخپل ماحول او ولس کې ژوري ريښې ولري مستحکم نظام او پياوړي حکومت بلل کېږي. اوهرهغه سياسي نظام يا حکومت چې دهغه فکري، دفاعي، تعليمي او فرهنګي نهادونه مضبوط اوپياوړي نه وي په محض صنعتي او اقتصادي ودې کولو مستحکم نظام يا هيواد نه شمارل کېږي.

اسلامي سياست پوهان او مفکران چې څنګه د يوسياسي نظام دبقاء لپاره صنعتي او اقتصادي ترقې ضروري بولي په ورته توګه هغوی دهغه دروښانه مستقبل لپاره دافرادو او کارمندانو تر منځ فکري هماهنګې، ذهني وحدت اونظرياتي قوت هم د کليدي عنصر په توګه يادوي، دهغوی په اند: دوهم مهم عنصر- چې د يوسياسي نظام اوجهادي صف دلاتقويت او پايښت سبب کيدای شي، هغه د صف دننه د اساسي ا هدافو او مقاصدو دحصول لپاره د قربانيو دځپانده جذبو موجوديت دی، يعنې چې دصف افراد دخپلوسترواهدافو لاسته راوړو لپاره د مادي وسائلو په قربانولو سربيره دسرونو او ځانونو قربانيوورکولو ته هم چمتوالی ولري.

بيشکه دافغانستان اسلامي امارت داعلاء کلمة الله، اسلامي نظام دحاکميت او هيواد نه ددفاع په لار کې د سترو قربانيو او فداکاريو شاندارتاريخ لري چې په معاصرو اسلامي اوغير اسلامي هيوادو کې يې مثال نه ترسترګو کېږي.

د اسلامي امارت تازه شانداره پوځي او سياسي فتوحات ښيي چې زموږ غليم روانه جګړه بايللې او هغه دخپلې شرمونکې تيښتې لپاره د لارو اوګودرو په لټولو بوخت دی، په دې سره نن وي که سبا دهيواد دسياسي زعامت واګي داسلامي امارت لاسته ورتلونکې دي، چې په دې سره به حتماً دامارت دمسؤليتونو، فرايضو او ذمواريو دايره نوره هم پراخه او وغځيږي، ان شاء الله او دا هغه مرحله يا مقام دی چې عظيم الشان قرآن ترې پخپله ژبه کې په (خلافت، استخلاف... او تمکن فی الارض) سره تعبير کړی، چې عمده هدف يې په زمکه اسلام ته سرلوړې او عظمت وربښل دي،

عظیم الشان قرآن دي هدف ته رسیدل یولوی نعمت یادکړی چې د ایمان، عمـل صـالح او ښوکارونو په بدل کې ورکول کېږي، دعظیم الشان قـرآن پـه نـزد دزمکنـي خلافـت یـا امارت نه هدف دانسانانو د هدایت او نیکمرغۍ دچارو واګې د ټولنې یو داسـې صـالح قشر ته په لاس ورتلل دي، چې هغه دالله تعالی قانون نافذول غـواړي، او غـواړي چـې دظلمونو، وحشتونو او بې لاریو نه زمکه پاکه کـړي، دعامـه امنیـت او خلکـو دراحـت لپاره داسانتیاوو چاپیریال په رامنځته کولو سره ارزو لري چې دالله تعـالی هغـه پـراخ او همه ګیر قانون (چې د کائناتو په هسته کې له لمره دزمکې ترزرو پورې نافـذو رایـج دی او قرآنِ پخپله ژبـه کـې تـرې پـه (صراط مسـتقیم سره تعبیرکـړی) دبشر-یت دسـوکالۍ، ترقۍ اوخوشالۍ لپاره یې نافذ او رائج کړي.

د اسلامي صف دننه دوحدت، نظم اونسق اړتیا!

امید لرم په لوستونکو به دپورته موضوع علمي اومعنوي وسعتونوته دلیکـوال بـې اختیاره میلان په دوی بوج اودروند تمام نشي بلکې دموضوع دګڼو اطرافـو او جوانبوپـه اړه سپیناوي به د دوی دمطالعاتي ذوق سره مرسته وکړي، اسـلامي شریعـت دسـیاسي نظام داستحکام او دوام په برخه کې دوه خاص لفظـي اصـطلاحات د پـام وړګرځـولي، چې موږ دلته په هغودواړو لفظي اصطلاحاتو باندې لوسـتونکوته دغـور بلنـه ورکـوو: لومړی لفظي اصطلاح (اجتماع و ائتلاف) او دوهم (اشـتات و انتشـار) دی، نـه یـوائې دمسـلمانانوبلکې دنـړۍ دنـورو قومونـو دمـرګ، ژونـد، ترقـۍ، تنـزل، نیکمرغـۍ او بدمرغۍ هغه اسـاسي اسـباب او مراتـب چـې عظـیم الشـان قـرآن ښـودلي، دهغـو ټـول حقیقت په دي یادولفظي اصـطلاحاتو کـې راټـول دی، بنـاً ضروري ده چـې داسـلامي امارت د سیاسي او اداري نظام جوړولو او دجهـادي صـف تشـکیلولو پـه لړکـې ددغـو دواړو اصطلاحاتو دمعنویت مفاهیمو ته به پاملرنه زیاته شي.

اجتماع: داجتماع معنی ده (ضم الشئ بتقريب، بعضه من بعـض) مختلـف شـيان یوبل سره پیوند او نښلول (مفردات امام راغب)

ایتلاف: د (الف) څخه دی معنی يې (ماجمع من اجزاء مختلفة ورتب ترتيبـاً، قـدم فيه ماحقه ان يقدم، واخرفيه ماحقـه ان يـؤخر) ده يعنـې مختلـف څېزونـه پـه يـو داسـې تناسب او ترتیب سره یوځای کول چې د هريوسره کوم ځای مناسب بريښـي، هغـه هـم هلته راوړل شي، هغه چې دلومړیتوب حق لري لومړی او چې د پا ی حق لـري پـه پـای کې راوړل شي، نظام کې داجتماع وایتلاف نـه هـدف دادی چـې هرکلـه مختلـف کـاري قوتونه په یوځای، په یومرکز، په یوه سلسله، یوځواک اویو فردکې پـه قـدرتي اومناسـب جوړښت سره ځای کړای شي، په دې سره پـه ټولـو مـوادو، قـواوو، اعمالـو او افرادويـو اجتماعي او انضمامي حالت يا دور طـاري کېـږي، تـردې چـې هرقـوت، هرعمـل دبـل سره په یوځای کولو او هرفرد دبل فرد سره په نښلو کې دزنځيرکړيـو پـه څېـر د يـو سرنـه تربله داسې متحدو متصل وبريښـي چـې پکـې هـيڅ درز، بيلتـون، انتشـار او اخـتلاف ترسترګونشي.

هرکله چـې پـه مـاده کـې داسـې اجتماعـي و انضـمامي نظـام پيـدا شي، دتخليـق وتکوين او وجود مراتب ظهور مومي، عظيم الشان قـران تـرې پخپلـه اصـطلاح کـې پـه (تخليق) او (تسويه) سره تعبيرکړی﴿الذی خلق فسوی﴾ (۸۷: ۲) نوژونـد او وجـود نـه دی مګر اجتماع وايتلاف دی! او مرګ وفنا نه ده! مګرددې ضد دی؛ همـدا حالـت چـې کله په اعمالُ او افعال طاري شي داخلاقو په ژبه کـې ورتـه (خيـر) او دشريعـت پـه ژبـه کې (عملِ صالح اوحسنات) ويلی کېږي اوچې کله دا حالـت پـه انسـاني جسـم طـاري شي دطب په اصطلاح کې په (روغتيا) تعبيريږي او طبيـب يـې ژونـدبولي؛ او چـې کلـه دملي اواجتماعي ژوند پر ځواک اوعمـل دا حالـت طـارشي (مـلي او اجتماعـي ژونـد) وګرځي اوبيا يې نړۍ ديوملت ياولس دملي سرلوړی، ترقۍاو خوشـالۍ پـه بڼـه ننداره

کوي، نوالفاظ ډير... معنى يوه....، مظاهر مختلف... مګـر دهغـه يګانـه او واحـدذات په څيردهغه دژوند قانون هم يو..... ولنعم ماقيل:

عبارتناشتى وحسنک واحد وکل الى ذاک الجمال يشير

داجتماع او ايتلاف ضد (اشـتات و انتشـار) راځـي، اشـتات د (شـتت) څخـه دى معنى يې ده تفريق، اخـتلاف، او جـلا، جـلا کيـدل، يقـال: شـت جمعهـم، شتاوشـتاتاً وجاوا اشتاتاً اى متفرقى النظام اشتاتاً (مفردات٢٥٦)

عظم الشان قرآن کې دي: يَوْمَئِذٍ يَصْـدُرُ النَّـاسُ أَشْـتَاتًا (٩٩. ٦) مِّـن نَّبَـاتٍ شَـتَّىٰ (٢٠. ٥٣) وَقُلُوبُهُمْ شَتَّىٰ (٥٩. ٦) شتىّ معنى مختلفه

انتشار، دنشر څخه دى معنى يې ده جلا، جلا کيدل فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّـلَاةُ فَانتَشِرُوا (٦٢. ١٠) يعنـې تفرقـوا، داشـتات و انتشـار نـه مـراد هغـه حالـت دى چـې داجـتماع وايتلاف اويوځايوالي نه وروسته ديوبل نه په جلا او بيګانه کيـدو سره طـاري کېـږي، پـه صلاحيتونو، استعدادونو، کړنو، افـرادو او هـر څـه کـې دلـومړي حالـت سره يومتضـاد حالت رامنځته شي اوچې کله داسې حالت رامنځته شي دتکوين ځای فسـاد ونيسيـ او دوجو ځاى عدم وفنا ونيسي او دا هغه ناروغې ده چې ديوقوم يا يو ولس يا ديـوې ډلـې اولوري په اجتماعي ژوند کې په ظهورکولـو دهغـه قـوم، هغـه ولـس، ډلـې او لـوري پـه قسمت دېرمختګ پـه ځـاى شـاتګ، دعـروج پـه ځـاى تسـفل، دترقـۍ پـه ځـاى تنـزل، دعظمت په ځاى ذلت او دحکومت پـه ځـاى محکوميـت ورسي او بـالاخر مرګـى يـې دژوندون له قافلې څخه وباسي...

لنډه داچې عظيم الشان قرآن ځاى په ځاى دملـي ژونـد لپـاره اجـتماع، ايـتلاف او اتحاد رحمت اونعمت بللى اود اعتصام بحبل الله په څيرپه عظيمو تعبيراتـو يـې يـاد او عرب و عجم يې ټول مخاطب کړي:

وَاعْتَصِمُوا بِحَبْلِ اللَّـهِ جَمِيعًـا وَلَا تَفَرَّقُـوا ۚ وَاذْكُـرُوا نِعْمَـتَ اللَّـهِ عَلَـيْكُمْ إِذْ كُنْـتُمْ أَعْدَاءً فَأَلَّفَ بَيْنَ قُلُـوبِكُمْ فَأَصْـبَحْتُمْ بِنِعْمَتِـهِ إِخْوَانًـا وَكُنْـتُمْ عَـلَىٰ شَـفَا حُفْـرَةٍ مِـنَ النَّـارِ فَأَنْقَذَكُمْ مِنْهَا ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ اللَّهُ لَكُمْ آيَاتِهِ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُونَ (۳: ۱۰۳)

داسلامي صف اوزعامت نه د پیروۍ اړتیا!

دپورتني الهـي ارشـادپه پـام کـې نیولـو سره داعتصـام بحبـل اللـه پـه غـرض دې اسلامي امارت پخپل صف کې داتحـاد، اجـتماع و ایـتلاف پـه عنـوان وخـت پـه وخـت جامع برنـامې ولـري، هغـه دیـن یانظـام دکـوم دنفـاذ، عظمـت او سرلـوړۍ لپـاره چـې مجاهدین قربانۍ ورکـوي، هغـه پـه هرحالـت کـې پـه جماعـت اوصـف پـورې دالتـزام اوامیرنه داطاعت حکم کوي که په امیر کې ځینې کمـزورۍ او نیمګړتیـاوې هـم شـتون ولري بیا هم داسلام مبارک دین دهغه په اطاعت کولو ټینګـارلري خـو پـه دې شرط چـې هغه به لمونځ قائموي (یعنې وماااقاموالصلوة)

کوم مسلمان چې ځان یې دجماعت او صف نه جلا کړ داسـې ده لکـه چـې هغـه ځان شیطان ته وسپاره، یعنې مسلمان به ځان دصف او جماعت څخه نه بیـرون کـوي، یوبل روایت دی (فان الشیطان مع الواحد) څـوک چـې تنهـا اویـواځې وي، شـیطان لـه هغه سره وي، ددوه انسانانوپه یوځای کیدو سره شیطان تبنـتي یعنـې د دوه انسـانانو پـه یوځای کیدو داتحادقوت پیدا کېږي، هغـوی ژر دحـق څخـه نـه ګرځـي، امـام بیهقـي دامام شافعي رحمه الله له طریقه نقل کړي چې داجماع په اثبات یې پـه پـورتني روایـت استدلال کړی دی، همداشان متواتر بالمعنی حدیث (علیکم بالسـواد الاعظـم) اونـورو ګڼو احادیثونه دجماعت دپیروۍ حکم څرګند معلومیږي، چې تفصیل یـې دلتـه بحـث طولاني کوي، لیکن خلاصه دهغو ټولو داده چې د مسلمانانو لـه جماعـت سره یوځـای اوسیدل اوژوند کول شرعاً مطلوب عمل دی، هر څوک چـې دجماعـت نـه جـلا ژونـد غوره کوي دهغه ځای دوزخ دی، تجارب هـم ښـیي چـې یـووګړی یـافرد څـومره ژر د

هلاکت سره مخ کیدای شي خویوه صالحه ډله او صف بیا هغومره ژر دهلاکت سره نه مخ کیږي، ځکه په هغوی دالله تعالی لاس وي (ید الله علی الجماعة) او بل الله تعالی نه غواړي چې ټول امت دي په گمراهۍ باندې جمع شي.

اجتماعیت الله تعالی ته دومره خوښ اوگران دی چې په فاتحه (سورة) کې کومه دعاچې مسلمانانوته ښودل شوې هغه دواحد متکلم په صیغه نه؛ بلکې دجمع په صیغه کې ښودلې، حا ل داچې دا، دعاء فرداً، فرداً هم لوستل کیږي (اهدنا الصراط المستقیم) (۱: ۵) فرمایلي او (اهدني...) نه دي ویلي؛ په ورته توگه قران اواسلام د یوفردهستي؛ هستي نه بولي یواځي اجتماعي اود ټولنې هستي؛ هستي بولي، او دفرداعمال هم د دې لپاره دي څو دهغو داجتماع او تالیف څخه (اجماعي هیئت پیداشي) مسلمانانوته دخپلمنځي ملاقات اویوبل سره دلیدلو لپاره کومه امتیازي دعاء چې اسلام ښودلې هغه هم دجمع په صیغې سره ښودلې یعنې (السلام علیکم) (السلام علیک) نه؛ په ورته توگه لمانځه نه دوتو لپاره (السلام علیکم) هم دجمعې صیغه راوړې، واحد صیغه نه! علت دا دی کوم ته چې موږ اشاره وکړه او نه هغه چې ځینې یې گڼي.

باید درک کړو چې دشریعت د احکامو اواعمالُ په هره برخه او هر ښاخ کې داجتماعیت او ایتلاف حقیقت داصل او اسا س په توگه په نظر راځي، په دې اړه چې څومره دشریعت په احکامو نظراچوو او هغوته ځیرکېږو گام په گام راته د اجتماعیت اسرار اوبراهین په لاس راځي، په جماعت سره دپنځه گونو لمونځونو د اداء کولو تاکید! دجمعې او اخترلمونځونو اجتماعات او دحج اجتماعي اداء؛ داټول داسلام مبارک دین اجتماعیت ته ژمنتیا او ورته اهمیت لرل په گوته کوي!، دزکات فرضیت هم داجتماعي ژوند دبقاء، فلاح اوبهبود لپاره دی؛ ځکه هرڅوک په انفرادي توگه دزکات لگولو واک نه لري د بده مرغه چې دیته نن مسلمانان پام نه لري شریعت بهتره

طريقه دابنودلې چې زكات به دوخت خليفه او دمسلمانانو زعيم اخـلي او هـم هغـه بـه يې دمصرف ځايونه په گوته كوي او په منصوصي مصارفو كې چې كـوم هغـه تـه مهـم بريښيدل هغوته دې تـرجيح وركـړي حتـى دلمانځـه لپـاره پـه صـف كـې دنيـغ اوسـيده دريـدو پـه اړه اسـلام زور راوړي او فرمـايي [لتسـون صـفوفكم اوليخـالفن اللـه بـين وجوهكم] (بخاري)

اوپه روايت دانس رضى الله عنه كې (سووا صـفوفكم فـان تسـوية الصـفوف مـن اقامة الصلوة) (بخاري) وفى لفظ (من تمـام الصـلوة) حاصـل داچـې ادنـى نـه ادنـى او اعلى نه اعلى شرعي حكم اوروايت باندې په غور كولو سره داحقيقـت روښـانه كيـږي چې اسلامي اتحاد د خورو ورو شگو نـوم نـه؛ بلكـې دمضـبوط ديـوال نـوم دى جـدا، جداپرتې شگې مستقل وجودنـه لـري او دهغـو اجتماعـي وجـود دديـوال پـه وجـودكې ښكاري په ورته توگـه مختلـف افـراد او وگـړي هـم مسـتقل او كامـل وجـود نـه لـري د هغوى اجتماعي وجود داتحاد، ايتلاف، نظم او نسق په صورت كې منځته راځي.

داسلامي صف په تركيب كې قايدانه رموز او صفات

په دې لړكې دحارث اشعري حديث ترټولو مشهوردى، چې پـه مسـند امـام احمـد كې (امام احمدبن حنبل رحمه الله) اونورو نقل كړى، په كـوم كـې چـې پـه ترتيـب سره داسلام عملي نظام بيان شوى:

قال صلى الله عليه وسلم: انا آمُرُكُم بخمسٍ، اَللهُ اَمَرَنـى بِهـن الجماعـة والسـمع، والطاعة، والهجرة والجهاد فى سبيل الله الخ

رسول الله صلى اللـه عليـه وسـلم فرمـائي تاسـو تـه زه پـه هغـو پنځـو خـبرو يـا كارونو امركوم، په كومو چې الله تعالى ماته حكم كړى دى، جماعت، سـمع، طاعـت، هجرت، او دالله په لار كې جهاد.

لومړی خبره داده چې دهرې سيمې او هيواد مسلمانان دې په يومشر اوامير راټول شي، يعنې دخپل مرکزيت سره دې ځانونه ونښلوي، هيڅکله دې د هغه څخه جلا کېږي نه؛ هغه ژوند چې دجماعت په شکل کې نه وي او ديو امير تابع نه وي، اسلام ورته نا اسلامي ژوند وايي اودابليس لاريې گڼي، همدا راز انفرادي ژوندهم اسلامي ژوندنه بولي؛ اسلام صرف اجتماعي ژوند ته اسلامي ژوند ويلي دي. جماعت نه مراد هغه مجموعه يا ټولنه ده چې پکې اتحاد، ايتلاف، امتزاج او نظم و نسق شتون ولري.

اتحاد: اتحاد نه مراد چې مسلمانان به د ژوند په چارو کې ويشل شوي نه وي، يوبل سره به پيوند وي، کارونه به يوځای سرته رسوي اوترمنځ به يې درز او بيگانگې شتون نه لري.

ائتلاف: ائتلاف مرتبه له اتحاد هم لوړه ده، اتحاد کې تنها خپلمنځي يوځايوالی دی، ضرور نه ده چې دافرادو ترمنځ يوځايوالی دي په ښه تناسب اوجوړښت سره وي، ايتلاف کې مقصود هغه اتحاد دی چې هغه به محض اتحاد نه، بلکې دافرادو صحيح او مناسب جوړښت به هم وي، يعنې منتشر اومختلف افراد به يوله بل سره داسې ضم او يوځای شوي وي چې هر فردته به دهغه داستعداد او صلاحيت په تناسب ځای اومقام رسيدلی وي، دصف په اجتماعي او انتظامي جوړښت کې به د افرادو استعدادونو ته په کتود هغوی لپاره مقامونه او وظايف تعين وي، نه داسې چې (زيد) دسرداری اومشرۍ لايق وي او کار ورڅخه دجاروکشۍ اخستل کېږي او (عمرو) چې قابليت يا پوهه يې د پاوبرابره ده؛ خوکارترې دځو منوبرابر اخستل کېږي.

امتزاج: د مسلمانانو د سياسي صف جوړولو دريمه مرتبه امتزاج دی، دې کې له کميت نه ډير په کيفيت کې اتحاد را وستل دي، چې د هرفرد اجتماعي اوطبعي مزاج ته په کتواو يوځای کولو سره متحد کيفيت ترلاسه کول دي، دا سې دوه کسانو

دیوځای کولو نـه ډېره کـول چـې دهغـوی د طبعیتونـو، خصـلتونو اوصـلاحیتونوترمنځ دروند تضادشتون ولري، د هغوی یوځـای کـول داوبـو اوتیلـو یوځـای کـول دي، چـې دیوځای کولو وروسته هم هریوجلا، جلا ښکاري؛ اللـه تعـالی مختلـف ډولـه عنـاصر ددې لپاره پیدا کړي، چې دهغو په یوځای کولـو جماعـت اوصـف متشـکل شي، ځکـه صف یا جماعت یو مرکب وجود دی افـراد یـې عنـاصر دي، او (فـرد) کامـل وجـود نـه دی، محض یو مثنی دی، څو ورسره نور خواره واره اجزاءیوځای نه وي کامل وجودنـه ګڼل کېږي، نود خپلمنځي یوځایوالی لپاره امتزاج پیژندنه د ضروریاتو څخه ده.

نظم: دنظم نه مقصود دصف، تنظیم، یا جماعت هغه ترتیبـي او تقـویمي حالـت مقصودوي چې ټول غړي او افراد به پخپلو، خپلو ځایونو ولاړ او ترخپلـو خپلـو کـاري دایرو محدود او دخپلو فرایضو اودندو په سرته رسولو کې به مصروف اوبوخت وي.

هره ډله، صف یا خوځښت چې دا پورتني اجتماعي اوصـاف اوخـواص ونـه لـري هغه ترډېر وخته پخپل طبعي حالت ولاړه پاته کېدا ی نشي، ددې اجتماعـي او صـافو او خواصو په تطبیق کې د فعال او مدبر قیادت، بصـیرت او تجربـه کـاري رول لـري، چـې هغه پخپل فراسـت او ذهانـت سره منتشرـافراد پـه متحـد، موتلـف او مـنظم صـف کـې راټول او یوځای کړي لکه افغانستان کـې د پیړیـو راهیسـې او هـردور کـې دزرګونـو پـه شمیرکې علماوو، روحانیونواو طالبانو شتون درلود؛ خو په یوه دوره کـې هـم زرګونـه دیني عالمان، روحانیون او طالبان د نن په څیر متحد، منظم اوپه یـو وصـف کـې نـه وو راغـلي! علـت څـه وو؟ ځـواب یـې ښـکاره او سـاده دی چـې پـه هغـوی کـې د (امیـر المؤمنین ملا محمد عمر مجاهدرحمه الله) پشان یـومبتکر انسـان، قایـد او رهـبر نـه وو پیداشوی، چې هغوی یې په متحد، مـنظم، ممـزوج صـف کـې راټـول کـړي وای!! نـن چې لله الحمد دمرحوم دللهیت او اخلاص په نتیجه کې موږ داسلامي امارت پشـان پـه نړیواله سطحه دیومنل شوي فعال سیاسي اوجهادي ځواک دنعمـت څخـه بـرخمن یـو

باید ددې صف دنور متحد او منظم ساتلو په اړه خپل مسؤلیتونه درک کړو! بدون دشک موږ نن د یوشمیر مثبتو فرصتونو او تاریخي چانسونوڅخه برخمن یو، باید دهغو دلاسه ورکولو په اړه دتاریخي جنایت اوپیغور مرتکب نشو، دخوښۍ ځای دی چې دهیواد د علماوو، روحانیونو، طالبانواو مجاهدینودروند اکثریت په همدې صف کې دیوقاید اویو رهبر په اطاعت کې راټول دي، اوبیا به تکرار کړم چې دا دمرحوم ملاصیب رحمه الله دمدبرانه قیادت اواخلاص مرهون منت دي چې نن امارت د یومتحد اومنظم جهادي او سیاسي ځواک په حیث دنړۍ له مغرور اوکبرجن ځواکونو څخه لارې خطا کړې دي. ثم الحمدالله

ددې لپاره چې موجوده پیاوړی جهادي او سیاسي صف (اسلامي امارت) مو لا تقویه اومستحکم شي، دهیواد حساسو او ترینګلو شرایطو ته په کتو علماء، روحانیون، طالبان، مجاهدین اوعام مسلمانان مسؤلیت او مکلفیت لري چې دامیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله) وجود دخپل (شرعي امام ومطاوع) په حیث منلوسره خپل صلاحیتونه او استعدادونه په ثانوي بحثونو اوغیر ضروري امورو کې د مصروفو لو په ځای ددې جهادي اوسیاسي صف دیو والي لپاره په کار راولي، دمرحوم ملاصیب وروسته دهیواد علماء، روحانیون، طالبان او مجاهدین دمحترم اخندزاده صاحب (حفظه الله) او دهغه د نائیبینو (محترم ملا عبد الغني برادار، محترم خلیفه صاحب ملاسراج الدین اومحترم مولوي محمد یعقوب سلمهم الله) په صورت کې دیو ښه تجربه کار، بابصیرته قیادت او زعامت له نعمت څخه برخمن دي ضرورت دی چې اوسنی دیني قشردخپلو ټولو هڅو، کړنو اوبوختیاوو محور د اسلام دسرلوړۍ او دهیواد دازادۍ وروسته خپلمنځي یو والی، اتحاد او اتفاق وګرځوي او دمختلفو اومنتشرو افرادو ترمنځ دهغوی دفکري او ذهني صلاحیتونو په تطهیرولو سره د اتحاد، ائتلاف، امتزاج او نظم ونسق معیارونو او اصولوپلي کولو ته پام ډیر کړي.

په یاد حدیث کې دوهم (السمع) دی یعنې امام، یازعیم چې کوم احکـام ورکـوي دهغو اوریدل او دهغو نه تعلیم او ارشاد حاصـلول دي، علـماوو لـیکلي: د (سـمع) پـه لفظ کې دامیر داحکـامو قبولیـت اود تعلـیم لورتـه اشـاره ده چـې دمسـلمانانو امـام بـه معلمانه حیثیت هم لـري هغـه بـه دنـورو مواصـفاتواوځانګړتیاوولرلو سربیـره معلـم او لارښود هم وي.

دریم څېز (طاعت) دی یعنې دامام په کامله درجه اطاعـت کـې خپـل ټـول عمـلي صلاحیتونه هغه ته سپارل او په حکم یې دچون وچرا پرته عمـل کـول! البتـه اطاعـت پـه معروف کې! نه په معصیت کې (انما الطاعة فی المعروف)

داسلامي صف افرادو د تطهیرذهن اوتعمیرفکر اړتیا:

داسلامي امارت استحکام، ثبات او ځواکمنتیا چې ملي او شرعـي مسـؤلیت دی، نوپه اړه یې دمسـؤلانه ګامونـه اخسـتل هـم شرعـي مکلفیـت او مـلي مسـؤلیت دی، پـه جهادي، علمي، سـیاسي او اقتصـادي برخـوکې چـې کـوم کوښښـونه روان دي دهغـو تـرمنځ فکـري هماهنګـۍ او یـو والي تـه ضرورت دی، بایـد ټـول داجتماعیـت، اتحـاد، ائتلاف، امتزاج او نظم ونسق اصولو په پام کې نیولو سره تنظیم اوبرابر شي.

امارت داستحکام لپاره ماضي ته دکتلو په ځای باید مسـتقبل تـه کتـل ډیرکـړي، د روښانه مستقبل جوړولو لپاره (دفکر تعمیر) خورا اهمیت لري، خو ددې نـه وړانـدې د (ذهن تطهیرولو) ته پام ګرځول اړین دي او بیا دفکرتعمیرولو تـه! پـه خاصـه توګـه هغـه ځوان قشرچې تازه دامارت لیکوته راځي، په کارونو دهغـوی دګومـارلو څخـه وړانـدې دي د هغوی (تطهیرذهن) ته پام وشي بیا (تعمیرفکر) ته. مـوږ بایـد داسـلامي شریعـت دمعتدل مسیر په رڼاوو ملي مصالحو تـه پـه کتـو دلنـډو، عقیـدوي، علمـي، معلومـاتي، سیاسي اوفرهنګي موادو نه یونصـاب ترتیـب او ولـرو اوبیـاد همـدې نصـاب دتـدریس لپاره یوجامع میکانزم له جوړولو استفاده وشي.

تجربو ښودلې چې د ځوانـو او خـامو اسـتعدادونوتطهيرذهن تـه توجـه ګرځـول دصف دروښانه مستقبل ضمانت دی، پـه درسـت او سـهي جهـت دخپـل ځـوان نسـل ذهني او فکري تعميرته پاملرنه صف دنظم ونسق له پلوه ممتازګرځوي او هم يې دبقـاء او استحکام په وړاندې چيلنجونه او ننګونې له منځه وړي، په تطهيرشوي ذهـن تعميـر اسان او ژر کېږي، هغه زمکه چې تېوله ازغنـو بوټـو اوګيـاوو نيـولې وي، هلتـه ددهقـان يابزګردباغ جوړولوارمان ترهغه نه پوره کېږي څو يې تطهير ونه کـړي، ګيـاوې، کبلونـه او ازغن بوټي ترې بهر ونه غورځوي په ورته توګه دځوانـانو دروزنـې او تربيـې معاملـه هم ديته ورته محنت اوزيار غواړي.

دجهادي صف دلاقوت لپاره د دوامدار کوښښ اوپاملرنې اړتيا...

دحارث اشعري په حديث کې پنځم امر فی سبيل الله جهـاد دی، جهـاد لـه جهـد نه په معنی د (استفراغ الوسع فی مدافعة العدو ظاهراً وباطنـاً) سره، د دښـمن دلـه منځـه وړلو اوځان دنجات لپاره په ټول وس په پټـه او ښـکاره کوښښـونه کـول (مفـردات امـام راغب)

داکوښښونه په ژبه، قلم، مال او ځان هم کيدای شي، پـه يـادو کـې هـر يـو جهـاد چـې ضرور و؛ دهغـه کـول فـی سـبيل اللـه جهـاد دی (وجاهـدوا االمشرکين بـاموالکم وانفسکم والسنتکم) (رواه ابوداود واحمد، ونسائی وابن حبان عن انس)

نو جهاد داسلامي امارت دبقا او استحکام لپاره نه يواځې قوي او حيـاتي عنصرـ دی، بلکې دامارت د اساس، پيژندګلوۍ او دباور زريعه هم دی او بې له جهاده اسـلام نامکمل دی، لکه دعلامه اقبال په تعبير دمسلمانانو لپـاره بـې جهـاده پيغمـبرۍ د بـرګ حشيش حيثيت هم نـه لـري، دغسـې بـې جهـاده اسـلامي حکومـت هـم کـوم مفهـوم اومعنی نه لري، نـو دهـر اسـلامي صـف ژونـد اوبقـاء پـه جهـاد موقـو فـه ده، پيـاوړی جهادي ځواک لرل داسلامي امارت راتلـونکي تـه حيـاتي ارزښـت لـري، لکـه دمـاهي

(کب) دژوند لپاره چې اوبه ارزښت لري، څنګه چې داوبو پرته دماهي ژونـد متصـورنه دی، همداسې دجهاد پرته دمسلمان اجتماعي ژوند اوبقاء هم متصوره نه ده. نو حتمـي ده چې جهادي تربیه او روزنه ورکول داسلامي امارت له اساسي مسـؤلیتونو څخـه وي او په دې برخه کې باید مجهز تربیوي پلانونه او مراکز ولري، دجهاد پرته یـو نظـام، یـوه ډله، یوقوم، یوه قبیله اویوانسان هم د ژوند اوبقاء حق نشي مونـدلی، ایـا داسـې څـوک شته چې هغه غواړي ژوندی پاته شي او هغه دي له جهـاد ه لاس پـه سرشي؟ یـوځېزدی چې نوره نړۍ یـې پـه نورواوبـدلو نومونـوتعبیروي او دخپلـې بقـاء او ژونـد لپـاره یـې ضروري اولازمي عنصر ګڼي، اوهم هغه څیز اسلام دجهادپه جامع لفظ سره تعبیـروي، دشک پرته د اسلامي امارت راتلونکی له جهاد سره تړلی دی، دجهادي قوت دپیاوړتیـا لپاره د ټولو معاصروتدبیرونو او تاکتیکونو څخه استفاده کول او دمجاهـدینو داعـداد او تربیې په برخه کې خپله توجه ډیرول شرعاً وجوبي حکم لري.

ځکه داسلامي شریعت په احکامو کې د ضروري عقایـدو نـه بعـدبل فـرض، بـل رکن اوعبادت (دجهاد په شان اهمیت او ارزښت) نه لري، په قرآن اوحـدیث کـې تکـرارً راغلي چې داسلامي ژوند بقا په جهاد موقوف ده، په مسـلمانانوکې چـې څـو جهـادي جذبه ژوندۍ وې اوهر مسلمان دجهاد لار کې د ژونـد، مـال، وخـت او ځـان قربـانولو محکمه اراده ولري، دنړۍ هیڅ زبرځواک اوطاقـت مسـلمانان نشيـ مغلوبـولی، هرکلـه چې دمسلمانانو په زړونو کې دجهادجذبه مړه شې یعنې دهغوی (مسـلمانانو) دزړونـو څخه د جهادجذبه ووځي، هغه وخت به مسلمانانو ته ډله ییـز مـرګ را شي، قـرآن کـریم په دې اړه دیهودو تاریخ اومثـال وړانـدې کـوي څـو چـې (یهودانـو) کـې دجهادجذبـه ژوندۍ وه، عزت اوحکومت دهغوی په لاسو کې وو، کله چـې پـه هغـوی دعیشـونواو راحتونو هوس غالب شو د ذلت، خـوارۍ، محکومیـت او غلامـۍ داغ دهریهـودي پـه تندي ښکاره او دتل لپاره خوار و ذلیل شول. ((وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ وَبَآؤُواْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللَّهِ))

داسلامي شريعت دلاربنوونو له مخې دعمل په اعتبار دفاعي جهاد په مسـلمانانو هغه وخت د (لازم) نه (الزم) گرځي چې کله دښمن پـه مسـلمانانو يرغـل وکـړي، يعنـې ديرغل په وړاندې دفاع ته اړتيا پيښه شي، خو دعزم او استقلال لـه پلـوه دجهـادحکم تـر کوم خاص وخت محدود نه دی، بلکې په هرحال، هروخت کې پـه (مسـلمانانو) فـرض دی چې دښمنانوڅخه د خپلې دفاع لپاره چمتوالی ولري اوپخپل ټول مـادي او معنـوي ځواک سره دجهادلپاره آماده گې ولري، عظيم الشان قرآن کې اللـه تعـالی پـه صراحـت سره په لاندې مبارک ايت کـې دجهـاد داعـداد، تـدريب او دهغـه دعـزم او طلـب حکـم کړی:

﴿ وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللَّهِ وَعَـدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللَّهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُـوا مِـنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللَّـهِ يُـوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ ﴾.

مولانا شبير احمد عـثماني رحمـه اللـه چـې د خپـل اسـتاد حضرـت شـيخ الهنـد (مولانا محمود الحسن ديوبندي رحمه اللـه) پـه ترجمـه کومـه حاشـيه کښـلې، پکـې د پورته ايت په تفسيرکې ليکلي: په الله تعالی داعتماد او توکل معنی دانه ده چـې مشرـوع او ضروري اسـباب پريښـودل شي، ځکـه پـه مسـلمانانو فـرض ده چـې هغـوی بـه دجهادکولو قدرت لري، وس به لري، توان به لري او ځانونه به ورتـه چمتوکـوي، همـدا راز دجهاد لپاره به اسباب او وسلې پيدا کوي او هروخت به ورته اماده وي.

درسول الله صلی الله عليه وسلم په مبارکه زمانه کې پـه اسـونو سـورلي، تـورې وهل، (نيزه بازي) غشي ويشتل اونورجنگي مشـقونه او تمرينونـه دجهـاد دلوازموڅخـه گڼل کيدل، خو نن سبا په ټوله نړۍ کې د جنگ په اسبابو او وسـائلو کـې لـوی تغيـرات راغـلي، پرمختللـې ټيکنـالوجې منځتـه راغلـې توپونـه، ټانگونـه، شـوبلې، الـوتکې، سمندرې بيړۍ اوبتلونـه او (اتـومي وسـلې) ايجـاد شـوي، مختلـف ډولـه توغنـدي او

رهبرۍ شوي مزائل جوړ شوي او داټول فی الحـال په جنگونـو کـې کـارول کېږي او دمسلمانانو دښمنانوورباندې ځانونه ترژامو مجهـز اومسـلح کـړي نـو پـه اوس وخـت کې همدا پرمختللـې وسـلې دجنگـي لوازمـو څخـه دي، پـه مسـلمانانو فـرض ده چـې ددښمن دمقابلې لپاره يې پيدا، جوړې اوترلاسه کړې او دجنگ پـه ميـدان کـې ورڅخـه دخپلو هيوادونو، ښارونو او ولسونو دفاع لپاره استفاده وکړي، او هم يې جـوړول، پيـدا کول، استعمالول او چلـول، دحـربي اوعصـري فنونـو زده کـول، پـه دې عـلاوه ورزش کول، دوسـلو يـادول، چلـول، نورمختلـف جنگـي تاکتيکونـه پيژنـدل دجهـاد اوحـرب دلوازماتو څخه دي او نه يوازې د اوسنيو جنگي اسـبابو او الاتـو پـه پيرلـو سره شرعـي وجوب اداء کېږي، بلکې دمختلفو پرمختللو وسلو جوړولـو هنرونـه زده کـول او خپلـه وسلې جوړول د پورتني ايت په منشاء کې داخل دي.

مشهور فقهي اصل دی (مَالا يَتِمُ الواجِبُ اِلابِه فهوا واجـبٌ) (الاشـباه والنظـائر ۱ - ۱۳۶مخ، شرح قواعد الفقهيه ۱ - ۳۰۳ق‌خ) پر کـوم څېـز پـورې چـې دواجـب حصـول موقوف وي هغه (څيز) هـم واجـب گرځـي، دمسـلمانانو او ملـت نـه دفـاع واجـب ده. دمسـلمانانو ددفـاع لپـاره وسـلو او اسـبابو تـه ضرور ت دی دمسـلمانانو دښـمن چـې دحملې لپاره کومې وسلې کاروې په مسـلمانانو فـرض ده چـې دوی هـم هغـه وسـلې ترلاسه کړي.

داقتصادي اومالي پلوه د استحکام اړتيا:

رحمان بابا وايي:

د دلبرو صدقې لره يې غواړم

هسې نه چې په دنيا پسې زهير يم!

هرجهادي ځـواک او سـیاسي نظـام دخپلـې بقـاء لپـاره قـوي مـالي او اقتصـادي ملاتړته ضرورت لري، مالي او اقتصادي قـوت د ټـولنې او نظـام پایښـت لپـاره هغـومره حیاتي ارزښت لري لکه انسـاني جسـم تـه یـې چـې وینـه ارزښـت لـري، دهرجسـم پـه رګونو کې چې څـو صـفا وینـه ګـردش ولـري هغـه بـه هـرډول ناروغیوڅخـه خونـدي اوسالم وي، هرکله چې دیوانسان جسم وینـه دلاسـه ورکـړې، یـا پکـې دوینـې نورمـال ګردش له خنډ سره مخ شي او یا په وینه کې میکروبونه سرایـت وکـړې، بیـا هغـه جسـم ناروغ جسم ګڼل کېږي، ډاکټران یې په درملنه تاکید کوي او ډیـرځلي د وینـې ناروغتیـا له امله دیوژوندي جسم کیسه تمامه شي او دکوم انسـان پـه بـدن کـې چـې سـالمه وینـه طبعي ګردش ولري هغه روغ، بدن متصور کېـږي. پـه ورتـه شـکل داقتصـادي او مـالي حالت روغتیا دفرد اوټولنې پر ژوند او بقاء ژورتاثیرات لري، دې اړتیاتـه پـه کتـو اسـلام دخپلو زرینو اصولو په رڼاکې دمـالي چـارو پـه ښـه سـمون او اسـتحکام خـورا زیـات ټینګار لري چـې د ټـولنې دهـیڅ فـرد شخصـيـ مفـاد بایـد دټـولنې اجتماعـي مفـاد سره مزاحم اوټکر نشي بلکې دواړه به له یوبل سره همکار اومعاون وي.

نن سبا نړۍ کې مسلمانان بالعموم او زمـوږ هیـواد وال بالخصـوص د اقتصـادي بیرته پاتیوالی (کمزورۍ) ښکاردي، غربت، فقرو فاقه چې اسـلامي شریعـت ناخوښـه ګرځولې په مسلمانانو او په خاصه توګه زموږ په هیواد کـې زیاتـه ترسـترګوکیږي، حـال داچې رسول الله صلی الله علیه وسلم به دکفر او فقر دواړوڅخه پنـاه غوښـته: (اللهـم اِنی اعوذُبِک مِن الکفرِوالفقر (ابوداودکتاب الادب، باب مـایقولو اذاصـبح (۵۰۹۰) پـه بل حدیث کې راځي چې ځینـي وخـت فقـر یـو سـړی کفرتـه ورسـوي (کـاد الفقـر ان یکون کفرا) بل حدیث دی رسول الله صلی الله علیه وسلم به دفقر دفتنـې لـه شرڅخـه پناه غوښته (مـن شرفتنـة الفقـر) (بخـاري کتـاب الـدعوات بـاب التعـوذمن فتنـة الفقـر [۶۳۷۷] مسلم کتاب الـذکر والـدعاء بـاب التعـوذمن شرالفـتن [۵۸۹] ترمـذی کتـاب الدعوات باب [۳۴۹۳])

هو! اسلام دفقروفاقې له شر نه په پناه غوښتو تنها اکتفا نـه ده کـړې، بلکـې دفقـر دمخنيوي په باره کې يې ګڼ احکام اولا رښووني کـړې، ترټولـو ښـکاره اوعمـده حکـم چې شريعت په ټولنه اوهيوادکې دفقروفاقې دمخنيوي په اړه کړی او نـه يـوائې داسـلام په احکامو کې رائې، بلکې داسلام د اسـاسي ارکانوڅخـه يـو مهـم رکـن، زکـات دی، شريعت وايي [تؤخذُ مِن اغنِيَائِهِم وَ تُردُ عَلی فُقرائهم] زکـات لـه شـتمنو (مسـلمانانو) اخلئ او بيرته يې (دمسلمانانو) په فقراوو وويشئ (بخاري کتـاب الزکـاة، بـاب وجـوب الزکاة [۱۳۳۱])

بـل ځـای ارشـاددی (وفـی امـوالِهم حـقٌ للسـائل والمحـروم) (الـذريات: ۱٦) دمسلمانانو په مالونو کې سائل اومحروم حق لري، علـماء فرمـايې: داحـق دائمـي هـم کيدای شي لکه زکات اونور وجوبي صـدقات شـول، اومـؤقتي هـم چـې دضرورت پـر مهال يې دوخت حکومت دخپلو شتمنو رعاياوو څخه غوښتنه کـولی شي، بـل دوخـت حکومت مکلف دی چې هغه به دفقرو فاقې دله منځه وړلو لپاره، دناروغيو دمخنيـوي او ناپوهيو لري کولو لپاره خپلو عـامو خلکـو تـه اسـانۍ برابـروي، مـالي غوښـتنې يـا مطالبات هغه دي دکومو لپاره چې فقهاوو د (نـوازل يانوائـب) اصـطلاح کـارولې چـې دحکومت اونظام دپاليسۍ په توګـه بـه شـتون لـري او د ځينـوعلماوو پـه نظـر همـدا د (کفالت عامه) اساس دی

بيشکه دروزۍ ذمه وارې الله تعالی اخيستې، اسلامي حکومت يا زعامت دالهـي نيابت له مخې ددې ذمه وارۍ په سرته رسولو مکلف دی، دعظيم الشـان قـرآن او نبـوي احاديثو دهمدې لارښوونو اثروو چې راشدين خلفاء به پخپلوبختـورو دورو کـې ددې زمه واريو دسرتـه رسـولو پـه اړه هروخـت حسـاس او فکرمنـدول، لکـه امـير المـؤمنين حضرت عمرفاروق رضی الله عنه به ويـل: (لومـات جمـل ضـياعاً علـی شـط الفـرات

لخشيت أن يسألني الله عنه) كه دفرات په ساحل يو اوښ هـم مړشـو، ډاريـږم هسـې نـه الله تعالى له ما نه دهغه په اړه پوښتنه وکړي (ابن سعد، الطبقات الكبرى (۳: ۳۰۵)

اسلامي شريعت كې دعامه كفالت لپاره چې كـوم نظـام شـتون لـري، دادرسـول الله صلى الله عليه وسلم په مبارك ژوند كې عملاً پيل شوى و، چې دځـو كلونـو دننـه يې داكيفيت پيدا كړ چې زكات وركونكي به وو، خو زكات... اخسـتونكي بـه نـه وو!! حضرت عمر فاروق رضى الله عنه دځپل ژوند په وروستي وخـت كـې داطـى كـړې وه چې دى به ډير ژرداسې نظام پيلوي چې دهغـه پـه نتيجه كـې بـه دنـادارو او بـې وزلـه خلكو ناداري او بې وزلي له منځه وړې، دقادسـيې لـه فـتح وروسـته نومـوړي پـه يـوه اوږده وينا كې وفرمايل (حتى نستوي الكفـاف) تـردې چـې مـوږ دلومړنيـو ضرورتونـو پوره كول برابركړو، په دې منځ كې دحضرت عمر رضى الله عنه دشهادت واقعـه راغلـه او داكار تكميل نشو.

ددې په رڼا كې علماوو دنظام او حكومت د اصـلي او اسـاسي مسـؤليتونو څخـه يوكفاف هم يادكړى، يعني حاجات اصليه، وږو ته خـواړه وركـول، بـې كـاليو تـه كـالي وركول، اوبې كوره حاجتمنو ته كورونه وركول په كفاف كې رازي، دلته ممكـن يـو چـا سره دا شبه پيداشي چې كمونزم هم ددې يادو شيانو دوركولو دعوه درلوده ايا داپه هغـه پورې اړوند شعار نه دى؟! ښـكاره ده داسـلامي شريعـت فقهاووپـه دې اړه چـې كـوم احكام راويستلي په هغوكې تنهـا دغـه څـو پـه شـمارځيزونه، نـه رازي، بلكـې روغتيـا، تعليم، امنيت، عدل او يو متاهلانه ژونـد برابـرول هـم پـه حاجـاتِ اصـليه كـې راځـي، همدا وجه وه چې اسلامي خلفاوو په ځلونـو دبـې وزلانـو او غريبـانو لپـاره دمتاهلانـه ژوند او نكاح برابرولو لپاره لګښتونه دبيت المال څخه وركول او حضرت عمـربن عبـد العزيزرحمه الله خو به هركال، دكال په پاى كـې فرمـان صـادركړ چـې بيـت المـال كـې څومره مالونه او اسباب دمصارفوڅخه سـيوا شـوي هغـه ټـول دځوانانوهلكـانواوځوانو

انجونو په ودونو ولګوئ! په راتلونکي کال کې بيت المال څخه هغـه تـه اطـلاع ورکـړل شوه چې په ودونو دلګښتونوسربيره بيا هم په بيت المـال کـې مـال پاتـه دی، پـه اړه يـې څه وکـړو؟ حکـم يـې وکـړ څـومره نامسـلمان ځوانـان هلکـان او نامسـلمانې ځـوانې انجونې چـې بـې ودوپاتـه دي دهغـوی دودونـو لپـاره لګښـتونه ورکـړئ، ددينـه پخپلـه دانتيجه ترلاسه کيږي چې دحاجات اصليه پـوره کولـو پـه اړه اسـلام څـومره متوجـه او تينګارلري؟

د بې وزلو مسلمانانو داصلي حوايجـو پـوره کـول د امـت پـه ذمـه (واجـب علـی الکفايه) دي، حکومت دعامة الناس له لوري وکيل دی، اوعام خلک يـې مـؤکلين دي، دمؤکلينو دطرف نه يې دوکيل په حيث اداء کوي او ابن حزم تردې ويـلي: کـه حکومـت او نظام دخلکو يادې اړتياوې نه پوره کولې او خلک دفقرنه دې حالت تـه رسـيدلې وو چې هغوی سره دسراو تن پټولو اودخيتې مړه ولو لپاره څه نه وو، هغوی حق لـري چـې پورتـه شي او واک پخپلـو لاسـو کـې واخـلي، داقتصـادي اړتيـاوو پـوره کولـو لـومړۍ درجې ته (کفاف) ويل کيږي، يعنـې هغـه لازمـي اوضروري اړتيـاوې چـې دهغـو پرتـه انسان ژوند نشي کولی دوخت په حکومت يې پوره کـول لازم دي، کفـاف نـه وروسـته درجه د (ضرورياتو) ده، هغه ضروريات چې نوعيت يې دلازمـي او دايمـي ضرورتونـو دی يعنې دايمي هم وې اولازمي هم؛ لکه لباس دانسـان دايمـي ضرور ت دی؛ دا سـې نه چې نن ورته يو انسان ضرورت لري او تا هغه تـه ورکـړ! نـور ټـول عمربـه بيـا د هغـه لباس ته ضرورت نه راځي!، دهغه نـه وروسـته د (حاجيـاتو) درجـه ده، حاجيـات هغـه دي چې لازمي وي، خو لزوم يې دضرورياتو په مقابل کې کم وې عمومـاً دائيمـي وي خوځيني وخت غير دائيمي هم کيدای شي ددې وروسـته درجـه د (تکميليـاتو) راځـي ددې حيثيت اضافي دی يعنې دا لامتناهي ده منتها نه لـري هرسـړی غـواړي چـې دهغـه حالت بهتر نه بهتروای، ليکن دشريعت مزاج دادی چې واکمن يا حکومـت بـه دکفـاف او ضرورياتو ترحده خپل اسباب او وسائل لګوي او دحاجياتو لپاره بـه حکومـت هغـه

وخت وسائل مصرفوي چې پريمانه وسـائل پـه لاس کـې ولـري، او هرچـې تکميليـاتو درجه ده چون لامتناهي ده کـه کنـترول نشيـ نـو دارجحـان بـه دعـيش وعشرـت رنـګ واخلي رسول الله صلى الله عليه وسـلم فرمـايلي: (لوکـان لابـن ادم وادِيـانِ مِـن ذَهَـبٍ لابتغى ثالثاً (بخاري کتاب الرقاق باب مايتقى مـن فتنـة المـال [٦٤٣٩] ترمـذي کتـاب الذهد) که يـو سـړی د سرو (زرو) دوه ډکـې وادۍ ولـري بيـا بـه هـم هغـه د دريمـې پـه تلاش پسې سرګردان وي عظيم الشان قرآن وايي: وانّه لِحُـبِ الخَيـرِ لَشـديد (العاديـات: ٨) انسان دمال پـه محبـت کـې سـخت دی، واُحضَرَتِ الاَ نفُسُ الشُح بخـل او دمـال محبت انسان کې ايښودل شوی، ددې لپـاره شريعـت دتکميليـاتو درجـه کـې داعتـدال رويې خپلولو حکم کوي اوشريعت ددې لپاره داستغناء تعليم هـم ورکـړی او دقناعـت او زهد هم؛ څو دتکميلياتو درجه کې له حدودوڅخه بهر څوک ونـه وځـي هـو! کـه بيـا هم دکفاف، ضرورياتو او حاجياتو پوره کولو وروسته دحکومـت سره پريمانـه وسـائل وو اوپه تکميلياتويې خرڅ کړي باک نه لري.

دلته غواړم يو بل څه ته هم اشاره وکړم هغـه داچـې اسـلام دمـالي پلـوه دانسـانانو ترمنځ مساوات من کل الوجوه ردوي؛ يعنې دمسـلکي پلـوه دانسـانانو تـرمنځ مسـاوات غير فطري دی؛ او همدا راز يومخ بې تحاشا عدم مساوات هم غير فطري دی!!

او اسلام د دواړو سره په ټکـر کـې دی، ځکـه اللـه تعـالى دانسـانانو تـرمنځ فـرق ايښی دانسانانو صلاحيتونه غير متساوي، کړه وړه يې غير متساوي، عادتونه اومزاجونـه يې غيرمتساوي، په دې وجه دهر انسان د پيداوار، محنت او وزيار نتـايج هـم ديوبـل نـه مختلف او متفاوت وي، همداوجه ده چې دپيداوار متساوي او جـبري تقسـيم هـم غيـر فطري دی؛ په ګڼو نصوصوکې درزق دکمي اوزياتوالي ذکرشوی او هم پکـې دعمـل او کاردکمي او زياتي يادونه شـوې، داهغـه تصـورات دي چـې داسـلام اقتصـادي نظـام د کمونيزم څخه جلا کوي؛ ځکه کمونيزم دغيرفطـري مسـاوات علمـبردار دی؛ او اسـلام

دفطري مساوات علمبردار دی؛ دي نازک توپیر ته پام لرل ضروري دی، د نیکه مرغه دیني علماوو په دې اړه ښه مفصل اوعالمانه بحثونه او مضامین لیکلي او داسلام منځلاری اقتصادي نظام یې دپانګوال او اشتراکیت دواړو په مقابل کې وړاندې کړی چې په اړه یې دلته نورتفصیل ګنجایش نه لري.

حاصل دادی چې داسلام مبارک دین د مسلمانانو د ټولنې څخه دغربت او دفقرو فاقې ختمو لپاره کیمیاوې نسخې ښودلې یواځې دعشرو زکات په نسخه کې یې چې څومره عجیب تاثیر شته، په سبب یې دڅوکلونو په لنډه موده کې دغربت په له منځه وړلوکې مثبت تاثیرات ښکاره کولی شي په دې شرط چې په مؤثره توګه یې دنفاذ هڅې وشي اوپه دې باب قطعي پریکړې اوګامونه پورته شي.

هدف دادی چې داقتصادي اومالي قوت حصول دنظامونوپه چلولو کې حیاتي رول لري اسلامي امارت باید داقتصادې ودې او پرمختیا لپاره یوجامع نظام او تګلاره ولري او ددې پرته هیڅ سیاسي نظام او جهادي صف پایښت نه لري.

نړیوالې اړیکې!

دنړیوالو اړیکو په لړ کې دې اسلامي امارت د نړیوالو سره د سیاسي، دفاعي، اقتصادي او تعلیمي اړیکو جوړولو په برخو کې خپل پام ډیرکړي، دنړیوالوله تجربواو دهغوی دصنعتي اوساینسي علومونه د مثبتې ګټې او استفادې لپاره دې پلانونه طرحه کړي، دمسلمانانو ترمنځ دوحدت او اتحاد لپاره دې خپل رول اوکردارولوبوي، داسلامي هیوادونو ترمنځ دمشترک سوداګریز مارکیټ رامنځته کولو اوهم دمسلمانانو ترمنځ دمشتر ک پوځ او مشترکې کرنسۍ ایډیا دې وړاندې کړي.

په نړیوالو قضایاوو کې دمسلمانانو دمشترک دریځ وړاندې کولو لپاره د اسلامي کانفرانس یابل مؤثر فورم فعال ساتل دوخت مهم ضرور ت دی، څو هرځای چې

مسـلمانان دظلمونـو او سـتمونو لانـدې دي دهغـوی دنجـات لپـاره هلـې ځـلي رنـګ راوړي.

لويديځ سره اړيکې:

دنولسمې پيړۍ منځ کې اسلامي نړۍ دنازک اوپېچلي حالت سره مخ شـوه، هغـه حالت د جديد، مادي او صنعتي مغـربي تهـذيب انقـلاب و؛ کـوم چـې دبشرـي تـاريخ ترټولو ځواکمن، فعال اولـوی مـادي تهـذيب ګڼـل کېـږي، ددې تهـذ يـب پـه اړه قـاطع دريځ اويا غوڅه رايه غوره کول که څه هم اسـان کارنـه دی! ځکـه پـه يـاد تهـذيب کـې دلويو نيمګړتياوو، خاميو او بېلاريو سربيره ځيني مفيد اجزاء هم شته چـې دهغونـه پـه سالمه او صالحه توګه استفاده به اسلام او نړۍ ته نيکمرغـه پـايلې ولـري اوبـل دمغـرب دتجربوي، ساينسي او صنعتي پرمختياوونه مسلمانانو ته مفيـده اسـتفاده کـول بـه کـوم شرعي قباحت يامممانعت هم ونلري.

تردې مهاله دمغربي تهـذيب پـه اړه د اسـلامې نـړۍ دننـه درې ډولـه تصـورات يـا دريځونـه شـتون لـري يوتصـور او دريـځ منفـي او سـلبي دی چـې اسـلامي نـړۍ دي دمغرب دټولو نتايجو اوفوايدوڅخه دانکار په دريځ ودريږي او دهغه نـه ښـې اونـه بـدې خبرې ته دي غوږ نيسي او آن دهغو ټولو علومو اوفنونو دقبلولو څخـه دي انکـاروکړي په کومو کې چې مغرب تفوق اوبرتري لري او دنويو طبعي علومو اوټيکنـالوجۍ څخـه استفاده کول دې ځان لپاره حرامـه او شـجره ممنوعـه وګرځـوي اوهمـداراز دې دنويـو ماشيني آلاتو، اسبابو اوتوکوله استعماله يومخ اجتناب وکړي.

دېورتنۍ رويې په اړه د اسـلام مفکـر او ثقـه عـالم مولانـا سـيد ابوالحسـن علـی ندويرحمه الله ليکي: «

که دنړۍ هر هيواد ددې لپاره خپل غوږونـه بنـد اوسـترګې پټـې کـړې چـې پـه دې سره به ځان دنوي تهذيب له قوي ننګونو وژغـوري، يابـه يـې يـومخ ردکـړي اودخپلـې

محدودې نړۍ څخه بیرون قدم اېښودو ته آماده نشي، دغه هیواد به ترډېره وخته په معتدل اوډاډمن حالت کې پاته نشي، هغه به دپرلپسې بغاوتونواوانقلابونو سره لاس اوګریوان وي، په مختلفو کونجونو او برخو کې به یې دنافرمانۍ اومخالفت تحریکونه روان وي، ځکه دغه رویه یادریځ دهغه بشري فطرت نه سرغړونه ده، کوم چې تل دوراندې تلو په لور ګوري او کوم چې دهرنوي څېز طلب ګار اوخریدار اوپه رګونوکې یې هروخت دعزت، سرلوړۍ، قوت، ځواک، تجدد اواحیاءمېنه په څپوده».

دوهم دریځ دمغربي تهذیب په وړاندې دتسلیمۍ او شکست منلو دریځ دی، ددې دریځ پلویان دمغرب په مادي او اقتصادي اصولو د ایمان تربریده باور لري، دا په لومړي ځل ترکیه کې اتاترک تجربه کړ، هغه د اسلام او ایمان څخه هم ور تیر شو اود مغربي تهذیب په قالبونوکې یې دجدیدې ترکیې دجوړولو ناکامه ایډیا وړاندې کړه، لیکن دادریځ دخپل سیکولرشناخت په وجه دسخت غبرګون سره مخ شو او په نتیجه کې په ناکامۍ منتج شواوهیڅ مثبت برې یې ترلاسه نه کړ، نن هلته داتاترک دالحادي مفکوري او نظام نه د شدید بغاوت څپې په غورځنګ دي او سیکولرستان د تاریخي ناکامۍ سره مواجه دي، ځکه دا دریځ داسلامي نړۍ د عامه مزاج او حالاتو سره سمون نه لري او مسلمانان ترې کرکه اونفرت لري او په ځینو هیوادونوکې (لکه ترکیه اومصر) مسلمانان یې په وجه د خپلو ملي او دیني ارزښتونو څخه محروم شول حال داچې خپلواک هیوادونه او ازاد قومونه په هیڅ صورت دخپلو ملي اودیني ارزښتونوڅخه محرومیت نشي زغملی او دا کار دخپل ملي او جتماعي مرګ سره مترادف عمل ورته ښکاري، په دې وجه دا دریځ چې دکوم هوښیار او شعور لرونکي تفکر زېږنده نه و، ناکام او روسوا شو.

دریم دریځ یا رایه داده چې دمغربي تهذیب اوتمدن څخه دخطرمطلب دانه دی چې د هغه له ځینو اسانتیاوو، د ساینس اوټیکنالوجۍ دایجاداتو اوتفریحي وسائلو

ځخه استفاده دي مطلقاً حرام وګڼل شي او يومخ دي دهغه په لور خپلـې دروازې وتـړل شي، حال داچې اسلام دوسيع ذهن څښتن دين دی، هغـه دهـر صـالح اومفيـدتوکي نـه داستفادې په اړه دبينا سترګو اولوی زړه مالک دی خو په دې معامله کې دمغربي تمـدن مفهوم دآلاتو، ايجاداتو او دژوندانه دمفيدو تجربونه پر استفادې سربيره پر نـورو پراخـو معانيو هم مشتمل دی! هغه افکار او اقـدار هـم پکـې شـته چـې دهغـو منـل داسـلامي طهار ت اونظافت دمعيارونو او اعتدال دروحـه بيګانـه دي دشريعـت پـه آدابـو اونبـوي سنتوباندې دعمل کولو په وړاندې خنـډګرځي، اودهغـه اسـلامي ژونـد ځخـه مسـلمان لري باسي دکوم نمونه چې داللـه تعـالی اسـتازي. او دهغـه ملګـرو او ربښـتينو متبعينـو نړۍ ته وړاندې کړې ده.

هو! داسلامي نړۍ ترټولو لويه خلايا نيمګړتيا ديوحوصله مند او مدبرقايـد فقـدان دی. چې هغه په جرئت، اعتماد اويقين سره پورتـه شي مغـربي تهـذيب چلينـج کـړي او دهغه دمختلفوقالبونو اود مختلفو فکري مکاتبو تر منځ منځلاره ولټوي، دغـه کامـل او دجـوهري شخصـيت نـه بـرخمن قايـد کـولی شي، مسـلمانانوته يـوه داسـې مـنځلار ه وباسي چې په هغه کې يـو لورتـه هغـه ايـمان (چـې محـض دنبـوت فـيض دی) شـتون ولري، هغه دين (چې الله تعالی درسول الله صلی الله عليه وسـلم پـه واسـطه اسـلامي امت ته ښښلی) پکې شتون ولري اوبل پلوته پکې هغه علـم (چـې دکـوم خـاص هيـواد، ياقوم يا زمانې پورې مخصوص نه دی) شـتون ولـري او ترڅنـګ يـې دمغربـی تهـذيب هغه وسائل اوآلات هم ترلاسه کړې کـوم چـې داوږده علمـي زيـار او محنـت وروسـته يې حاصل کړي ليکن دايمان او نيکومقاصدو دفقدان په وجه يې هغـه دصـحيح فايـدې پر ځای دبشريت پر ضد کاروي.

زه ډاډه يـم کـه داسـلامي امـارت قيـادت دغـه نيمګړتيـا اوخـلا ډکولـو تـه متـې راونغاړي اوپه مجتهدانه بصيرت دهيواد او ولس لپاره يوه داسې منځلاره راوباسي چې

د ایمان اودیني اصولو په رڼاکې د هغه علم نه (چې د کوم خـاص هیـواد، قـوم اوزمـانې پورې خاص نه دی) د استفادې دریځ په غوره کولو دخپل هیواد دمادي پرمختـګ لپـاره صالح مقاصد تعین کړي دابه یې ددې پیړۍ دیوې لویې خلا ډکولو پـه اړه خپلـه مـلي او شرعي وجیبه په سمه توګه اداء او سرته رسولې وې.

هو! مغرب دي د خپل امام او رهبر په حیث نه مني او نه دي ځان دهغـه شـاګرد او مقلد ګرځوي، بلکي هغه دي یو معاصررقیب، سیال او دسفر هغه ملګرى وبـولي چـې دخاصوحالاتو په وجه یې په ځینو مادي او اقتصادي برخوکې پرمختـګ کـړى او پـه دې انګیرنه که دځینو توکولپاره مسلمانان مغرب ته اړدي په ورته توګـه پـه نوروګڼـو مـواردو کـې مغـرب هـم مسـلمانانو تـه محتـاج دى، امیـد دى پـه دې احسـاس او برداشـت بـه اسلامي امارت د خپلو ملي فرایضو او دیني مسـؤلیتونوپه ادارک سره د وخـت او زمـاني ظروفو او شرایطو ته په کتو خپل ملت اوهیوادته د مثبت پرمختـګ یوښـه جهـت ټـاکلى وي او دزوریدلو افغانانود ځلوینبت کلنې غمیزې دناخوالو جبران به یې دافغانستان پـه رښتینې صنعتي او اقتصادي ښیرازۍ سره کړى وي.

دپوهنې په میدان کې دخدمتونو اړتیا

اسلام او عظیم الشان قرآن چې دعلم داشاعت څـومره تلقـین کـړى دى بـل هـیڅ دین یا کتاب نه دى کړى، داسلامي نظام اساس په دوه معنوي بنسټونو اینښـودل شـوى، یو عدل اوبل علم؛ داسلامي ټـولنې خـاص امتیـاز یـا نښـه دا ده چـې هغـه دعلـم، هـنر اوپوهې دپراختیا زانګوپاتې شـوې، هرڅـومره چـې پـه یـو هیـواد یاټولنـه کـې علـم وده مومي اوخلک یې دعلم په زیور ښایسته کېږي هـومره هغـه هیـواد تـه ثبـات، اسـتقرار، خوشالې او سوکالې وردرومي او اجتماعي ناخوالې تري کډې بـاروي، ددې وجـې نـه هـر اسـلامي حکومـت مسؤلیت لـري چـې هغـه بـه دعلـم دپراختیـا او اشـاعت لپـاره اسانتیاوې برابروي، په دې کې ددیني علومو ترڅنګ ددنیاوي مهارتونـه حاصـلول هـم

راځي چې دوخت مسلمانان او حکومت چې په کومو برخو کې مهـارتونو تـه ضرورت ولري. فقهاوو ليکلي: اسلامي حکومت به دهغو ټولو مهارتونو لرونکـي خلـک روزي چې داسلامي ملت لپاره يې روزل ضروري وي، تردې پورې چې ديوشـمير مهـارتونو حاصلول په مسلمانانو فرض کفايې دي درسول الله صلى الله عليـه وسـلم ارشـاددی: (من صنع منكم شيأً فليحسنهُ) له تاسو نه کوم تن کـه يوڅيزجـوړکړي، هغـه دې پـه ښـه توګـه مکمـل کـړې، دلتـه دصـنعت لفـظ راغلـی دی، نـن ورځ چـې دصـنعتي علومـو حصول څومره اهميت لـري اويـا مسـلمانان ور تـه څـومره ضرورت لـري پـټ نـه دي، درسول الله صلى الله عليه وسلم دا حکم چې: (صنعت غوره نه غوره جوړوئ او ښـه کوښښ پکې کوئ)، موجوده ټول کوښښونه، او مهارتونه دتعريـف وړدي کـه يوسـړی خپل صنعت په دې وجه ښـکلی او ښـه جـوړ کـړې چـې رسـول اللـه صـلى اللـه عليـه وسلم يې په ښه توګه دجوړولو حکم کړی نودا په عبادت کې شمارل کيږي.

امارت بايد ديوجامع پـلان لـه مخـي لاس پـه کـار شي اود دينـي علومـو ترڅنـګ دنوې پرمختللې ټيکنالوجۍ اوصنعتي علومـو اوفنونـو حاصـلولولپاره دې هـم عمـلي ګامونه واخلي او هم دې پکې تجربه کاراو مسـلکي ټيمونـه وروزي څـو مسـتقبل کـې هغوی دهيواد تعليمي چارې دنويو عصري غوښـتنو او ميتودونـو سره تنظـيم اوپـرمخ يوسي.

دنارينه وو ترڅنګ دميرمنـو دزده کـړو پـه بـاب هـم دشريعـت داخلاقـي او دينـی لارښوونو پام کې نيولو سره جـامع ميکـانزم ترتيبـول دوخـت اوحـالاتو اړتيـا ده، ځکـه دژوند په ځينـو مهموبرخـو کـې لکـه طـب او تعلـيم وتربيـه کـې دميرمنـو دضرورت او اهميت څخه انکار ناشونی دی، هرچې دشريعت مـزاج دی څنـګ چـې د نارينـه لپـاره دعلم حصول لازم بولي همداسې يې د ميرمنو لپاره هـم حصـول لازم بـولي، دپـردې او حجاب اسانتياوې برابر ول دنظام مسؤليت دی، بايد ورته برابرې يې کړې، تردې پـورې

چې نه یوازې موږ په دې اړه په خیر القرون کې ځینې مثالونه مومو، بلکې پخپله درسول الله صلی الله علیه وسلم په مبارکه زمانه کې دمیرمنو نه رایې پوښتل او هغوی په کار گومارلو مثال مو نومیالي محقق عالم دوکتور محمد حمید الله دابن حجر په حواله لیکلی: رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه میرمن (شفاء بنت عبد الله) چې دحضرت عمررضی الله عنه دخپلوانو څخه وه اوپه لیک لوست پوهیده، دمدینې منورې ښار کې په څه دنده گومارلې وه او ورته یې یوداسې کار سپارلی و چې هغه دلیک لوست سره تعلق درلود، چې دا دمیرمنو دتعلیم او زده کړو په اړه داسلام دمزاج ښکارندوي کوي، نو په دې توگه دنارینه وو ترڅنگ دمیرمنو دتعلیم په اړه هم یو جامع میکانزم ترتیبول چې هغه کې اسلامي احکامو او افغاني عنعناتو ته درناوی شوی وي ضروري او دامارت د عمده مسؤلیتونو څخه دی.

دفرهنگي او مطبوعاتي محاذ دلاتقویت اړتیا

موجوده دور دساینسيـ ارتقاء او دمیډیا، صحافت اوژورنالیزم دحیرانوونکو پرمختیاوو عصر دی، نن سبا نړۍ کې هیڅ خوځښت یا جریان دمیډیا، صحافت اوژورنالیزم ته دارتیا څخه مستغني نه دی، په دې وجه دمیډیا اهمیت او ضرورت مسلم دی، دکوتاه نظر خاوندانوته دمیډیااو صحافت په محاذ کې خدمت معمولي شغل اومصروفیت بریښي، خوپه حقیقت کې میډیا غیرمعمولي (قوي) تاثیر او کردار لري اونن ورځ خو توپان خیز تاثیر یې اکثره وخت په قیامت خیز تاثیر او تغیر هم بدلیږي.

دنړۍ کوم هیوادونه یا قومونه چې دمیډیا د اهمیت ادراک لري، هغوی که څو هم دشمیر دپلوه کم دي، خو دتاثیر دپلوه په ټوله نړۍ هغوی راج چلوي، ښکاره مثال یې دیهودو دی، هغوی دعیسویانو، مسلمانانو، هندوانو او بودایانو څخه په شمیر کې ډیر کم دي، لیکن داثرو رسوخ دپلوه دلویو لویو ادیانو منونکو سره برابردي، ددې

ترشاه مختلف اسـباب او وجوهـات شـتون لـري، خويـو كـاري سـبب يـې دادی چـې هغـوی نړيوالـه ميـډيا پـه لاس كـې لـري او داداسـې نـه ده چـې (كيـف مـاتفق) هغـوی دنړيوالې ميډيا څښـتنان گرځيـدلي، بلكـې ددې لپـاره هغـوی پـه مختلفـو وختونـوكې پلانونه تيارکړې اوبيا يې په هغـو دمسلسـل عمـل پـه نتيجـه كـې د ميـډيا واگـې ترلاسـه کړې دي، له نن څخه نيږدې يوسـل دوه ويشـت كالـه وړانـدې پـه ۱۸۹۸ زكـې هغـوی فيصله کړې وه كه غواړو چې موږ يهودان په ټوله نړۍ باندې دغلبـې منـدلو لپـاره دسرو زرو زخايرپه لاس كې ولرو او ورته د اساسي اهميت په نظـر گـورو نـودابلاغ زرايـع او رسنۍ هم زموږ دمقاصدو دحصول لپاره دوهم اساسي اهميت لري، مـوږ بايـد دميـډيا په سركش اس سپاره شو او واگې يې پخپلو لاسو كې وساتو، مـوږ خپلـو دښـمنانو تـه يوه مؤثره ورځپاڼه په لاس نه وركوو چې هغوی ترې دخپلې لارې، پخپله رايـه او مـؤثره سـليقه او طريقـه نشـرات وكـړي اونـه مـوږ بايـد هغـوی ددې وړوگرځـوو چـې زمـوږ دسانسور اوڅارنې پرته دي دهغوی يو خبر نړۍ ته ورسيږي، دهغـوی دغـه پـلان د۱۹ يهودي پروتوكولو نو په شكل كې دنړيوالو په وړاندې راغلي او نن هم شته.

يهودانو په نړۍ باندې دغلبې مندلو لپاره پخپله ټاكلې ستراتيژۍ باندې دعمـل پـه برخه كې ډيرتركيز دميډيا په هغه برخه کړی دی، چې هغه دقومونو پـه ځوانـانو اوزلميـو پورې اړه لري، څو دقومو نو څخه دهغوی اصـلي پانگـه غـلا كـړې، دهغـوی تعميـري صلاحيتونه مفلوج کړې، دځوان كهـول توامنـدې تخريـب كـړې، ددې لپـاره هغـوی پـه ورځپاڼو اوپه مجلوسربيره نړيـوال خـبري اژانسـونه هـم جـوړکړي، ځكـه دا هغـه لويـه زريعه ده چې دهغو نه دخپلې گټې لپاره كار اخـلي، دنړيوالـو خـبري اژانسـونو دلارې يهودان زموږ ماغزه او زړونه وينځي، فلمونه چې هم دميډيا پورې تړلې برخه ده، دهغو دلارې مسلسل دمسلمانانو ځوان نسل بې لارې كوي او دهغـوی زړونـو او ذهنونـو تـه خپل افكار او خيالات رسوي څو هغوی ديهودو په اشارو كار وكړي او دهغوی ذهنـي غلامان وگرځي او هغـوی يـواځي د دوه سـاعته فلـم دلارې زمـوږ دځـوان نسـل عقـل

مفلوج او کرداريې مسخ کولی شي دکوم په جوړولـو چـې دهغـوی اسـتادانو کلونـه او میاشتې تیرې کړې دي.

دچاپې میډیا سحر انگیزتاثیر ته په پام یهودانوته همدا دومره گران او اهمیـت لـري چې دیهودو یـوه یـوه ټولنـه یـا یـوه، یـوه اداره پنځـوس پنځـوس ورځپـاڼې اواوونیـزې چاپوي، مثلا نیوزهاوس دیهودانوخپروندویـه کمپنـۍ ده ۲۶ورځپـاڼې او۲۴ اوونیـزې چاپوي.

اوس مهال په نړۍ کې دمیډیا پنځه لويې ادارې (یافورم) شـتون لـري، ددې پنځـو واړو مشران، مسؤلان، مدیران اومنیجران یهـودان دي، (والـټ ډزني) پـه لـومړۍ درجـه کې راځـي، ددې ټـول مشـــران، پروډیـوسران، منیجـران او مسـؤل مـدیران یهـودان دي، دوهمه لویه کمپنې (ټائم وارنر) ده پـه دې کـې ټـول واړه اوغـټ کارمنـدان یهـودان دي، (وایا کام پیراماونټ) دنړۍ درېیم لوی میډیايي گـروپ دی پـه دې کـې هـم ټولـه عملـه یهودان دي، (نیوز کارپوریشن) پـه نـړۍ کـې دمیـډیا څلورمـه لویـه کمپنـې ده، پـه دې کمپنۍ کـې دیهودانوپرتـه بـل چاتـه دنـدې نـه ورکـول کیـږي، پـنځم دجاپـان (سـوني) کمپنۍ ده: که څه هم په دې کې دعملـې ډیـره برخـه دجاپانیـانو ده خـو یهـودان پخپـل ټول زور سره دهغې دخریدارۍ کوښښ کوي.

میډیا سره دیهودو دعلاقمندۍ یوه بله بېلگه داده چې اوس په جاپان کـې دوه زره یهودان میشت دي، په هغوی کې زرتنه هغه یهودان دي چې هغوی په یونـه یوشـکل تـر میډیا پورې تړلې دي، داټولې کمپنۍ په اتفاق سره په دې کار کې لگیـادي چـې هغـوی پخپلو لفظونـو کـې کـوم څـه تـه د خپلـې غلبـې نـوم ورکـوي (هغـه دزمکـې دمـخ نـه دمسـلمانانو نیسـت ونـابود) کولـوعزم گڼـي، داتعبیرخـومره پرځـای دی؟ ددې لپـاره دیهودانو داوسنیو اوپخوانیو سازشونو ادراک کافي دی.

راڅم دیته اسلامي امارت چې په کوم جهت اوپه کوم استقامت لـه تیـرو شـاوخوا ۲۵کلو نه کار کوي، اوپه څومره جرئت، صبر اوحوصله مندی سره یې تردامهالـه خپلـه مبارزه جارې ساتلې، اړتیا ده چې دمیډیا چټک محاذ ته پام نورهم ډیرکړي، او ددښـمن ددسیسو او عزایمو شنډولو او خنثی کولولپاره له میډیاڅخـه دمـؤثرې عصـرې وسـلې کارواخلي، او د دې مهم محاذ لپاره باحوصله، باتدبیره، زیرک او هوښـیار اسـتعدادونه غوره کړې، او هم ورباندې دمادي اومالي پلوه بیدریغه پانگونه وکړي.

نن سبا میډیا درې لویې برخې یا میدانونه لري، یومهم ډگـر دچـاپي میـډیا میـدان دی، که څه هم دادمیډیا ترټولو قدیم اوپخوانی ډگردی، خو نړۍ کې یـې خپـل ارزښـت لا تراوسه په ځای ساتلی دی او نړۍ کې دگڼو ساینسي تغیراتو رامنځتـه کیـدو وروسـته هم چاپي میـډیا اهمیـت اومؤثریـت پخپـل حـال پاتـه دی او هـره ورځ پـه نـړۍ کـې پـه لکونو ورځپانې، مجلې، اوونیزې، خبرې او تبلیغاتي پاڼې له چاپه وځي او په ملیونونـو انسانان هغه لولي.

دوهم محاذ دبرښنایي میډیا دی دا هم دمیډیا تود میدان دی، نړۍ کـې د یـوسر نـه تربله په لکونو راډیوگانې او تلویزونونه چې غومبر وهي اوټوله نـړۍ یـې پـه سراخسـتې دا دبرښنایي میډیا میدان دی اوتري هرڅوک دخپلې گټې لپاره بیدریغـه تبلیغـات کـوي او دخپلو دښمنانو پر ضدتري پروپاگند کوي.

دریـم محـاذ دخوالـه رسـنیو دی کـوم چـې دسرعـت لـه پلـوه دتبلیغـاتو رسـولو اونشرولو ترټولو اسانه، ارزانه اولنډه وسیله ده، او داسې وسـیله ده چـې ورتـه پـه اسـانه لاس رسی کیږي، نړۍ کې دمعلوماتو دتبادلې او دمعلومـاتو ترلاسـه کولـو یـوه مهمـه زریعه ده، نن په ملیونونو خلک نـړۍ کـې لـه دې لارې خبرونـه ترلاسـه کـوي، دخپلـو مخالفانو پرضد یې دپروپاگند لپاره کاروي او دخپلې خوښـې اوطبعـي سره سـم پکـې دتبلیغ او دعوت چارې پرمخ وړې، هرچا پکـې دخپـل فکـر ددعـوت لپـاره بسـته ډلـې

اوګروپونـه پـه کـار ګومـارلي، اسـلامي امـارت چـې پـه يـادو دريـوارو محـاذونو کـې مؤثرشتون لري او دخپلـې روانـې مبـارزې نـه ددفـاع کـار تـري اخـلي او هـم پـه دې د ريوارووبرخو کې فعال او متحرک ټيمونه لري، بيا هم داسلامي امـارت جـامع مسـؤليت ته په پام نور کارتـه هـم اړتياشـته او دغـه پيـاوړی اومـؤثر سـنګر لاتقويـه او مجهزکـول پکاردي، نوي ځوان او تجربه کار اسـتعدادونه بايـدوروزي، هغـه ځوانـان چـې پـه دې ميدان کې په کار ګومارل شوې بايد دهغـوی دتطهيـر ذهـن لپـاره تربيـوي پروګرامونـو اوسيمنارونو جوړولو لړۍ پيل شي، دهغوی ذهنونـه داسـلام، افغانسـتان او مسـلمانانو دمصالحو په مفکوروي موادو تعميرول ضروري دي، بل فرهنګي چارو کميسـيون دي دخواله رسنيو دکارکونکو لپاره خامخا اخلاقـي مقـررات وټـاکي ځکـه دخوالـه رسـنيو اکثرمبارزين اخلاقي معيارونه نه رعـايتوي، پـه سپکوسـپورو او چټيـاتو دخپـل خصـم چوپ کولو کوښښ کوي چون اسلامي امارت يـو متعهـد او دينـي مسـير دی، اړتيـاده چې دخواله رسنيو سرکش اوبې واګواس ته داخلاقي واګوپـه اچولـو سره خپـل دخوالـه رسنيو شهسواران دفکري او اخلاقي تيندکونو وژغوري.

د يوه نړۍ هيلو په بدرګه...


دکتاب له متن څخه

... که موږ داسلامي امارت په نوم نظام او سیستم نه درلودلی، نه به مو له ګران هیواد څخه دشر او فساد کمبله ټوله کړې وای او نه به مو هم دیرغل ږر ضد مبارزه پیل او تر دې حالته رارسولې وای. دا د نظام برکت دی چې زموږ مبارزه یې له افراط او تفریطه ساتلې ده. نظام زموږ مبارزې ته جامعیت او قوت ورکړی او داهم دنظام له امله ده چې دښمن مو په نظامي ډګر کې پرګوندېو کړ او د ستونزې سیاسي حل ته تیار شو.

د بې نظامه او متعددو ډلو دمبارزې معکوسه نتیجه مو سوریه، عراق او لیبیا کې مخته پرته ده، څومره لوی او مهم چانسونه او فرصتونه یې په اسانه له لاسه ورکړل!.


نو بناء زموږ وجیبه ده چې اسلامي امارت وساتو او دلا قوت او استحکام لپاره یې هر اړخیزه مبارزه او هلې ځلې وکړو.

دکال په جریان کې نور چاپ شوي آثار









د افغانستان اسلامي امارت
د فرهنګي چارو کمېسیون
د تالیف او ترجمې څانګه